د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز مطالعات منطقه‌یی

# سیمه ییز مطالعات

## فصلنامۀ مـرکز مطالعات منطقه‌یی افغانستان



# ۱-۲


- دوره: اول
- سال: ۱۴۰۳ هـ.ش
- ربع: ۱ - ۲
- شماره مسلسل: ۷۲ -۷۳
- سال تأسیس: ۱۳۸۵ هـ.ش
- کابل - افغانستان


پـه دې ګڼه کې:

- از اورنبورگ تا بخارا
- د تاجکستان او سعودي عربستان فرهنګي اړیکې
- د ګالوان له پېښې وروسته، د هند او چین د پولې...
- د واګنر ډلې پېژندنه او د روسیې حکومت...
- افغانستان ته د سیمه ییزې پانګونې د جذب...

او...


سیمه ییز مطالعات
شماره: ۷۲- ۷۳ ، سال ۱۴۰۳ هـ.ش


# REGIONAL STUDIES
## Quarterly Journal


Establishment: 2006
Academic Publication
Afghanistan Science Academy
Serial No: 72-73



Address:
Afghanistan Science Academy
Sherpoor Square, Kabul-Afghanistan
Tel: 0202201279

د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز مطالعات منطقه‌یی

# سیمه‌ییز مطالعات

**مجلۀ علمی- تحقیقی**

مطالعات سیاسی، اقتصادی و فرهنگی منطقه‌یی. معرفی، بررسی و
تحلیل سازمان‌ها، کنفرانس‌ها و نهادهای منطقه‌یی

سال تأسیس: ۱۳۸۵ هـ.ش
شمارۀ مسلسل:۷۲-۷۳

**یاداشت:**

- مقاله رسماً از آدرس مشخص با ذکر نام، تخلص، رتبهٔ علمی، نمبر تیلفون و ایمیل آدرس نویسنده به ادارهٔ اکادمی علوم فرستاده شود.
- مقالهٔ ارسالی باید علمی – تحقیقی، بکر و مطابق معیارهای پذیرفته شدهٔ علمی باشد.
- مقاله باید قبلاً در جای دیگری چاپ نگردیده باشد.
- عنوان مقاله مختصر و با محتوا مطابقت داشته باشد.
- مقاله باید دارای خلاصه و حداقل حاوی ۸۰ الی ۲۰۰ کلمه بوده، گویای اصلی پرسشی باشد، که مقاله در پی پاسخ‌دهی به آن است. همچنان خلاصه باید به یکی از زبان‌های یونسکو ترجمه شده باشد.
- مقاله باید دارای مقدمه، اهمیت، مبرمیت، هدف، سوال تحقیق، روش تحقیق، نتایج به دست آمده و فهرست منابع بوده و در متن به منبع اشاره شده باشد.
- مقاله باید بدون اغلاط تایپی با رعایت تمام نکات دستور زبان و تسلسل منطقی موضوعات در یک روی صفحهٔ کاغذ A٤ در برنامهٔ word تنظیم شده باشد.
- حجم مقاله حد اقل ۷ و حد اکثر ۱۵ صفحه معیاری بوده، با فونت سایز ۱۳ تایپ شود، فاصله بین سطر ها واحد (Single ) باشد و به شکل هارد و سافت کاپی فرستاده شود.
- هیأت‌تحریر مجله صلاحیت رد، قبول و اصلاح مقالات را بادرنظرداشت لایحهٔ نشراتی اکادمی علوم دارد.
- تحلیل‌ها و اندیشه‌های ارائه شده بیانگر نظریات محقق و نویسنده بوده، الزاماً ربطی به موقف اداره ندارد.
- حق کاپی مقالات و مضامین منتشره محفوظ بوده، فقط در صورت ذکر مأخذ از آن استفاده نشراتی شده می‌تواند.
- مقالهٔ وارده دوباره مسترد نمی‌گردد.

بسم الله الرحمن الرحيم

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**مسؤل مدیر:** څېړندوی بشرمل زرغون

**مهتمم:** عبدالرحمن رسولي

**کتنپلاوي:**

څېړنوال دکتور رفیع‌الله نیازی

څېړنوال عبدالشکور سالنگی

څېړندوی عبدالصبور مبارز

څېړندوی عمران زکریا

**پته:** د افغانستان د علومو اکاډمي، سیمه ییزو مطالعاتو مرکز، د شېرپور ځلورلاري، شهرنو، کابل.

**مطبعه:**

د اړیکو شمېرې:

+۹۳۷۶۶۱۱۰۰۰۸ - +۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹۹۳

**د افغانستان د علومو اکاډمي برېښنلیک:** Info@asa.gov.af

**د مجلې برېښنلیک:** rsc@asa.gov.afg

**د کالنۍ ګډون بیې:**

په کابل کې: ۳۲۰ افغانۍ

په ولایتونو کې: ۳۴۰ افغانۍ

په نورو هېوادونو کې: ۲۰ امریکایي ډالر

په کابل کې د یوې ګڼې بیه:

- د علومو اکاډمي د څېړونکو او استاذانو لپاره: ۷۰ افغانۍ
- د زده کوونکو او محصلینو لپاره: ۴۰ افغانۍ
- د نورو ادارو لپاره: ۸۰ افغانۍ

# لیکلړ


| سرلیک | ل/ژ | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱- از اورنبورگ تا بخارا | سرمحقق زلمی هیوادمل | ۱ |
| ۲- د تاجکستان او سعودي عربستان فرهنگي اړیکې | ژ/څېړنپوه عبدالرحیم بختانی | ۹ |
| ۳- د ګالوان له پېښې وروسته، د هند او چین... | څېړنوال ضیاءالحق ضیا | ۲۳ |
| ۴- د واګنر ډلې پېژندنه او د روسیې... | څېړنواله خاطره شینوارې | ۵۵ |
| ۵- افغانستان ته د سیمه ییزې پانګونې... | څېړندوی اول خان شکېب احمدزی | ۷۱ |
| ٦- د قره باغ په شخړه کې د اذربایجان بریا او... | څېړنوال عبدالخالق فردوس | ۹۵ |
| ۷- په منځني ختیځ کې د ایران او... | څېړندوی عاشق الله اخلاصیار | ۱۱۹ |
| ۸- بررسی الگوی های اقتصادی چین | محقق زهره محمدزی | ۱۳۹ |
| ۹- تحلیل استراتیژی‌های اقتصادی و.... | ابوذر خپلواک، پوهنیار محمدبلال تائب | ۱٦۳ |

سرمحقق زلمی هیوادمل

# از اورنبورگ تا بخارا
# سفرنامۀ دکتور ادورد ایورسمن

**From Orenburg to Bokhara**
**The Travelogue of Dr. Eduard Eversman**

Professor Zalmay Hewadmal

**Abstract**

This article Provides an overview of Dr. Eversmann's travelogue, highlighting the journey of this German scholar With a Keen interest in the Pashto language. It offers a concise summary of the travelogue's contents, tracing his route from Orenburg to Bokhara, alongside insights into his professional work and academic background in both Germany and Russia. Additionally, the report discusses Eversmann's contributions to the study of Pashto.

**چکیده**

این نبشته گزارشی است دربارۀ سفرنامۀ یکی از آلمانیان علاقمند زبان پښتو، دوکتور ایورسمن. مختصری پیرامون محتوای سفرنامۀ، از اورنبرگ تا بخارا، کار و پیشۀ وی، همچنان تحصیلات او در زادگاهش آلمان و روسیه. در این گزارش به کار ایورسمن در رابطه به زبان پښتو نیز اشاراتی رفته است.

**آغازین سخن**

در ماه جون ۱۹۸۶م در کتابخانۀ انستیتوت شرق شناسی اکادمی علوم لنینگراد مصروف تحقیق نسخ خطی پښتو و آثار خاور شناسان بودم، روزی فقید پروفیسور ولادیمیر واسیلو ویچ کوشیف کتابی برایم آورد و به من گفت، در ضمایم این کتاب لغات پښتو و یاداشتهای گرامری و لسانی موجود است، من کتاب را با تشکر از ایشان پذیرفتم.

وقتی کتاب را گرفتم دیدم به زبان آلمانی و سفرنامه ایست از اورنبورگ تا بخارا از دوکتور ادوارد ایورسمن Eduard Eversmann

نام سفرنامه به زبان آلمانی این گونه امده است: ( Reise von orengburg (nach Buenara.

سفرنامه در سال ۱۸۲۳ در برلین از سوی دوکتور لبنتین شتاین چاپ و نشر شده است ۱۵۰ صفحهٔ آن سفرنامه و در بخش آخری آن ۴۰ صفحه ضمایم در بارهٔ لغات و یاد داشتهای دربارهٔ زبان پښتو و زبانهای دیگر[1].

با وصف این که این سفرنامه را بار نخست دیدم، اما نام دوکتور ادوارد ایور سمن را در سال ۱۹۷۴/۱۳۵۳ در کتاب (په خارج کې پښتو څېړونکي) تألیف مرحوم عبدالرحیم ځدراڼ دیده بودم و همینسان در بارهٔ سفرنامه نیز در مقالهٔ زیر نام (۱۷۵ کاله پخوا د پښتو څېړنې) از عبدالرحمن پهوال و حکیم تڼیوال چاپ مجلهٔ ورمه. در سال ۱۹۷۷/۱۳۵٦ مطالبې خوانده بودم.

با دیدن کتاب این دو منبع نیز در ذهنم خطور کردند و برایم پدیدار گشت، که در بارهٔ کتاب و نویسندهٔ آن در تحقیقاتی زبان پښتو نیز یادداشتهای به نشر رسیده اند، اما با آنهم بعضی یادداشتهای مختصری از کتاب برداشتم پروفیسور کوشیف نیز در ترجمهٔ بعضی موارد مدد رساند. زمانی به کابل برگشتم یاد داشتهای چند کتاب آلمانی در بارهٔ زبان پښتو را که با خود اورده بودم در اکادمی علوم استاد مولاجان تڼیوال برایم ترجمه کرد وقتی در انستیتوت شرق شناسی و میراثهای خطی اکادمی علوم تاجکستان برای اسپرا نتوری موضوعی را ثبت کردم، کارهای دیگری دربارهٔ فرهنگ اسیای مرکزی به ویژه تاجکستان نیز در وظایف من شامل بودند. چند مقالهٔ که من بایستی مینبشتم. یکی از این مقاله ها در باره سفرنامهٔ دکتور ادوارد ایورسمن بود[2].

وقتی من آغاز به نگارش این نبشته کردم، یکی دو اثر دیگر نیز به زبان پښتو دربارهٔ احوال شرق شناسان نشر شده بودند، این آثار تازه چاپ شده را نیز دیدم و یادداشتهای دربارهٔ دوکتور ایورسمن را در آن خواندم، پس از خوانش این آثار نگارش این نبشته را لازمی پنداشتم، زیرا بیشترین آثار پښتو اشتباهاتی دربارهٔ ایورسمن دارند.

**در بارهٔ نویسنده**

بر بنیاد نبشتهٔ لبنتین شتاین، ایورسمن در سالهای ۱۸۱۳- ۱۸۱۴ در پوهنتونهای ماربورگ Marburg و برلین در علوم طبیعی درس خواند و پس از آن با پدرش به روسیه رفت، او از نوجوانی به دیدن کشورهای دیگر دلبسته گی داشت، او اگر در پوهنتون برلین و یا هم در روسیه تحصیل میکرد، برای یکسال برای چنین سفرها آماده گی میگرفت. پدرش در شهر Slatonst رئیس فابریکهٔ تفنگ سازی شاهی بود. ایورسمن تا سال ۱۸۱۷ در شهر Drapat جراحی طبی خواند، وقتی پدرش دوباره به آلمان عودت کرد او در شهر Drapat به کار طبابت ادامه داد.

دوکتور شتاین می افزاید: ایورسمن از سال ۱۸۱۳م برنامهٔ سفر به مناطق ناشناس آسیای مرکزی را داشت.

ایورسمن با تاریخ علوم طبیعی، منرالوژی و حیوانشناسی نیز علاقهٔ فراوان داشت.

دکتور شتاین ادامه میدهد، پس از تکمیل آموزشهای طبی به ما موادی ارسال کرد که آموزشهای طبی برایش نیاز داشت. او بار اول در سال ۱۸۱۸ و در سال ۱۸۱۹ و نیز در سال ۱۸۲۰ مجموعه های حیوانات پستاندار، پرنده، حشرات، نباتات و سنگهای را به ما فرستاد، که در سرزمین بین اورال و اورنبورگ گرد آوری شده بودند.

همانسان که گفته آمد یکی از آرزوهای دوکتور ایورسمن سفرها به مناطق ناشناختهٔ آسیا تا بلندیهای تبت بود. او می اندیشید که رسیدن به آسیای مرکزی از راه سایبریای قرغزی سهل ممکن خواهد بود، به همین اساس مدتی در سایبریای جنوبی و غربی ماند و در آنجا زبان تاتاری را آموخت و با اساسات اسلام نیز آشنایی حاصل کرد.

ایورسمن در مقدمهٔ سفرنامهٔ خود مینویسد: من همیشته این آرزو را در دل می پرورانیدم که روزی با کاروانهای که به بخارا میروند همراه شوم و به آنجا بروم.

در دوران اقامت من در سایبریا، جنرال جنگ اورنبورگ V..F 55000 به اقامتگایم آمد و وقتی از برنامهٔ سفرم آگاهی یافت بدون خواهش من از حکومت شاهی روسیه

برایم طلب امداد کرد و کمکهای دولت شاهی آلمان را نیز دریافت کردم. باکمکهای روسیه و آلمان خود را در خواب در سطوح مرتفع تبت احساس میکردم.

به مشوره همین جنرال یاد شده در سال ۱۸۲۰م از سایبریا به اورنبورگ کوچیدم تا از اورنبورگ با کاروانهای که به بخارا میروند یکجا شوم و به بخارا برسم.

در فصل تیر ماه ۱۸۲۰م گروهی از سوی روسیه به بخارا رونده بودند با این گروه ایورسمن نیز یکجا شد و به بخارا رسید. سه ماه بعد وقتی خود را آمادهٔ سفر کاشغر میکرد تا برنامهٔ سفر تبت را عملی کند، ولی با تاسف که کسی اورا به خان بخارا به حیث جاسوس روسها معرفی کرده بود و خان هدایت داده بود، زمانی او از بخارا خارج میشود باید کشته شود. هنگامی که ایورسمن از تصمیم خان آگاهی یافت به منظور حفظ جانش از سفر کاشغر صرف نظر کرد و با گروهی که از اورنبورگ آمده بود دوباره به اورنبورگ برگشت و سفر علمی را که به کاشغر و تبت برنامه ریزی کرده بود با تمام آرزوهایش در همین جا خاتمه پذیرفت.

**در بارهٔ محتوای کتاب**

سفرنامهٔ از اورنبورگ تا بخارا مواد و محتوای کارآمدی در بخشهای زیرین دارد:

۱- پیشگفتار مدیر میوزیم زولوجی برلین دوکتور لبنتین شتاین.

۲- اغازین سخنان سفرنامه نویس دوکتور ایورسمن.

۳- گزارش سفر.

۴- در ضمایم در بارهٔ زبان پښتو.

نکاتی از پیشگفتارهای دوکتور لبنتین شتاین و دوکتور ایورسمن را در بخش معرفی نویسندهٔ سفرنامه دوکتور ایورسمن آوردم و حال از گزارش سفر تنها به یادآوری نکاتی اکتفا میکنم که خوانندهٔ این نبشته را نهایت فشرده از سفرنامه اگاه سازد.

دوکتور ایورسمن در بخشهای اغازین در بارهٔ گزارش نبشته است:

آنچه را در این برگها نبشته ام آنرا شبانه در خفا مینوشتم. زیرا فکر میکردم سفرم دراز است. آنچه را در سفر یافته و نبشته ام، آنرا به دست گروهی که من در کاروان شان به بخارا سفر کردم میفرستم تا به پوهنتون برلین بفرستند.

اما چنین نشد و با همان کاروان روسی به اورنبورگ برگشتم. او مینویسد: به تاریخ ده اکتوبر سال ۱۸۲۰م با یک کاروان نظامی که پنجصد شتر، شماری سپاهیان پیاده نظام و دو میل سلاح ثقیل(توپ) داشت او از اورنبورگ به سوی بخارا سفرش را آغاز میکند و آنچه را در راه میبیند در بارهٔ آن معلوماتی را درج سفرنامه میکند و نکات عمدهٔ آن عبارت اند:

۱- به تاریخ ١٦ اکتوبر به منطقهٔ سلطان ارونگازی میرسد. دربارهٔ سلطان و کارهای سلطنتی و شماری از حیزاهای برای مجرمین معلوماتی دارد.

۲- وقتی به بخارا میرسد، نخست دربارهٔ شهر و خصوصیات آن تفصیلی دارد. دربارهٔ کاروانهای که از کابل و کشمیر به بخارا رفت و آمد دارند چشم دیدهای خود را مینویسد.

۳- در صفحهٔ ۷۷ سفرنامه به بیان اوصاف پښتونها میپردازد و مینویسد: پښتونها همه مسلمان اند، طبعیت سخت دارند، مردان جنگی و شمشیرزنان هستند. از صفات عمدهٔ این مردم میهندوستی است و سرزمین شانرا دوست دارند.

۴- در بارهٔ خان بخارا و نسب او و زنده گانی مردم بخارا بیانهای هم جانبه دارد.

۵- در صفحهٔ ۸۹ بار دیگر دربارهٔ افغانستان سخن میگوید، دربارهٔ میوه های افغانستان تفصیلاتی دارد و در ادامهٔ این بحث مینویسد: بین کابل و پشاور مردمی زنده گی میکنند که آنان را ننگرهاری میگویند. در این منطقه اناری یافت میشوند که بسیار شیرین اند و اکثر به هندوستان صادر میگردد.

٦- دربارهٔ حیوانات بخارا معلوماتی میاوره وضع آب و هوای آن بیانی دارد. دربارهٔ طبیبان شهر بخارا معلومات میدهد و طریقه های همچنان مسکوکات مروج در بخارا و عادات و اطوار اجتماعی مردم بخارا را نیز بیان میدارد.

**در بارهٔ زبان پښتو**

دوکتور ایورسمن در ضمایم سفرنامه دربارهٔ زبان پښتو یادداشتهای نبشته است. او به افغانستان نیا مده بود او میخواست زبان پښتو را با زبانهای تاتاری، روسی، پارسی و ترکی مقایسه کند.

او از بعضی فرهنگهای فرانسوی و پارسی سود برد و شماری از لغات پښتو را گردآورد و استفادهٔ بیشتری از یک پښتون کرد. وی یاد او را به حیث معلم خود میکند و دربارهٔ او می افزایده زبان پارسی را خوبتر میداند.

ایورسمن پیش از همه یادداشتی دربارهٔ خصوصیات آوازها خاص پښتو نبشته و گفته است: برای آنهای که زبان مادری شان پښتو نیست تلفظ این آوازها مشکل است، او افزوده است: در بین زبانهای پښتو و پارسی مشابهتهای فراوانی دیده میشوند، واژه های زیادی در هر دو زبان یکسان استعمال میگردند.

از گردانهای افعال پدیدار میشود، که پښتو نیز مانند پارسی حال را از امر و ماضی مطلق را از مصدر ساخته میشود.

ایورسمن ادامه میدهد: من میخواستم گرامر زبان پښتو بنویسم، اما زمان یاری نکرد و این آرزوی من نیز براورده نشد. وقت زیاد من در گردان افعال سپری شد.

ثانیاً من در جایی بودم، که کسی به مفهوم گرامر بلدیت نداشت، دیگر این که من از مناطق گوینده گان این زبان دور بودم، ممکن در تحقیق کنونی من دربارهٔ زبان پښتو کاستیهای موجود باشد. ایورسمن افزوده است من تعجب میکنم، که پښتو زبانان بعد از (بیست)، یوویست، دوه ویست میگوند.

او در جایی از نبشته های خود مینویسد: چنین معلوم میگردد که پښتونها زبان شان را به حیث زبان علمی استعمال نمیکنند و کتابهای پارسی میخوانند.

ایورسمن گرافیمهای برای آواز های خاص پښتو وضع کرده است و پس از آن در حدود ۱۴۰ لغت مستعمل در زبان پښتو را درج کرده است. در این واژه ها نامهای اعضای بدن و بعضی واژه های مورد نیاز زنده گی روزمره را شامل کرده است.

**ایورسمن در تحقیقات پښتو**

در بارهٔ ایورسمن و کار پښتوی او در تحقیقات پښتو یک مقالهٔ مستقل نبشته شده و یاد کرد یادداشت گونه به نشر رسیده که در این بخش از آنها یاد میکنم:

په خارج کې پښتو څېړونکي: اثریست در معرفی شماری از پښتو شناسان، در این سلسله از دوکتور ایورسمن نیز یادی دارد، او را عضوه انجمن طبیعت شناسان

روسیه معرفی میدارد. در بارهٔ کارهای پښتو او گفته است. او مسوده کلمات پښتو را تهیه و نشر کرده است.

در بارهٔ مسودهٔ کلمات پښتو نه گفته، که کجا نشر شده است[۳].

**پښتو او مستشرقين**

کتاب دیگری در بارهٔ مستشرقین از دوکتور جاوید خلیل. او در بخش مستشر قین روسی از ایورسمن یاد میکند و این را هم می افزاید که او در مسکو تولد شده. مأخذ خود را (په خارج کې پښتو څېړونکي) نشان داده، ولی در آن کتاب جای تولد دوکتور ایورسمن ذکر نشده است. مؤلف همچنان گفته است ایورسمن دربارهٔ الفاظ پښتو مقاله نوشته است[۴].

**د غیر پښتنو پښتو پېژندونکو د پېژندنې لارښود**

در این اثر رهنما گونه یادی از دوکتور ایورسمن آمده است، نویسندهٔ رهنما دوکتور رفیقی میباشد، وی نیز زادگاه ایورسمن را مسکو نشان داده چند سخنی که در بارهٔ او نبشته برگرفته از (په خارج کې پښتو څېړونکي و پښتو او مستشرقين) است[۵].

**۱۷۵ کاله پخوا د پښتو ژبې په اړه څېړنې**

مقاله ایست به صورت نسبی مکمل با معلومات دست اول. این مقاله اساساً به هدف معرفی کارهای پښتو دوکتور ادوارد ایورسمن نبشته شده است، چون کارهای پښتوی او در ضمایم سفرنامهٔ ایورسمن (از اورنبرگ تا بخارا) امده است و نویسنده گان مقاله (عبدالرحمن پهوال و حکیم ټنیوال) سفرنامه را نیز معرفی کرده اند و از مقدمهٔ لښتین شتاین دربارهٔ ایورسمن مطالبی را نیز اورده اند.

استاد رشاد در کتاب خود (ختیځ پوهان) از مقالهٔ یاد شده سود زیاد برده است. زمانی این مقاله را من به خط سریلیک نوشتم کتاب استاد رشاد چاپ نشده بود.

اکنون با نبشتن این یادداشت به خواننده گان این مقاله یاد آوری می کنم که در کتاب ختیځ پوهان نیز یاد نسبی مکملی از ایورسمن شده است. (صص ۱۸۴-۱۸٦ چاپ سال ۱۳۹۵ هـ.ش)

## نتیجه

از خوانش این نبشته خواننده اگاهیهای دربارهٔ ایورسمن، تحصیلات او زادگاه وی، رفتن او به روسیه، آموزش طب و تحقیقات دربارهٔ طبعیت شناسی و حیوان شناسی، منرالوژی و گزارش سفرنامهٔ او معلوماتی به دسترس میگذارد، یادداشتهای او دربارهٔ پښتونها، افغانستان و زبان پښتو ستودنی و در حلقهٔ مستشرقین قدامت دارند.

## سرچشمه ها


1-.Eduard Eversmann. Reise Von orenBurg nach Buchara, Berline. 1823.

۲- عبدالرحمن پهوال او حکیم تڼیوال، ۱۷۵ کاله پخوا د پښتو څېړنې، وږمه مجله ۱۳۵٦ کال، ۲ گڼه ۱۱۹- ۱۳۴ مخونه.

۳- ځدراڼ، عبدالرحیم، په خارج کې پښتو څېړونکي، پښتو ټولنه، ۱۳۵۳ کال،۱۴ مخ.

۴- خلیل، محمد جاوید، پښتو او مستشرقین، پښتو اکاډمي- پېښور، ۲۰۱۱م کال، ۱٦۲ مخ.

۵- رفیقي، عبدالروف، د غیر پښتنو پښتو پېژندونکو د پېژندنې لاربنود، رفیقي څېړنیز مرکز، کتاب دوست پبلشرز، ۲۰۱۴ کال، ۱٦ مخ.

ليکواله: شاهانه کريمووا

ژباړن: څېړنپوه عبدالرحيم بختانی

# د تاجکستان او سعودي عربستان فرهنګي اړيکې

**د ژباړن يادښت**

تاجکستان له خپلواکۍ وروسته له ډېرو هېوادونو سره خپلو هر اړخېزو اړيکو ته دوام ورکوي، تاجکستان له سعودي عربستان سره هم ډېرې نږدې او هر اړخېزې اړيکې لري.

«د تاجکستان او سعودي عربستان فرهنګي اړيکې» د هغې علمي- څېړنېزې مقالې سرليک دی چې د شاهانه کريمووا له خو ليکل شوې ده، په يادې مقاله کې د تاجکستان له خپلواکۍ وروسته د دواړو هېوادونو تر منځ د فرهنګي اړيکو په اړه هر اړخېزه څېړنه تر سره شوې ده، افغانستان له تاجکستان سره اوږده پوله لري، همدارنګه ګډ فرهنګي مشترکات هم لري او سعودي عربستان هم له افغانستان سره ډېرې نږدې سياسي او فرهنګي اړيکې لري.

څرنګه چې دواړه هېوادونه له افغانستان سره هر اړخېزې اړيکې لري او همدارنګه له دواړو هېوادونو سره ګډ فرهنګي مشترکات هم لري؛ له همدې امله د دغې مقالې ژباړه د افغانستان د علمي او ډيپلوماټيکو ادارو لپاره ډېر ګټور علمي مأخذ دی.

تاريخ شاهد دی چې له عربي هېوادونو سره د عجمو د خلکو دوستي، ادبي او فرهنګي اړيکې له لرغونو زمانو راهيسې موجودې دي. په لرغونو دورو کې هم عربي کتابونه پهلوي او پهلوي کتابونه په عربي ژباړل شوي وو. د بېلګې په توګه عبدالله بن مقفع د «کليله او دمنه»، «خديونامه» او نور کتابونه په عربي ژباړلي دي چې ډېر ارزښت لري.

د تاجکستان جمهوريت له خپلواکۍ وروسته نږدې ۱۵۰ هېوادونو د تاجکستان جمهوريت په رسميت پېژندلی، د تاجکستان جمهوريت د خپلواکۍ په اعلاميه کې راغلي: «د تاجکستان جمهوريت د يوه خپلواک هېواد په توګه له بهرنيو

هېوادونو سره ډیپلوماټیکي، کونسلي، سوداګریزې او نورې اړیکي جوړوي، له هغوی سره باصلاحیته استازي تبادله کوي او نړیوال تړونونه ورسره لاسلیکوي» [۱۴:۱].

د یادولو وړ ده چې د تاجکستان ولسمشر امام علي رحمان د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلۍ په پنځوسمه کلیزه کې د ګډون په موخه نیویارک ته سفر کړی، د همدې رسمي سفر په ترڅ کې یې د سعودي عربستان د پاچا له رسمي استازي شهزاده سلطان بن عبدالعزیز سره ګټورې ناستې درلودې چې له دغو ناستو وروسته د دغه هېواد دروازې یو بل ته پرانېستل شوې [۳:۳۵].

له دې کتنې وروسته د تاجکستان ولسمشر امام علي رحمان درې ځلي (په ۱۹۹۷، ۲۰۰۱ او د ۲۰۱٦ز. د جنورۍ ۳ مه) سعودي عربستان ته سفرونه وکړل، د تاجکستان جمهور رئیس د دغو سفرونو په ترڅ کې د سعودي عربستان له پاچا او ولیعهد او د دغه هېواد له نورو لوړپوړو چارواکو سره وکتل او خبرې اترې یې وکړې، په وروستۍ کتنه کې چې د ۲۰۱٦ ز. د جنورۍ پر ۳ مه د تاجکستان د ولسمشر امام علي رحمان او د سعودي عربستان د پاچا سلمان بن عبدالعزیز آل سعود تر منځ وشوه؛ د دواړو هېوادونو د اړیکو په اړه پر یو لړ مسایلو خبرې اترې وشوې او د همکارۍ نوي سندونه لاسلیک شول.

د سعودي عربستان د سلطنتي شورا رئیس عبدالله بن محمد بن ابراهیم علي شیخ د ۲۰۱٦ز. د می پر ۲۴ او ۲٦ مه د تاجکستان جمهوریت ته سفر وکړ. د ۱۹۹۲ز. د فبرورۍ پر ۲۲ مه د تاجکستان جمهوریت او د سعودي عربستان تر منځ ډیپلوماټیکي اړیکې بېرته ورغول شوې، د سعودي عربستان پاچا د ۱۹۹۲ز. د جنورۍ پر ۱۱ مه د تاجکستان جمهوریت خپلواکي په رسمیت وپېژندله.

د سعودي عربستان سفارت د ۲۰۱۰ ز. د اکتوبر په میاشت په دوشنبه کې پرانېستل شو، ډاکټر محمدجمیل محمود د تاجکستان په جمهوریت کې د سعودي عربستان د پاچا لومړی فوق العاده سفیر وګمارل شو، بیا په تاجکستان کې د سعودي عربستان سرپرست سفیر حمزه بخت الحربي د سعودي عربستان د سفارت چارواکی وګمارل شو. عبدالعزیز محمد البادي د ۲۰۱٦ز. له سپټمبر راهیسې د تاجکستان په جمهوریت کې د سعودي عربستان د سفیر په توګه دنده ترسره کوي.

د تاجکستان جمهوریت سفارت د ۲۰۰۸ز. په سپټمبر میاشت کې د سعودي عربستان په پلازمېنه کې پرانېستل شو. په سعودي عربستان کې د تاجکستان جمهوریت فوق العاده سفیر او د اسلامي همکاریو په سازمان کې د تاجکستان جمهوریت دایمي استازی زوراب الدین قاسمي دی.

په تاجکستان کې د سعودي عربستان پخواني سفیر ډاکتر بندر جمیل په یوه مرکه کې د تاجکستان او سعودي عربستان تر منځ د پوهنتونونو د همکاریو په اړه وویل: «موږ په راتلونکي کې د دواړو هېوادونو تر منځ د علمي او فرهنګي همکاریو د رامنځته کولو لپاره چمتو یو. دغه راز په دوشنبه کې د سعودي عربستان سفارت هڅه کوي چې د ځینو کتابونو په خپرولو کې برخه واخلي. د بېلګې په توګه "الفهرست" د ابن ندیم کتاب چې له عربي څخه تاجکي ژبې ته ژباړل شوی؛ ډېر ژر به په دوشنبه کې د سعودي عربستان د سفارت له خوا خپور شي، د سعودي عربستان د سفارت په نوبت په تاجکي ژبه د قرآن کریم ترجمه په الکترونیکي ډول د ګټنې لپاره چمتو شوې او د حاجیانو لپاره د حج د ادا کولو لارښود کتاب هم خپور شوی دی [۱۲:۱].

د یادولو وړ ده چې د سعودي عربستان سفیر ښاغلي عبدالعزیز البادي د تاجکستان د علومو اکاډمۍ د اسیا او اروپا د مطالعاتو د انسټیټوټ د مشر په بلنه د ۲۰۱۷ز. د مې په میاشت په دوشنبه کې دغه اکاډمي ولیدله؛ په دې کتنه کې پر یو شمېر سیاسي او علمي مسایلو خبرې وشوې، د بېلګې په توګه د دغه انسټیټوټ له خوا وړاندیز وشو چې سفارت دې د اسیایي او اروپایي هېوادونو د ستونزو د څېړلو په موخه په انسټیټوټ کې خپله فرهنګي څانګه جوړه کړي او د تاجک پوهانو لپاره دې د عربي ژبې کورسونه هم پیل کړي، په دې اړه په تاجکستان کې د سعودي عربستان سفیر محمد البودي وویل: «د تاجکستان په ملي کتابتون کې داسې یوه فرهنګي څانګه شته چې د عربي ژبې درسونه یې په وړیا توګه تدریسېږي او د بلې برخې پرانېستلو ته اړتیا نشته، همدارنګه وړاندیز وشو چې د دې اداري پوهان دې د علمي ظرفیت د لوړولو په موخه د سعودي عربستان علمي او فرهنګي پروګرامونو ته ور وپېژندل شي، دغه راز د تاجکستان سفارت د سعودي عربستان له علمي

بنسټونو سره د تاجکستان د علومو اکاډمۍ د علمي او فرهنګي اړیکو د ټینګښت په موخه له دغو ورانديزونو سره موافقه وکړه او په راتلونکي کې یې د دغو اړیکو د لا پراختیا ژمنه وکړه، هر کال د سعودي عربستان سفارت د اسیا او اروپا د مطالعاتو د انسټیټوټ د منځني ختیځ او نږدې ختیځ د څانګې څو تنو کارکوونکو ته په دې ملي جشن کې د ګډون بلنه ورکوي چې دا هم د دواړو هېوادونو د دوستانه او کلتوري اړیکو ثبوت دی.

د یادونې وړ ده چې د سعودي عربستان سفارت د تاجکستان په ملي کتابتون کې فرهنګي برخه لري، دغه کلتوري برخه د ۲۰۱۳ز. د مارچ پر ۲۹ مه د سعودي عربستان د بهرنیو چارو وزارت مرستیال عبدالعزیز بن عبدالله بن سعود او د تاجکستان جمهوریت د کلتور وزیر میرزا شاهرخ اسراري په حضور کې په رسمي ډول پرانېستل شوه، د سعودي عربستان فرهنګي څانګې د ۲۰۱۳ز. کال د سپټمبر پر دویمه په رسمي توګه خپل فعالیت پیل کړ.

«په دې فرهنګي برخه کې نږدې درې زره عربي کتابونه شته چې د محصلینو او ځوانانو لپاره په ځانګړي ډول علمي کتابونه، جغرافیه، سیاسي علوم، تاریخ، اسلامي تاریخ، عمومي معلومات، کیسې او د عربي ژبې تعلیمي کتابونه دي، عربي مجلې او ورځپاڼې هم لري، دا فرهنګي څانګه په عصري تخنیکي وسایلو سمبال ده» [۱۳:۱].

د یادونې وړ ده چې د سعودي عربستان په فرهنګي څانګه کې مینه والو ته د عربي ژبې زده کړه ورکول کېږي او درسونه یې په بشپړ ډول وړیا دي. همدارنګه د ځوانانو لپاره ښوونیز کارټوني فلمونه، په زړه پورې ښوونیز فلمونه او نور پروګرامونه چې بېلابېل موضوعات لري؛ د لوست پر مهال د کتلو او کارولو لپاره چمتو دي.

سعودي عربستان په نړۍ کې د نفوذ یو مرکز بلل کېږي، په ورته وخت کې سعودي عربستان د یوې فعالې اسلامي تګلارې (په نړیواله کچه د اسلام ملاتړ، له اسلامي هېوادونو سره هر اړخیزې مرستې، د بېلابېلو دیني پروګرامونو تمویل) ته په اشارې له لوېديځ سره خپلې قوي پوځي، سیاسي، اقتصادي او سوداګریزې اړیکې له لاسه نه دي ورکړي [۱۱:۷].

په دې برخه کې د هېوادونو همکاري او لېوالتيا له يو بل سره زياته شوې او په سياسي، اقتصادي، فرهنګي او ادبي ژوند کې فعال دي، په اوسني عصر کې دا همکاري او ارتباط په روښانه توګه احساسېږي، هېوادونه يو بل ته خپلې دروازې پرانېزي او کلتوري ورځې نمانځي چې د هېوادونو تر منځ د نږدې اړيکو لاملېږي، د يادونې وړ ده چې په تاجکستان کې د سعودي عربستان د پاچاهۍ فرهنګي ورځې چې د ۲۰۱۸ز. د مې په مياشت کې ترسره شوې؛ تر ټولو مهمه غونډه بلل کېږي.

د يادولو وړ ده چې د سعودي عربستان د پاچاهۍ د فرهنګي ورځو د جوړېدو ټيم د ۲۰۱۸ز. د مې پر دربيمه دوشنبې ته سفر وکړ، د دوشنبې په نړيوال هوايي ډګر کې مېلمنو ته د تاجکستان جمهوريت د کلتور وزارت مرستيال مظفر دولت زاده، په سعودي عربستان کې د تاجکستان جمهوريت سفير زوراب الدين قاسمي، د سعودي عربستان د فرهنګي ورځو رئيس الهام اکرموف ښه راغلاست وويل.

د ۲۰۱۸ز. د مې پر ۵ مه د تاجکستان جمهوريت د کلتور پخواني وزير شمس الدين ارامبک زاده د تاجکستان په جمهوريت کې د سعودی عربستان د فرهنګي ورځو د نمانځلو په مناسبت د رسمي هيئت له مشر احمدالصديق سره رسمي ليده درلودل، د سعودي عربستان د اطلاعاتو او کلتور وزارت د کلتور رئيس احمد المزياد په دې خبري غونډه کې وويل: «موږ د دواړو هېوادونو خلک د ژبې او موسيقۍ په برخه کې ډېر مشترکات لرو، په تاجکستان کې زموږ د هېواد د کلتوري ورځو نمانځل د دغو مشترکاتو ساحه پراخوي» [۹:۲].

په دې غونډه کې د تاجکستان جمهوريت او د سعودي عربستان تر منځ د فرهنګي همکاريو يو تړون لاسليک شو چې د همدې تړونونو پر اساس به يې دواړه خواوې د دواړو هېوادونو تر منځ په کلتوري جشنونو او ډيالوګونو کې د نظرياتو او تجربو تبادلې ته دوام ورکړي.

د ۲۰۱۸ز. د مې پر ۵ مه د سعودي عربستان د ملي هنرمندانو له خوا د محلي هنرونو او ملي جامو، عربي ملي خوراکونو او د نقاشۍ، خطاطۍ او د هنرونو نندارتون د صدرالدين عيني په دولتي تياتر کې پيل شو چې د ۲۰۱۸ز. د مې تر نهمې يې دوام وکړ.

د عربي هنرمندانو د کنسرت پروګرام د ۲۰۱۸ز. د مې پر ۵ مه د مازیګر پر څلورو بجو د صدرالدین عیني په نوم د دولتي تیاتر په تالار کې ترسره شو چې پکې د عربي سندرو او موسیقۍ، فولکلوریکي نڅا او د تورو نڅا تر سره او د حاضرینو له خوا یې تود هرکلی وشو.

د تاجکستان د فرهنګ پخواني وزیر شمس الدین ارامبک زاده او د سعودي عربستان د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د کلتور رئیس احمد المزیاد د فرهنګي ورځو په مناسبت د غونډې ګډونوالو ته مبارکي وویله، د کلتوري ورځو د پرانېستلو په مراسمو کې یو شمېر ګډونوالو د دواړو دوستو هېوادونو تر منځ د اړیکو د پیاوړتیا او د کلتوري ورځو د اهمیت په اړه خپل نظرونه څرګند کړل. احمد المزیاد په خپلو خبرو کې وویل: «په تاجکستان کې د سعودي عربستان کلتوري ورځې لومړنۍ کلتوري ورځې دي چې د سعودي عربستان له خوا په بهرنیو هېوادونو کې تر سره کېږي، دا له تاجکستان سره د همکارۍ په پراخولو کې زموږ د هېواد د مشرتابه د لېوالتیا نخښه ده» [۳:۵].

باید یادونه وشي چې "د سعودي عربستان د پاچاهۍ کلتوري ورځې د لومړي ځل لپاره د تاجکستان په جمهوریت کې ونمانځل شوې او د دواړو هېوادونو د اړیکو په تاریخ کې یوه نوې پاڼه پرانېستل شوه" [ ۳:۴].

په دې کتنه کې په تاجکستان کې د سعودي عربستان سفیر عبدالعزیز البودي او په سعودي عربستان کې د تاجکستان سفیر زوراب الدین قاسمي هم ګډون درلود.

د ۲۰۱۸ز. د مې پر اتمه د تاجکستان په جمهوریت کې د سعودي عربستان د پاچاهۍ د کلتوري ورځو د پای مراسم د لوی کوروش په پارک کې تر سره شول.

په تاجکستان کې د سعودي عربستان د کلتوري ورځو د تنظیم مشر خالد العمر د دواړو هېوادونو له مشرتابه او وزارتونو څخه مننه وکړه، همدارنګه د تاجکستان د خلکو له تود هرکلي څخه یې هم مننه وکړه، بیا یې د سعودي

عربستان لوبغاړو ته ستاینلیکونه ورواندې کړل، د یاد فرهنګي سفر په لړ کې د می له ۳ مې تر ۱۹مې عربي پلاوي د نورک، حصار او ورزاب ښکلې منظرې ولیدې.

په تاجکستان کې د سعودي عربستان فوق العاده سفیر عبدالعزیز البادي د سعودی عربستان د ملي ورځې د ۸۹ مې کلیزې د نمانځنې په مراسمو کې د دواړو هېوادونو تر منځ د دوه اړخیزو همکاریو د کچې او کیفیت په اړه خبریالانو ته خبرې وکړې چې لنډیز یې دلته وړاندې کېږي: «د سعودي عربستان او تاجکستان جمهوریت تر منځ همکاري دوام لري، د اقتصادي مسایلو په اړه د همکارۍ په برخه کې د سعودي عربستان له خوا د سعودي عربستان د پراختیایي بنسټ او د ملک سلمان د بشري مرستو د مرکز په همکارۍ یو شمېر پروژې تر څېړنې لاندې دي، د سعودي عربستان پرمختیایي بنسټ تر دې دمه په تاجکستان کې د بنسټیزو پروژو د تطبیق لپاره ۱۶۷ میلیونه ډالره ځانګړې کړې دي چې د لویو لارو، ښوونیزو چارو، ښوونځیو، روغتونونو او طبي مرکزونو په جوړولو او بیارغونه کې لګول شوي دي. د یاد مرکز پنځه پروژې له تاجکستان سره شاوخوا لس میلیونه ډالره مرسته وکړه چې دغه مرستې په بېړنیو حالتونو کې له خطره د خلکو د مالونو د ساتنې په موخه او د ساحلي برخو په پیاوړتیا کې لګول شوې دي؛ همدارنګه د تاجکستان جمهوریت د حکومت تر څارنې د بېړنیو حالتونو او ملکي دفاع یو روزنیز مرکز جوړ او سمبال شو» [۶:۲].

د ۲۰۲۰ز. د جنورۍ پر ۲۸ مه د تاجکستان د لیکوالو د ټولنې مشر نظام قاسم د سعودي عربستان د پاچاهۍ له سفیر عبدالعزیز بن محمد البادي سره وکتل. په دې کتنه کې د دواړو هېوادونو تر منځ د ادبي اړیکو پر پراختیا خبرې وشوې، د تاجکستان د لیکوالو د ټولنې مشر نظام قاسم یادونه وکړه او ویې ویل: د عربي له کارونې پرته د خپلو نیکونو په هنري او علمي اثارو پوهېدل ناشوني دي؛ ځکه دا اړیکې اوږد تاریخ لري، هغه زیاته

کړه چې د ملت د رهبر امام علي رحمان د جدي پاملرنې له امله د ليکوالو د فعاليتونو او ادبي اړيکو لپاره پراخ فرصتونه رامنځته شوې دي.

نظام قاسم په خبرو کې زياته کړه: «د صدرالدين عيني او ميرزا تورسون زاده په څېر بې ساري ليکوالو د عربي هېوادونو په ګډون د اسيا او افريقا د خلکو د ادبياتو د نښلولو او د دوستۍ د ټينګولو لپاره ستر کارونه کړې دي، موږ وياړو چې د اسيا او افريقا د ليکوالو ټولنې د تاجکستان عصري ادب له مشره د هغو درېو لويو ليکوالو په څېر چې د دې براعظمونو د بېلابېلو خلکو ادب او فکر يې اغېزمن کړی؛ ياد کړو» [۱:۵].

ميرزا تورسن زاده يو پياوړی تاجک شاعر او د اسيا او افريقا د ليکوالو ټولنې د پيوستون کمېټې مشر و، عبدالعزيز البادي د ليکوالو د اتحاديې تر څارنې د ژباړې مرکز له جوړېدو او د عربي څانګې له فعاليته راضي و، نوموړي دغه راز اعلان وکړ چې د دوه اړخيزو ادبي غونډو له ترسره کولو وروسته به د دواړو هېوادونو د اثارو د ژباړې د ودې لپاره جدي هڅې وکړي"، دا ښه ده چې ډېرې تاجکي او فارسي کلمې عربي ته ننوتلي او زموږ په ژبه بدلې شوي. تاجکي د عربي کلمو او جملو له پلوه هم بډايه ده، دا ما ته اجازه راکوي چې په اسانۍ تاجکي زده کړم" [۱۵:۵].

همدارنګه د دولتونو تر منځ د پرمختګ او پياوړتيا لپاره د پوهانو او ژباړونکو نقش ډېر مهم دی، استادان تاج الدين مرداني، نظرالله نظر، نظام الدين زاهدي، اميده غفوروا، فخرالدين نصيرالدينوف، نورالله غياثوف، سليمان سعيد رحمانوف، قابيلجان دادوبايف، عبدالشکور غفوروف، فيا عيسيوا، صباح الدين ضيايوف او د لسګونو مستشرقينو نومونه يادولی شو چې له تاجکستان سره يې د عربي هېوادنو د ادبي او فرهنګي اړيکو په پراختيا کې د پام وړ مرسته کړې ده.

د تاجکستان د ليکوالو ټولنې غړی په مصر کې د تاجکستان پخوانی سفير او ژباړن نظرالله نظر د دواړو هېوادونو تر منځ د ادبي اړيکو په پياوړتيا

کې د پام وړ مرسته کړې ده، د تاجکستان ملي سرود هم د نظرالله نظر له خوا په عربي ژبه ژباړل شوی؛ همدارنګه د تاجکستان د جمهور رئیس امام علي رحمان مشهور اثار چې «تاجک د تاریخ په هېنداره کې» نومېږي، د نظرالله نظر په هڅو په ۳ ټوکونو کې په عربي ژباړل شوی او په ۲۰۰۹ز. کې په قاهره کې خپور شوی دی. د یادونې وړ ده چې «د امام ابو حنیفه نعمان میراث ته کتنه» تر سرلیک لاندې د تاجکستان جمهور رئیس د مقالو ټولګه هم د نظرالله نظر تر څارنې په عربي ژبه ژباړل شوې او په ۲۰۰۹ز. په ریاض کې خپره شوې ده.

په دې وروستیو کې د ریاض په ښار کې د "خمسه پنجگانه" په نوم یو کتاب خپور شوی چې پکې د پنځو معاصرو تاجک شاعرانو نظام قاسم، گل نظر، گل رخسار، فرزانه او دارا نجات شعرونه د استاد نظرالله نظر له خوا په عربي ژباړل شوي دي.

د یادولو وړ ده چې دلته د یو بل خبریال په اړه چې له عربي هېوادونو سره د تاجکستان جمهوریت د ادبي، علمي او فرهنګي اړیکو په ټینګولو کې یې بې شمېره خدمتونه کړي دي؛ یو څو نور ټکي هم یادوو.

استاذ تاج الدین مرداني عربپوه، وتلی عالم او څېړونکی دی چې د عربي او ناعربي ادبي او نړیوالو اړیکو په پراختیا او پیاوړتیا کې یې د پام وړ ونډه درلوده. نوموړی د تاجکستان د علومو اکاډمۍ د اسیا او اروپا د مطالعاتو د انسټیټوټ د منځني ختیځ او نږدې ختیځ د څانګې استاد او د فلالوژۍ په برخه کې ډاکټر دی، هغه په تاجکي ډېر نامتو او ارزښتمن کتابونه لکه «صفحات از روابط عرب و عجم، دو زبانی در شعر قرن نهم - دهم، ناصر خسرو و فرهنگ عرب، روابط ادبی عرب و عجم، شعر عربی ابن سینا، مسعود سعد سلمان و شعر عربی، رودکی و ادبیات عرب، سخنرانی در بارهٔ ابوعلی ابن سینا، تحقیقات و ترجمه، اقوام شرق در آثار صدرالدین عینی» او نور لیکلي دي. استاذ تاج الدین مرداني د ابوبکر رازي، خواجه

یوسف همداني، ابو علي ابن سینا او نورو ډېر آثار له عربي نه روسي ته ژباړلي او تر درې سوو ډېرې علمي مقالې یې لیکلي چې نه یواځې په تاجکستان؛ بلکې په بهر کې هم خپرې شوې دي.

همدارنگه استاد تاج الدین مرداني د «تاجکستان او عربي هېوادونو» د دوستۍ ټولنې مشر و او د سعودي عربستان له سفارت او د قطر له سفارت سره یې مستقیمې اړیکې لرلې. د ادبي فعالیتونو او د تاجکستان او عربي هېوادونو تر منځ د فرهنگي اړیکو د ودې او پرمختگ لپاره یې د قدر وړ خدمتونه کړي دي.

د «تاجکستان او عربي هېوادونو» د دوستۍ ټولنه د ۲۰۱۲ز. د جولای پر لسمه له بهرنیو هېوادونو سره د تاجکستان جمهوریت د دوستۍ او کلتوري اړیکو د ټولنې تر څارنې جوړه شوه، د «تاجکستان او عربي هېوادونو» د دوستۍ ټولنې د جوړېدو موخه د تاجکستان او عربي هېوادونو تر منځ د علمي او فرهنگي اړیکو پراخول دي، د تاجکستان جمهوریت د علمي او فرهنگي لاسته راوړنو له لارې د عربي هېوادونو خلک باید د تاجکستان د ملي دودونو په اړه لا زیات معلومات تر لاسه کړي، د خلکو د ډیپلوماسۍ په کارولو او د کلتوري تجربو تبادله کولای شي اړیکې پیاوړې کړي [ ۲۳-۲۲: ۸].

د «تاجکستان او عربي هېوادونو» د دوستۍ ټولنې غړو او له بهرنیو هېوادونو سره د تاجکستان د دوستۍ او کلتوري اړیکو د ټولنې کارکوونکو د ۲۰۱۲ز. د اکتوبر پر دیارلسمه په سعودي عربستان کې د سعودي عربستان له فوق العاده سفیر محمد جمیل سره د سعودي عربستان د سفارت په ودانۍ کې وکتل، په دې کتنه کې د دوه اړخیزو فرهنگي همکاریو په اړه بحث او خبرې اترې وشوې. د سعودي عربستان سفیر محمد جمیل د سعودي عربستان د پاچاهۍ د ملي ورځې د تأسیس د ۸۲ مې کلیزې په

مناسبت د ټولنې غړو ته بلنه ورکړې وه چې د ټولنې غړو يې بلنه ومنله، په ياده غونډه کې يې ګډون هم وکړ.

د ۲۰۱۳ز. د اپريل په مياشت کې د "تاجکستان او عربي هېوادونو" دوستۍ ټولنې د امام اعظم په نوم د تاجکستان د اسلامي پوهنتون د عربي محصلينو تر منځ يوه سيالي جوړه کړه چې شعرونه پکې لوستل کېدل، د سيالۍ ګډونوال په ډاليو ونازول شول؛ همدارنګه د «قرآن کريم د حفظ او تلاوت» سيالۍ چې د ۲۰۱۲ز. د مى له ۱۰مې تر ۲۲ مې د پلازمېنې د اړيکو په مرکز کې ترسره شوې، د تاجکستان او عربي هېوادونو د ټولنې د دوستۍ ټولنې د پام وړ ونډه لري، د همدې ټولنې په نوښت د ۲۰۱۳ز. د مى پر ۱۸ مه د امام اعظم رحمه الله په نوم د تاجکستان اسلامي پوهنتون د ختيځې ژبپوهنې د پوهنځي محصلينو د عربي له نامتو محقق او د تاجکستان ملي پوهنتون له استاد عيسيوا فيا عبدالباريفنا سره وکتل، دغه کتنه د تاجکستان پوهنتون د محصلينو لپاره له علم سره د مينې او ژمنتيا درس و، په ۱۳۹۳ز. کې د امام ابوحنيفه رحمه الله په نوم د تاجکستان د اسلامي پوهنتون په تالار کې د «تاجکستان د ملي ژبې او کلتور په وده کې د عربۍ تاريخي نقش» تر سرليک لاندې علمي غونډه جوړه شوه.

همدارنګه د ۲۰۱۷ز. د اپريل په مياشت کې د سوتيم اولغ زاده په نوم د تاجکستان د دولتي پوهنتون د ختيځو ژبو په څانګه کې يو علمي کنفرانس د «نوروز او پسرلی په عربي آثارو کې» تر عنوان لاندې جوړ شو، په دې کنفرانس کې د تاجکستان په جمهوريت کې د سعودي عربستان سفير عبدالعزيز ابن محمد البادي او د تاجکستان په جمهوريت کې د قطر سفير علي مبارک المهنندي ته بلنه ورکړل شوې وه او دغو لوړ پوړو مېلمنو يې بلنه ومنله، دغو مېلمنو ته د پوهنځيو د رئيسانو او مرستيالانو له خوا ښه راغلاست وويل شو. د کنفرانس د پرانېستې په مراسمو کې د تاجکستان ملي سرود د تاجکستان د دولتي پوهنتون د ژبو د پوهنځي د درېيم کال د

محصلینو له خوا په عربي وویل شو چې د کنفرانس ټولو حاضرینو په ځانګړې توګه د سفیرانو یې په زړه پورې هرکلی وکړ [ ۴۹-۴۸: ۱۰].

پرانېستې وینا د تاجکستان د ژبو دولتي پوهنتون د رئیس م. رجب زاده له خوا وشوه او وروسته د قطر او سعودي عربستان سفیرانو ویناوې وکړې، بیا د کنفرانس فرهنګي برخه پرانېستل شوه چې په دې برخه کې د محصلینو له خوا شعرونه ولوستل شول، د مېلمنو له تود هرکلي سره بدرګه شول، د غونډې په پای کې د پوهنتون د رئیس او سفیرانو له خوا د کنفرانس ځینو ګډونوالو ته ستاینلیکونه او ډالۍ ورکړل شوې [ ۲:۵].

له پورتنیو معلوماتو او څېړنو وروسته دې پایلې ته رسېږو چې د تاجکستان او سعودي عربستان تر منځ کلتوري اړیکې په ښه کچه کې دي، د دواړو هېوادونو تر منځ د تړونونو لاسلیکول، د فرهنګي ورځو نمانځل او د دواړو هېوادونو تر منځ د دروازو پرانېستل د دې خبرې ثبوتونه دي، د یادولو وړ ده چې په تاجکستان کې د ختیځو ژبو څو انسټیټوټونه شته چې په مستقیم ډول له زده کوونکو سره د عربي په زده کړه کې مرسته کوي او همدارنګه د عربي د زده کړې مرکزونه هم شته، تاجکپوهان په همېشنۍ توګه د نادرو عربي کتابونو په ژباړلو بوخت دي او د ارزښتمنو تاجکي اثارو ژباړه هم په عربي هېوادونو کې شوې ده.

د څېړنې په پایله کې موږ ته څرګنده شوه چې د شوروي په دوره کې هم له عربي هېوادونو سره د تاجکستان اړیکې ښې وې: «تاجکستان له یوه وروسته پاتې استعماري هېواده په نسبتاً لنډه موده کې په یوه پرمختللي هېواد بدل شو» همدا لامل دی چې تاجکستان نن سبا د ختیځو هېوادونو او نورو بهرنیو هېوادونو د مطالعې لپاره ډېر اړین دی؛ ځکه په هغو استازو کې چې له بهرنیو هېوادونو څخه تاجکستان ته راځي؛ زیاتره یې د اسیایي او افریقایي هېوادونو استازي دي. [ ۷:۵].

**منابع**

1_https://www.osiyoavrupo.tj/index.php/component/k2/item/946-robitai-far-angii-to-ikiston-bo-arabistoni-saud
2-А. Мирзозода. Суҳбат бо сафир. Адабиёт ва санъат, 30-юми январи соли 2020, №5 (2028), саҳ. 5.
3-Мунаввари Сафар, "Тоҷикистон ва Арабистони Саудӣ, Марҳилаи нави рушди ҳамкориҳо", "Ҷумҳурият", 23 сентябри соли 2019, № 181 (23784), саҳ.2
"Намоиши фарҳангии тамаддуни арабҳо дар Душанбе, рӯзномаи ИмрӯзNews, 7 майи 2018, саҳ.
4-Рӯзҳои фарҳангии Шоҳигарии Арабистони Саудӣ дар Тоҷикистон" маҷаллаи Фирӯза 4-5, 2018, саҳ. 3.
5- Саидов З. "Республик Таджикистан на межгосударственной арене до и после объявление политики "открытых дверей"", - Душанбе, 2015. - 315 стр., стр. 35.
6- Тоҷикистон дар ҳақиқат биҳишти рӯи замин будааст, Баҳори Аҷам №14 (453), 16 майи соли 2018, саҳ.4
7-Тиллобег Багадирович Акбаров. Равобити байналхалқии РСС Тоҷикистон. "Ирфон", Душанбе – 1965, - 58 саҳ; саҳ.5
8- Файзулло Тиллоев. Маҷаллаи "Дӯстӣ", шумораи №1, 2013с, саҳ.22 - 23
9- Фарзонаи Файзалӣ. Рӯзҳои фарҳангии Шоҳигарии Арабистони Саудӣ дар Тоҷикистон, Ҷумҳурият, 7 майи соли 2018, № 89 (23432)
саҳ. 2
10- Ҷавонон - таъмингарони равобиту дӯстӣ" Маҷаллаи Дӯстӣ, № 1 - 2, соли 2017, саҳ. 48-49

11- Шарипов А. Н. “Ҳолат ва дурнамои ҳамкориҳои ҶТ бо кишварҳои араб”. Душанбе, - 2017, 108 саҳ, саҳ. 7.
12- www. khowar.tj. Марзия Саидова, АМИТ «Ховар», Душанбе, 26 сентябр соли 2013
13- www.khowar.tj. Раъно Нусратуллоева, АМИТ “Ховар”, Душанбе, 13 сентябри соли 2013
www.mfa.tj
14- Гулджонов М. История международных отношений и внешняя политика Таджикистана (1917 -2008 гг.), -Душанбе: Нодир, 2009, -224 стр.)
15- Раззоқов Ш.А. История становления и развития дипломатических отношений РТ с арабскими государствами Персидского залива (1991-2010), Душанбе - 2010, 138стр.

څېړنوال ضیاالحق ضیا

# د ګالوان له پېښې وروسته د هند او چین د پولې په اوږدو کې د نوو پرمختګونو څېړنه

# After The Galwan Incident, a Study of New Developments Along The India- China Border

Assoc. Prof. Ziaulhaq zia

**Abstract**

After the Galwan incident (2020), India and China have started corps commander's level bilateral military meetings to manage and control the border conflict. After twenties rounds meetings, both sides were able to stop patrolling and infrastructures in five border conflict areas. Although this agreement was a major development to prevent the spread of border violence, but both sides have taken advantage of this period of peace and tranquility to carry out infrastructural works, military settlements and strengthening of their own forces along the line of Actual Control (LAC). Although this problem seems to have been solved in short term, but the preparations for the war along the LAC, seems that another bloody clash can turn into a big conflict between two nuclear powers any time. In this article, an attempt has been made to identify the causes of the Galwan incident, and to analyze the developments along the LAC after this incident, and to discuss and analyze the future of the border conflict between China and India.

Kay Words: China, India, Galwan Valley, LAC, Ladakh.

## لنډیز

د ګالوان له پېښې[1] وروسته هند او چین د سرحدي شخړې د مدیریت او کنټرول لپاره له څنډ پرته د قول اردو د قومندانانو په کچه دوه اړخیزې نظامي غونډې پیل کړې، دواړه خواوې له شلو غونډو وروسته پر دې وتوانېدل چې په پنځو سرحدي لانجمنو سیمو کې ګزمې او تعمیراتي کارونه بند کړي، که څه هم دا هوکړه د سرحدي تاوتریخوالي د پراخېدو په مخنیوي کې یو لوی پرمختګ وبلل شو؛ خو دواړو خواو د سولې او ارامۍ له دې دورې څخه په ګټې اخیستنې د سرحد په اوږدو کې بنسټیزو کارونو، نظامي مېشتېدنې او د ځواکونو پیاوړتیا ته زور ورکړ، که څه هم په لنډمهاله توګه دا ستونزه کابو شوې ښکاري؛ خو د ګډ سرحد په اوږدو کې د جګړې لپاره د تیاریو له نیولو داسې ښکاري چې هر مهال د یوه بل خونړي ټکر رامنځته کېدل په یوې سترې شخړې بدلېدلای شي.

په یادې مقاله کې هڅه شوې چې د ګالوان پېښې زمینې او لاملونه په ګوته شي، له دې پېښې وروسته تر ۲۰۲۴ز. پورې د سرحد په اوږدو کې رامنځته شوې پرمختیاوې وڅېړل شي او د چین او هند د سرحدي شخړې د راتلونکي په اړه بحث او شننه ترسره شي.

### کلیدي ټکي

چین، هند، ګالوان دره، ایل اې سي، لاداخ.

[1]. ګالوان د هند او چین د ګډ سرحد په لوېدیځه برخه کې یوه غرنۍ سیمه ده، په دې ځای کې د دواړو هېوادونو د پوځونو تر منځ د ۲۰۲۰ز. د جون پر ۱۵ مه نښته شوې وه چې له امله یې ۲۰ هندي او ۴ چینایي سرتېري وژل شوي وو.

**سریزه**

د چین او هند سرحدي شخړې په سوېلي اسیا کې د استعماري ځواک د میراث په توګه پاتې دي چې په ۲۱ مه پېړۍ کې د راپورته کېدو په حال کې د سترو ځواکونو په توګه د دواړو ګاونډیو هېوادونو ترمنځ د سیالۍ په رېښو بدلې شوې دي، که څه هم دا شخړې دواړو هېوادونو ته له پخوا ورپاتې دي؛ خو په تېرو لسیزو کې په دواړو هېوادونو کې واک ته د ملتپالو حکومتونو په رسېدو هر یوه د نړیوال موقعیت او ځواک لپاره هڅې ډېرې کړې او تر منځ یې لانجمن سرحد د نظامي ځواک د ښودلو په میدان بدل شوی دی چې د یوه لوري له خوا د ملي ځواک ښودنه د بل لوري د حساسیت د ډېروالي او ډېربېدنې وېرې لاملېږي او دا تصور رامنځته کوي چې نظامي غوره والی او خاوره یې تر ګواښ لاندې راغلې ده. په همدې لړ کې په ۲۰۲۰ز. کې د ګالوان خونړۍ پېښې د دواړو لوریو تر منځ خطر نور هم ډېر کړ او دوه اړخیزو اړیکو ته یې زیان ورساوه.

د هند او چین ګډ سرحد چې ۳۴۸۸ کیلومتره اوږدوالی لري؛ په ختیځې، منځنۍ او لوېدیځې برخې وېشل شوې دي چې په ترتیب یې د هند په لوري کې ارناچال پرادېش، اتراخنډ، هیماچل پرادېش او لداخ پراته دي. د ګالوان پېښه د دغه سرحد په لوېدیځه برخه لاداخ کې رامنځته شوې وه چې موږ یې په اړه هماغه مهال یوه مقاله د سیمه ییزو مطالعاتو د ژورنال په (۵٦ـ۵۷) ګڼه کې خپره کړې وه؛ له پېښې درې کاله وروسته یو ځل بیا د دې اړتیا ولیدل شوه چې دا موضوع وڅېړل شي او معلومه شي چې له دې پېښې وروسته د سرحد په اوږدو کې کوم پرمختګونه شوي دي، تر دې مهاله د پېښو د پراخېدو د مخنیوي لپاره کوم ګامونه اخیستل شوې دي او ایا د دوی تر منځ په راتلونکي لنډمهال کې د سرحدي شخړې د دایمي حل شونتیاوې شته؟ دا هغه پوښتنې دي چې د دغې څېړنې په اوږدو کې به یې د ځواب موندلو هڅه وشي.

**د موضوع اهمیت**

د دوو سترو او هستوي وسله والو ګاونډیو هېوادونو په توګه د هند او چین سرحدي شخړه او مرګوني ټکرونه نه یواځې د دواړو هېوادونو؛ بلکې د سوېلي اسیا او نړۍ لپاره بدې پایلې لرلای شي، یو له دې ډول ټکرونو څخه د ګالوان خونړۍ پېښه وه؛ خو له دې پېښې درې کاله وروسته هم د دواړو هېوادونو تر منځ د سرحدي شخړو په اړه د پرمختګونه څېړل او د راتلونکي په اړه یې بحث او شننه وړاندې کول ارزښتمنه، علمي، څېړنیزه موضوع بلل کېږي.

**د موضوع موخه**

د یادې علمي ـ څېړنیزې مقالې موخه د ګالوان له پېښې وروسته د هند او چین تر منځ  د سرحد په اوږدو کې د پرمختګونو څېړل او د راتلونکي په اړه یې بحث او شننه وړاندې کول دي.

**د څېړنې مېتود**

د یادې څېړنې مېتود توصیفي ـ تحلیلي دی.




Source: Asia Report N°334, Thin Ice in the Himalayas: Handling the India-China Border Dispute, P. 35.

د هند او چین د ګډ سرحد ختیځه، منځنۍ او لوېدیځه برخه

**د ګالوان پېښې د رامنځته کېدو لاملونه او زمینې**

په ۲۰۱۷ز. کې د دوکلام له پېښې[۲] وروسته بېجینګ له نوي ډیلي سره د ډیپلوماتیک نږدېوالي هڅې وکړې. په لومړیو کې چین هیلمن و چې کولای شي لومړي وزیر نریندرا مودي دې ته وهڅوي چې د امریکا له متحده ایالاتو سره متحد نه شي. چینایي شنونکي پر دې باور وو چې نوی ډیلی هیلمن دی له واشنګټن څخه به د هند او پاسفیک سمندر په ستراتیژۍ کې له ګډون کولو، په سویلي اسیا او هند سمندر کې نظامي همکارۍ او ډېرې سرچینې ترلاسه کړي؛ خو هند نه په بشپړ ډول له امریکا سره متحد کېدو ته ژمن و او نه یې په ښکاره له چین سره دوښمنۍ غوښته، بیا هم د دوی امنیتي اداري په ډېرېدونکې توګه د یو او بل په اړه محتاطې شوې وې[(۱)].

د دواړو خواو تر منځ بې باورۍ په ډېرېدو وې او داسې ښکارېدل چې د سرحدي شخړې د نوي کېدو لپاره تیار دي. د بې باورۍ د ژورېدو له امله پر ډیپلوماتیکه راشه درشه سربېره دواړو دولتونو د سرحد په اوږدو کې د خپلو ځمکنیو دعوو او دریځونو پیاوړتیا ته دوام ورکړ، هند په چټکۍ هڅه وکړه چې په سرحدي زیربناو کې له چین سره شته توپیر را کم کړي او د ۲۰۱۹ز. په اپریل کې یې د داربوک ـ شیوک ـ دولت بیګ اولدي لویې لارې چې له ایل اې سي[۳] سره څه ناڅه ۱۰ کیلومتره په موازې توګه پرتې دي؛ بشپړې کړې، د دې سړک په ګډون د سرحد په اوږدو کې څو نورو پروژو د هند پیاوړتیا د نظامي سیستمونو د ځای پر ځای کېدو لپاره ډېره کړه.

نوي ډیلي د ۲۰۱۹ز. په اګسټ کې د لاداخ په ګډون د جمو او کشمیر نیمه کورواکه حالت لغوه کړ او هغه یې د فدرال اداري لاندې په دوو اتحادي سیمو (په

[۲]ـ د ۲۰۱۷کال د جون په ۱۸ مه نېټه د ۲۷۰ په شاوخوا کې هندي پوځویان د سکیم له سرحد څخه دوکلام سیمې ته ورغلل، ترڅو د هغو چینایي سرتېرو مخه ونیسي چې د سړک په جوړولو بوخت وو، خو د اګسټ په ۲۸ مه نېټه دواړو خواوو اعلان وکړ چې دوی له دې سیمو خپل ځواکونه باسلي دي.

[3] Line of Actual Control

لوېدیځ کې جمو او کشمیر او په شمال کې لاداخ) ووېشل، کله چې د نوو اتحادي سیمو نقشه خپره شوه؛ د لاداخ د اتحادیې د یوې برخې په توګه د چین تر ولکې لاندې پر آکسایي چین د نوي ډیلي پر دعوو نوي ټینګار ته په کتو په ملګرو ملتونو کې د چین سفیر د نوي ډیلي له خوا دا یو داسې ګام وباله چې د چین حاکمیت ننګوي او په سرحدي سیمو کې د سولې او ثبات د ساتلو په اړه دوه اړخیزې هوکړې تر پښو لاندې کوي. د ۲۰۲۰ز. په لومړیو کې هندي پوځي قومندانانو د لاداخ په ختیځ کې د زیربناو د ښه والي او د ګزمو پیاوړتیاوې ډېرې کړې، په ځانګړې توګه له آکسای چین سره نږدې بېجېنګ دې ټولو پېښو ته د بریدګرې ستراتېژۍ د یوې برخې په توګه کتل.

د چین له نظره د نریندرا مودي حکومت په پیاوړې ارادې داسې بدلونونه رامنځته کړي وو چې په سرحد کې یې د چین غوره دریځ له منځه وړه. چینایي کارپوهان پر دې باور وو چې د هند پرله پسې ګزمې او د سړکونو جوړول د چین تر ادعا لاندې ځمکې د ګواښلو په موخه ترسره کېدل. دا په داسې حال کې وو چې چین له پخوا د سرحدي زیربناو له نظره غوره والی لاره او د سترو لارو او اوسپنیزو پټلیو شبکې یې جوړې کړې وې چې هر مهال یې کولای شول ځواکونه د هېواد له مرکزي برخې سرحدونو ته ولېږي، د چین وېره تر یوې کچې له دې واقعیت څخه هم راولاړه شوې وه چې په سرحد کې د نظامي ځواک توازن (لږ تر لږه له ۲۰۲۰ز. مخکې) له څو اړخونو څخه د هند په ګټه وو. له څېړنو څخه دا معلومېدل چې هند په سرحد کې په پرتله ییزه توګه ډېر شمېر ځواکونه لرل چې د چین لپاره یې د ګرمې وسلې د نه کارولو د هوکړې له امله اهمیت لاره.

د سرحد په اوږدو کې د هند د خوځښتونو په لیدلو بېجینګ هم د سرحدي سیمو د ولکې د پیاوړتیا لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړ. په همدې لړ کې یې د ۲۰۱۷ز. په جولای کې د تبت سیمه ییز دولت د لومړي ځل لپاره د هند او بوتان په سرحدونو کې د ٦۲۸ کلیو مترو د جوړولو پروژه تصویب کړه. چین پر سترو لارو

سربېره په تبت او سین کیانګ کې د لسګونو هوايي ډګرونو او د چورلکو د کېناستو ځايونو جوړولو او نبه والي ته دوام ورکړ. دا هوايي ډګرونه او سترې لارې چې هم نظامي او هم نانظامي چارې ترسره کولای شي، له هند سره په ټول سرحد کې د چين ځواکمنتيا په ګوته کوي (۲).

له بلې خوا د چينايي څېړونکي هوشيشنګ په وينا د ګالوان درې پېښه د هند له خوا د ۱۹۹۳، ۱۹۹٦ او آن د ۲۰۰۵ او ۲۰۱۳ز.کال د هوکړو د اوړدمهاله نقض پايله وه. نوموړی په دې اړه څلور دليلونه وړاندې کوي: لومړی دليل په ۱۹۹۹ز.کال کې د هند له خوا په Dongzhang سيمه کې د Chumi Gyatse څړوبو(ابشارونو) کنټرول و چې په سيمه ييزه ژبه کې سپېڅلي څړوبي بلل کېږي. د هوشيشنګ دوم دليل د ۲۰۱۹ز.کال په اګسټ کې د هند په اساسي قانون کې د جمو او کشمير د سياسي حالت بدلون و. په دې کې د جمو او کشمير د ځانګړي حالت لغوه کول او جمو او کشمير يې د مرکزي حکومت لاندې د لاداخ او جمو او کشمير په اتحادي سيمو وېشل راتلل. درېيم دليل هغه نوی يرغل و چې په ۲۰۲۰ز.کال کې د هند د نظامي ګزمو له خوا ترسره شوی و. هو شيشنګ وايي چې دا ګزمې په بې مخينه توګه يرغليزې کېدې، پلونه او لارې يې جوړولې او د ګزمې سيمې يې په همېشنۍ توګه پراخولې، د هو شيشنګ څلورم او وروستی دليل د لومړي وزير نريندرا مودي له خوا د هغې هوکړې تر پښو لاندې کول و چې په ۱۹۸۸ز.کال کې په بېجينګ کې د راجيو ګاندي او دنګ شيائوپينګ تر منځ لاسليک شوې وه. نوموړي غوښتل له دې لارې د اړيکو نوو اړخونو ته پراختيا ورکړي. د نوموړي له نظره مودي سرحدي شخړه د دوه اړخيزو اړيکو د مرکزي اړخ په توګه راپورته کړه (۳).

دغو پرمختګونو، پېښو او زمينو دې ته لاره هواره کړه چې د ګالوان خونړۍ پېښه رامنځته شي.

## د ګالوان جګړې پېښېدل

د ۲۰۲۰ز. د جون پر ۱۵ مه د ګالوان له پېښې مخکې د دواړو لوریو سرتېري د همدې کال د جون پر ۵ مه له یو او بل سره ونښتل او له دې وروسته ۵۰۰۰ چینایي سرتېرو ګالوان درې، ګوګرا هاټ سپرینګ او پانګونګ ولاړو اوبو په سیمو کې پرمختګ وکړ او د دمچوک او دپسانګ چاونۍ والې سیمې یې پیاوړې کړې. دغو پرمختګونو د هند پوځ حیران کړ. د چینایي سرتېرو د لا ډېر پرمختګ د درلودو په موخه هندي پوځ په چټکۍ په ایل اې سي کې نظامي خوځښتونه پیل کړل. بن بست په ځانګړې توګه په ګالوان دره کې او د پانګونګ ولاړو اوبو په شاوخوا کې ډېر و. په لومړیو کې یوه داسې هوکړه وه چې د ګالوان په سیند کې یو ستر کړلېچ به د ګزمې د دوه اړخیز حد په توګه عمل کوي. د ۲۰۲۰ز. د می په میاشت کې د چین پوځ خپلې خېمې، ځواکونه او تجهیزات د پام وړ لوري ته ولېږل، داسې ځای چې مخکې یې هلته همېشنی موقعیت نه لاره. چینایانو، د چین په لوري کې د ګالوان له کړلېچ څخه د پرمختګ د دلیل په توګه د هند له خوا د یوه پل جوړولو ته ګوته نیوله. هندي راپورونو تاییدوله چې یو پل جوړ شوی؛ خو دا پل د ایل اې سي په ۷ عشاریه ۵ کیلومتري کې دی. د چین پوځ دا مهال د درې په سوېل کې د پانګونګ د ډنډ په شاوخوا کې د هند موقعیت ته نږدې شو [۴].

د جون پر ۱۵ مه په ګالوان کې نښته بیا پیل شوه، څو ورځې وروسته له دې هوکړې چې دواړه خواوې به د ګوګرا هاټ سپرینګ او درې څخه ځواکونه باسي، اړخونو یو او بل له هوکړې څخه په سرغړونې ملامتول. د چینایي سرچینو په خبره تاوتریخوالی هغه مهال پېښ شو؛ کله چې هندي سرتېري داسې ځای ته ننوتل چې د چین له خوا څارل کېدل؛ خو د نورو سرچینو په

وینا ښېښه هغه مهال رامنځته شوه؛ کله چې هندي سرتېري په یوې نرۍ لارې کې پر چینایي عسکرو ور پېښ شول، د ټکر پر مهال یو هندی سرتېری ژورې کندې ته ور ټېل وهل شو او له دې سره سم د دواړو خواو تر منځ نښته پیل شوه، هغه څه چې پېښ شول؛ جزیات یې مبهم دي؛ خو په دې کې شک نشته چې دا نښته ډېره خونړۍ وه، یو په یو جنګ و او مېخوال لرګي او تېږې پکې د جنګي الو په توګه کارېدې، د دې نښتې له امله لږ تر لږه په هندي لوري کې شلو او په چینایي لوري کې څلورو سرتېرو ژوند له لاسه ورکړ (۵).




Source: Asia Report N°334, Thin Ice in the Himalayas: Handling the India-China Border Dispute, P. 37.

د سرحد په لوېدیځ کې ډپسانګ، ګالوان دره، ګوګرا هاټ سپرېنګ او یو شمېر نورې لانجمنې سیمې

**د ګالوان له پېښې وروسته د سرحد په اوږدو کې رامنځته شوي پرمختګونه**

د ګالوان له پېښې وروسته دواړو هېوادونو د تاوتریخوالي د زیاتېدو د مخنیوي په موخه یو شمېر هڅې وکړې چې د ایل اې سي په اوږدو کې یې د لنډ مهال لپاره وضعیت ارام کړ؛ خو د وضعیت پر نسبي اراموالي سربېره دواړو هېوادونو د سرحد په اوږدو کې پراخ پوځي خوځښتونه پیل او زیربنایي کارونه یې پراخ او چټک کړل چې په لاندې توګه تر بحث لاندې نیول شوې دي.

**الف- د تاوتریخوالي د کموالي هڅې**

د ګالوان له نښتې وروسته د سرحد د لوېدیځې برخې په لانجمنو سیمو کې د بن بست د حل په موخه د دواړو خواو د پوځیانو تر منځ شل دورې مستقیمې خبرې اترې وشوې، د ۲۰۲۳ز. تر جولایه د دواړو هېوادونو نظامیان د قول اردو قومندانانو په کچه د خبرواترو په پایله کې د لاندې پنځو خنډمنو سیمو په رامنځته کېدو او جلاوالي هوکړې ته ورسېدل:

د ۲۰۲۰ز. په جون کې د ګالوان درې په PP-14 نقطه کې، د ۲۰۲۱ز. په فبروري کې د پانګونګ تسو په شمالي او سوېلي غاړو کې، په ۲۰۲۱ز. د ګوګرا په PP-17 A او [٦]PP-17 نقطو کې او د ۲۰۲۲ز. په سپټمبر کې د ګوګرا هاټ سپرېنګ په PP-15 نقطه کې، په PP-15 کې د جدا کېدو وروستی بهیر په پنځو مرحلو کې بشپړ شو: ودرېدل (مخ پر وړاندې مېشتېدل) خپلو اړوندو سیمو ته د ځواکونو ګرځول، ټول لنډمهالي تعمیرونه او اړوندې نورې زیربناوې لرې کول، له ودرېدو مخکې ځایونو ته د سیمو د اصلاح بیا راګرځول او ډاډ ترلاسه کول چې جوړ شوي تعمیرونه ړنګ شوي او په دوه اړخیزه توګه تایید شوې دي[٦].

دغو پرېکړو د نظامي خنډمنو سیمو پر رامنځته کېدو سربېره د محدودو ځواکونو بهرېدل هم له ځان سره لرل. دغو خبرواترو او هوکړو د ناغوښتلي

تاوتریخوالي په کمولو کې مرسته وکړه، داسې بریا چې باید له پامه و نه غورځول شي؛ خو له سرحد سره په نږدې سیمو کې د نښتو شونتیا پر خپل ځای پاتې ده[۷].

په هر حال؛ د دې هوکړې په پایله کې دواړو خواو خپل ځواکونه، وسلوال سیستمونه او تجهیزات له سرحده لرې کړل. د گالوان په دره کې دواړه خواوې د نښتې له سیمې ۱ عشاریه ۵ کیلومتره په شا شول او یوه نوې خنډمنه سیمه یې رامنځته کړه چې یو اړخ به هم هلته گزمه نه استوي [۸].

په ټوله کې د دې هوکړې هندي نقادان وايي چې د نوو خنډمنو سیمو ځینې برخې د چین له خاورې بهر د هند په دننه کې جوړې شوې دي او نوي ډیلي په دې ځایونو کې له دې مخکې د گزمې کولو حقوق لرل؛ خو اوس یې له لاسه ورکړي دي. په لاداخ کې د ټولنې مشرانو ویلي دي چې په خنډمنو سیمو کې څړځایونه راځي او سیمه ییز ژوند یې اغېزمن کړی دی [۹].

د ۲۰۲۳ز. په جنوري کې د لاداخ د مرکز لیح د پولیسو مشر پي. ډي. نېتیا ویلي وو چې هند په ختیځ لاداخ کې د گزمې د نه کولو یا محدودیت په دلیل د گزمو له ٦۵ څخه ۲٦ نقطې له لاسه ورکړې دي. نېتیا زیاته کړې وه چې هند پر دې سیمو کنټرول له لاسه ورکړی. داسې هم ویل کېږي چې د خنډمنو سیمو رامنځته کول پر خپلې خاورې د هند د کنټرول بایلل دي [۱۰].

که څه هم چې د پوځیانو فزیکي جدايي په هغو سیمو کې چې خنډمنې سیمې پکې رامنځته شوې دي؛ د نښتو گواښ تر ډېره کم کړی؛ خو شونې ده چې تاوتریخوالي بیا راپورته شي؛ ځکه دواړه خواوې د سرحد په نورو سیمو کې نظامي شتون او د تجهیزاتو پیاوړتیا ته دوام ورکړی دی.

**ب- ټکرونه او په ګانده کې یې د پېښېدو شونتیاوې**

د ګالوان له پېښې وروسته دواړو خواو غوښتل له یوې بشپړې نښتې ځان وساتي او د نظامي قومندانانو په کچه یې دوه اړخیزې غونډې پیل کړې؛ خو د وخت په تېرېدو پر ایل. اې. سي فشارونه ډېرېدل، په دواړو خواو کې ودانیزې پروژې او د ځواکونو ځای پر ځای کول د کړکېچونو د ډېرېدو پایله او د ډېرې بې باورۍ لاملونه وو، که څه هم د خنډمنو سیمو د رامنځته کېدو له امله د ایل اې سي د لوېدیځو برخو په اوږدو کې د تاوتریخوالي د پېښېدو شونتیاوې کمې شوې؛ خو په ګانده کې دا شونتیا شته چې نښتې بیا راپورته شي، په ځانګړې توګه په داسې سیمو کې چې له تاکتیکي نظره مهمې دي، د دپسانګ هواره ځمکه د اکسایي چین پر لوري هندي ټانکونو ته لاره اسانولای شي، د نوي ډیلي لپاره دا سیمه د سیاچین یخچال ته چې د هند تر کنټرول لاندې ده؛ لار برابر وي (دا سیمه د نړۍ د لوړې جنګي سیمې په توګه پېژندل کېږي او پاکستان یې دعوه لري)، هندي پوځیان له یوې داسې سیناریو وېره لري چې په هغه کې به چین وکولای شي سیاچین ته د هند لارې وتړي او پاکستان ته به دا فرصت ورکړي چې تر خپلې ادعا لاندې سیمې لاندې کړي. چین او هند څو ځو ځلې په دې سیمه کې د یو او بل د ګزمو مخه هم نیولې ده.

د سرحد د ختیځې برخې یو شمېر سیمې هم د اندېښنې وړ دي. د ۲۰۲۲ز. د ډسمبر پر ۹ مه د دواړو خواو سرتېري د آرناچال پرادېش د تاوانګ په یانګ تسه سیمه کې سره ونښتل چې په پایله کې یې شپږ هندي سرتېري زخمیان شول. دواړه خواوې د نښتې د رامنځته کېدو د لاملونو په اړه اختلاف لري؛ ځکه په سیمه کې د ایل اې سي هندي او چینایي نقشه له یوه او بل سره توپیر لري. بېجینګ هندي سرتېري په خپلې خوا کې په ګزموکولو تورنول، په داسې حال کې چې نوي ډیلي چینایي سرتېري پر دې تورنول چې د هند پر خاوره یې تېرې کړی دی او هڅه یې

کوله شته حالت په خپله خوښه بدل کړي. د نوي ډيلي په خبره د يانګ تسه خط الرأس چې د هند په واک کې دی؛ له تاکتيکي نظره مهم دی؛ ځکه د هغه لوړوالی د سيمې په دننه او بهر کې د هندي خوځښتونو او له بوتان سره په لانجمنه سيمه کې د چينايي فعاليتونو د ليدو وړتيا لري (۱۱).

که څه هم چې د هند پوځ خط الرأس په لاس کې لري؛ خو د چين د خلکو د ازادۍ پوځ (پي ايل اې[4]) له خوا جوړې شوې زيربناوې دوی ته دا امکان ورکوي چې په چټکۍ پوځيان بسيج او هندی لوری له ننګونې سره مخامخ کړي(۱۲).

پر لوړو څوکو د هند د کنټرول پای ته رسول به کېدای شي د چينايانو لپاره دومره ننګونکی نه وي؛ ځکه هغه ځمکه چې هند يې په واک کې لري؛ وړ او مناسبه نه ده، د يانګ تسه د پېښې په اړه يو وروستی تحليل چې د استراليا د ستراتيژيک سياست د مؤسسې (اې ايس پي ای) له خوا ترسره شوی؛ دې پايلې ته رسېدلی چې د همېشني لېږد را لېږد زيربناو او په دې پورې د اړوندو وړتياو ډېرېدل به په دې برخه کې د هند او چين لپاره ټاکونکی وي، د اې ايس پي ای راپور دعوه کوي چې د چين له ستراتيژي داسې ښکاري چې پي ايل اې ته به اجازه ورکړي، د يانګ تسه لوړې څوکې له هندي سرحدي ځواکونو ونيسي (۱۳).

داسې شونتياوې هم شته چې د دوه اړخيزو هوکړو ګونګوالی به بدګوماني رامنځته کړي. په ۱۹۹۶ز. کې داسې هوکړه شوې چې د ايل اې سي په اوږدو کې ځای پر ځای شوې وسلې او ځواکونه راکم کړي؛ خو دوی و نه توانېدل چې ځانګړې کچه يې وټاکي، که څه هم چې د سرحد په اوږدو کې له تخنيکي پلوه د زيربناو جوړول او نظامي ځواکمنتيا له هوکړو سرغړونه نه ښکاري؛ خو بې باوري زياتولای شي، د شوو هوکړو پر اساس د امنيتي تضمينونو په شتون کې د باور له

[4]. People liberation Army

لاسه ورکول دا دعوه چې د دوارو خواو لپاره نظامي ځواکمنتیا د باور وړ غوراوی جوړولای شي؛ لا پیاوړې کوي، په ورته مهال هند او چین د امتیازاتو د ترلاسه کولو لپاره هڅې رواني ساتلې دي چې له امله به یې د حسابي اشتباه خطر لوړ پاتې وي.

په ټوله کې داسې نه ښکاري چې د دوی تر منځ دې سرحدي نښتې ناڅاپي پېښېږي؛ بلکې تاوتریخوالي له نښتو یا سترو بن بستونو وروسته ډېرېږي (چې په ډېرو جنجالي سیمو د پسانگ، پانگون، چومور، براهوتي او دوکلام کې پېښېږي) او په دوه اړخیزو خبرو اترو ځارل کېږي چې د نښتو د پراخېدو مخنیوی وکړي [۱۴].

د سرحد په اوږدو کې یواځې څو لانجمنې سیمې د ټکرونو لاملېدلای شي، په ځانگړې توگه لاداخ به د ټکرونو د مرکز په توگه پاتې وي [۱۵].

دوارو خواوې په ډېرېدونکې توگه دا سرحد ازمايي، تر دې چې ځینې حیرانتیا څرگندوي چې د گرمو وسلو د نه کارولو هوکړه څرنگه پر خپل ځای پاتې ده.

**ج- د سرحد په اوږدو کې د چین د خوځښتونو زیاتېدل**

د ۲۰۲۰ز. د جون پر ۱۵ مه د گالوان له پېښې وروسته چین له دوو لکو ډېر پوځیان[۱۶] او درنې وسلې (راکټ وېشتونکي او د هوایي دفاعي مزایلو سیسټمونه سین کیانگ او ایس ۴۰۰) د سین کیانگ او تبت په سیمو کې ځای پر ځای کړل [۱۷]، په داسې حال کې چې چین اوسمهال د سرحد په اوږدو کې د خپلو زیربناو پر مټ یواځې د یوې اونۍ په موده کې ۱۲۰زره سرتېري سرحد ته لېږلای شي.

د چین قانون جوړوونکو (د چین د خلکو ملي کنگرې همېشنۍ کمېټې) په ۲۰۲۱ز. کې د چین د ځمکنیو سرحدي سیمو د ساتنې او گټې اخیستنې لپاره نوی قانون تصویب کړ [۱۸].

د دغه قانون پر اساس دولت ته دنده سپارل شوې چې د سرحدي دفاع او د سرحدي سیمو د اقتصادي او ټولنیز پرمختگ ترمنځ همغږي زیاته کړي [۱۹].

دغه قانون د ۲۰۲۲ز. په پیل کې (له هند سره د لانجمنو سرحدونو د بیا رغونې لپاره) پلی شو، یاد قانون سرحد ته د نږدې سیمو له اوسېدونکو سره د سرحدي دفاعي جوړښتونو د پیاوړتیا لپاره همکاري کوي، چین د خپلو هڅو لپاره د سرحدي کلیو او ښارونو پر جوړولو او د لانجمنو او بې څښتنه ځمکو پر تدریجي نیونې ټینګار کوي، دا هېواد په سوېلي چین سمندر کې د جزیرو د بېرته نیولو لپاره هم ورته تاکتیک کاروي، دغه قانون سرحدي کلیو ته اجازه ورکوي چې د چین د غرور ساتلو لپاره بېلابېل جنګي چلندونه غوره کړي او دا کلي په سیمه ییزو نیمه نظامي اډو بدل کړي؛ همدارنګه د چینایي رسنیو د راپورونو پر اساس پي ایل اې غواړي چې د مصنوعي ځیرکتیا وسلې تولید کړي، دوی اعلان کړی چې داسې ټوپک کاروونکي روباټونه چې په بې سیمه توګه به د یوې لرې پرتې قومندانۍ له مرکزه کار کوي؛ ځای پر ځایوي، دا چې دغه سرحد د ګزمو او څارنې لپاره سخت ځای دی؛ نو دا ډول روباټونه د مېشتو ځواکونو بار راکمولای شي [۲۰].

چین د دپسانګ په لانجمنو سیمو کې نوې اډې جوړې کړې دي او غواړي چې هندي ګزمې د دوی حدودو ته له ورسېدو منع کړي. د وسلو نوي وژونکي سیستمونه یې د تبت او سین کیانګ نظامي سیمو ته لېږلي دي چې په دې کې د ۰۸ ډوله زغروال ګاډي، د ۱۲۲ کالیبر کشېدونکي هویتزرونه، د PHL-03 ګڼ مزایل وېشوتکي او (ZTQ-15) سپک ټانکونه راځي. د ۲۰۲۲ز. په مارچ کې د چین د انرژي پروژې CSIS راپور ورکړی و چې هوایي ځواکونه په پراخې کچې سره ډېرېږي، که څه هم چې د هوایي ځواکونو تر منځ د بریدګرو هوایي پیاوړتیاو توپیر د هند په ګټه دی، وروستي انځورونه ښیي چې چین خپلې ټولې هڅې په دې برخه کې د ځواکمنتیا لپاره ترسره کړې. د CSIS راپور د تبت په کورواکه او د اویغور د سین کیانګ په کورواکه سیمه کې لږ تر لږه ۳۷ هوایي ډګرونه او د چورلکو تمځایونه په

گوته کړې دي چې له ۲۰۱۷ز. را په دې خوا نوي جوړ شوي او په پام وړ توګه پراخ شوي دي. له دې هوايي ډګرونو څخه يې درې - Xigaze-Tingri ،Lhuntse او Ngari-Burang په تبيت کې له ايل اې سي په ۶۰ کيلومترو لږ واټن کې پراته دي. د ايل اې سي په چينايي لوري کې د پام وړ فزيکي بدلونونو ته په پام له ۲۰۱۹ز. مخکې حالتونو ته ورګرځېدل لرې ښکاري، د نورو شواهدو تر څنګ د سي ايس ای ايس راپور هم دا باور څرګندوي چې بېجينګ له سرحده په ډېر شا ته تګ فکر نه کوي (۲۱).

**د- د سرحد په اوږدو کې د هند نظامي پرمختګونه**

هند له ګالوان پېښې وروسته د لاداخ په ختيځ کې له ۵۰ زرو ډېر سرتېري ځای پر ځای کړل او د خپلو ځواکونو زياته برخه يې له کشمير څخه شمالي سرحدونو ته ولېږله، د وسلو درانه سيستمونه يې له چين سره په سرحد کې ځای پر ځای کړل، همدارنګه يې اضافي ځواکونه د لاداخ په پلازمېنه کې له پخوانيو مېشتو سرتېرو سره په همېشنۍ توګه ځای پر ځای کړل، ياد هېواد د دې سيمې ځمکنيو سختو شرايطو ته په پام يواځې پر ګزمو کولو د تکيې پر ځای ډېره خدمه له څارونکو ډرونونو څخه د ګټې اخيستنې لپاره وروزله او د ايل اې سي په اوږدو او هندي سمندر کې يې د څارنې لپاره له متحده ايالاتو د MQ-98 Predator ډرونونو سودا پيل کړه (۲۲).

د ګالوان پېښې پر مهال په سيمه کې د هند نظامي زيربناوې کمې وې او يواځې يې ۱۵۰۰۰ سرتېري په ليې کې مېشت وو، درې کاله وروسته د سرحد په دې ځای کې د ځواکونو ګڼه ګوڼه او د زيربناو کچه پراخه شوه. په تېرو درېو کلونو کې د لاداخ ختيځ ته اطلاعاتي، څارګر او د پېژندلو نوي تجهيزات واستول شول، په ايل

اې سي کې د سرتېرو د چټکې مېشتېدنې د اسانتیا لپاره د دوی د اوسېدو ځایونه، سړکونه، پلونه او پټنځایونه جوړ شول چې د تېر په پرتله یو ستر بدلون رانښيي [۲۳].

**هـ- د سرحد په دواړو غاړو کې د زیربناو پراختیا**

د ګالوان له پېښې وروسته هند او چین د سرحد په اوږدو کې د زیربناو پر پراختیا فشار لا ډېر کړ. دواړو هېوادونو د ایل اې سي په اوږدو کې د نظامي پوستو، سړکونو، پلونو، تونلونو او نورو زیربناو جوړولو او پرمختګ ته مخه کړه. د اینډین اکسپرس د شمېرو له مخې د هند د سرحدي سړکونو اداري یواځې په لاداخ کې په ۲۰۲۱ز. ۱۹ او په ۲۰۲۲ز. ۲۶ پروژې بشپړې کړې وې او په ۲۰۲۳ز. کې یې ۵۴ پروژې تر کار لاندې نیولې وې چې په دې کې پلونه، سړکونه او نورې بېلابېلې پروژې راتلې. هند په دې مالي کال (۲۰۲۳-۲۰۲۴) کې د سرحدي زیربناو د پراختیا لپاره په ځانګړې توګه د ایل اې سي په اوږدو او د لاداخ په ختیځ کې ۵۰۰۰ کروړه روپۍ ځانګړې کړې دي چې په ۲۰۲۲- ۲۰۲۳ز. کې له ۳۵۰۰ کروړو ډېرې دي. د ۲۰۲۳ز. په لومړیو کې له اړیکوالو شبکو تر مخه پوستو پورې لجستیک اډې او د ځواکونو د ګڼې ګوڼې د ډېرېدو د اړتیاو د پوره کولو لپاره له ځمکې لاندې پټنځایونه جوړ شوي دي او له سرحد سره نږدې یې د ۲۲۰۰۰ پوځیانو د اوسېدو او ۴۵۰ زغروالو موټرو تخنیکي ځایونه جوړ کړي دي؛ همدارنګه یې داسې همېشني دفاعي او خوندي پټنځایونه جوړ کړي چې ځواکونه یې کولای شي ایل اې سي ته نږدې پاتې او هرې پېښې ته چټک غبرګون وښيي [۲۴].

هند د ګالوان له پېښې وروسته په تېرو درېو کلونو کې د چورلکو د ډګرونو پر جوړولو همېشني تمرکز ته په پام پر دې توانېدلی چې د ایل اې سي په اوږدو کې له چین سره د زیربناو توپیر راکم کړي. هندي پوځ د سرحد په ختیځې برخې کې د عملیاتي وړتیاو د پیاوړتیا لپاره پراخ ګامونه اخیستي چې د لېږد را لېږد وسایلو

برابرول، کره لاربښود، مهمات، پر پرمختللي ټکنالوژۍ د څارنې تجهیزات، رادارونه او وسلې پکې راځي [۲۵].

هند د سرحد په اوږدو کې د خپلو هڅو د پراختیا په لړ کې د پرجنب او جوش کلیو برنامې تر چتر لاندې د لرې پرتو کلیو د حالاتو د ښه والي په هڅه کې دی، دغه کلي لږو وګړو او ناکافي زیربناو ته په کتو د هند د نورو سیمو په پرتله له پام وړ پرمختګونو څخه بې برخې دي [۲۶].

د ۲۰۲۳ز. د اپریل په میاشت کې هند د ایل اې سي په اوږدو کې د ۲۹۶۷ کلیو د پراختیا لپاره د ۶۰۰ میلیونه ډالرو یوه طرح برابره کړه چې ګڼې اسانتیاوې پکې راځي چې په لومړي فاز کې به یې له ۲۰۲۳ تر ۲۰۲۶ز. پورې ٦٦٢ کلي جوړ شي [۲۷].

چینایانو هم له سرحد سره نږدې د نوو اوسېدونکو لپاره (۲۵۰زره تبتیان) کلي جوړ کړي دي. په ۲۰۲۲ز. کې یې په ۱۱۲ تبتي سرحدي ښارونو کې ٦٢٨ کلي بشپړ کړي وو [۲۸].

له ایل اې سي سره نږدې د چین له خوا د نوو سرحدي کلیو جوړېدل د دې هېواد له سرحدي دفاعي پیاوړتیا سره مرسته کوي. د اوسپنې داسې پټلۍ او ستر سړکونه (په ترتیب سره Xigaze ، Hotan او G695) د طرحې په حال کې دي چې د آکسایي چین سیمې ټول اوږدوالی به وهي. د G695 ستره لار به د ایل اې سي سره په موازي توګه تر Lhuntse پورې غځېږي. دا د جي ۲۱۹ او جي ۳۱۸ سترو لارو پر پراختیا سربېره ده چې په ترتیب له ایل اې سي سره په موازي توګه لاداخ او اروناچال پرادېش سره نږدې غځېدلې دي. د چین د انرژۍ پروژې په راپور کې راغلي چې د XUAR په لوېدیځ کې چین لږ تر لږه د اتو سړکونو د جوړولو په حال کې دی چې د جي له ۲۱۹ سترې لارې څخه د ایل اې سي په لوري به غځېږي.

پر دې اساس به ځواکونه او تجهيزات کولای شي په ډېرې چټکتيا ګالوان درې ته ورته لرې پرتو سيمو ته ځان ورسوي (٢٩).

په ټوله کې هند او چين له ٢٠٢٠ز. څخه پر ګڼو هوکړو سربېره د سرحد په اوږدو کې د خپلو پښو اينښودو ځايونه پياوړي کوي او د وسلو نوو ډولونو او لا ډېرو زيربناو جوړولو ته پراختيا ورکوي (٣٠).

**د هند او چين د سرحدي شخړو راتلونکی**

دا چې هند او چين نه غواړي له هرې وړې او سترې سرحدي دعوې تېر شي؛ نو د سرحد په اوږدو کې به ګالوان ته ورته ټکرونه روان وي. دا چې دواړه خواوې جنګي تياريو ته ادامه ورکوي او د نظامي خبرو اترو په اوږدو کې يو اينچ په شا تګ هم نه مني؛ نو په نږدې راتلونکې کې به د شخړې د حل لرليد مبهم پاتې وي (٣١).

اوسمهال دواړه هېوادونه د ملتپالو رژيمونو له خوا اداره کېږي؛ نو د سرحدي مسايلو په اړه جوړجاړی به د دښمن پر وړاندې ګونډه وهل وي چې له امله به يې د دوی شهرت ته زيان رسېږي.

د ګالوان پېښې دا باور د هند په ستراتيژيکې ټولنې کې پياوړی کړ چې سرحدي شخړه د هند او چين د اړيکو له دايرې څخه بهر کولای نه شي. چين هېڅ داسې تمايل نه ښيي چې د هند ارادې ته په ګونډو شي يا خپلې ګټې په خطر کې واچوي. هند هم نه شي کولای له چين سره د محدود جنګ شونتيا رد کړي؛ نو ځکه خپلې سرحدي زيربناوې پياوړې کوي چې له امله يې هر مهال کړکېچونه رامنځته کېدلای شي (٣٢).

په ټوله کې په وروستيو کلونو کې د نوي ډيلي بهرنی سياست تر ډېره له بېجينګ سره د تعامل پر ځای د تقابل لوری نيولی او سرحدي شخړې يې دوه اړخيزې اړيکې خړې پړې کړې دي، هم لومړي وزير نريندرا مودي او هم د بهرنيو

چارو وزیر جیاشنکر دا څرګنده کړې چې په سرحد کې سوله د اړیکو د عادي کولو مخکېنۍ اړتیا ده [۳۳].

همدې دریځ ته په کتو نوي ډیلي د سیاست په توګه سرحدي شخړه له چین سره د اړیکو په مرکز کې راوستلې ده، د ۲۰۲۳ز. په جون کې د هند د بهرنیو چارو وزیر جیا شنکر ویلي وو: ((د اړیکو د عادي کولو هر ډول انتظار تر هغه مهاله چې په ختیځ لاداخ کې سرحدي حالات عادي شوی نه وي؛ بې بنسټه دی، واقعیت دا دی چې اړیکې تر اغېزې لاندې راغلې دي، که انتظار دا وي چې داسې یې عادي کړو چې په سرحد کې حالت عادي نه وي؛ دا انتظار موجه نه دی[۳۴])).

نوموړي په دې اړه زیاته کړې وه: ((کله چې هوکړه وي؛ باید له هغه پیروي وشي؛ خو اړیکې د دواړو ترمنځ پرې شوې نه دي. له هغه مهاله موږ تعامل کړی، نظامي قومندانان ښکېل شوي، سفارتونه ښکېل شوي، زه له خپل سیال سره ښکېل شوی یم او ادامه ورکوو. موږ دواړه باید د جدایۍ لپاره لاره پیدا کړو؛ ځکه زه باور نه لرم چې دا فعلي بن بست دې د چین په ګټه وي[۳۵])).

داسې نه ښکاري چې جوړښتي ننګونې دې د هند او چین په اړیکو کې په چټکۍ له منځه لاړې شي، د راتلونکو نښتو شونتیا به پر خپل ځای پاتې وي. د دوی تر منځ به نظامي خبرې اترې دوام لري (او کېدای شي په ښه توګه به د ناآرین تاوتریخوالي مخنیوی وکړي)؛ خو لرې ده چې دوی دې په سترې کچې د جدایۍ لپاره شرایطو ته لاسرسی پیدا کړي. که کومه پېښه په ناورین بدله شي؛ نو د بشپړې جګړې د پېښېدو امکان باید نادیده و نه نیول شي. دا په داسې حال کې ده چې د هند او چین شته مکانیزمونه د له منځه تلو په حال کې دي او د اختلافونو چټک حل لرې ښکاري. بیا هم که چنه وهل ادامه ولري او دواړه خواوې سیاسي اراده د عملي حل لارې د راباسلو لپاره له نوو واقعیتونو سره په مخامختیا کې پیاوړې کړي؛ نو هغه څه چې راڅرګندېږي؛ یو

عملي سرحد به وي چې څه ناڅه به له خنډونو سیمو سره تلپاتې وي؛ خو که و نه شي؛ نو دوه اړخیزې اړیکې به نه یواځې ورسره سختې شي؛ بلکې ډېرې به بې ثباته هم شي. دا د نه وړاندوینې وړ حالت په چټکۍ د هند او چین په اړیکو کې پر یوې نوې عادي چارې بدلېدونکی دی.

د سرحد لپاره د همېشني حل پیدا کول په ډېرېدونکې توګه ننګونکی دی. دا په دې معنا چې وسلوال ګډ اوسېدل د دوی په سرحدي سیمو کې په یوه نوي واقعیت بدل شوي دي [٣٦].

په راتلونکې کې به پي ایل اې په ډېر احتمال د ایل اې سي په نورو برخو کې هم په دې ډول جنګونو کې ښکېل شي، داسې خبره چې د هند د پوځ مشر مانوج پانډیا د ۲۰۲۳ز. د مارچ پر ۲۷ مه په یوه پوهنتون کې کړې وه، هغه اخطار ورکړی و چې سرغړونې همدارنګه د ټکرونو د ډېروالي لپاره هڅاندې دي [٣٧].

دا چې د هند زیربناوې به په نږدې وخت کې له چین سره برابرې شي؛ شونې ده بېجینګ یو ځل بیا د لومې ستراتیژۍ تر غور لاندې ونیسي، په ۱۹۵۸ز. کې د تایوان تنګي د ناورین پر مهال مائو زدونګ د چین له اصلي ځمکې سره نږدې جینمن او مازو جزیرو چې د تایوان د پوځ تر کنټرول لاندې وې؛ د بمبار امر ورکړ. د چین موخه دا وه چې امریکایان باید خپل ځواکونه له ساحله لرې جزیرو د دفاع لپاره په اوږدومهاله توګه مېشت کړي. دا کولای شي چې د دوی پر شا د بار په توګه بدل شي، د یوه داسې پړي په توګه چې چین کولای شي په خپله خوښه یې راکش او پرېږدي [٣٨].

داسې ښکاري چې له هند سره په ګډ سرحد کې د ګالوان او یانګ تسه ټکرونه له دې نمونې پیروي کوي، په ټوله کې چین په چټکتیا سره په تبت او سین کیانګ کې د ستراتیژیکو زیربناو په ډېروالي پسې دی. د ایل اې سي په اوږدو کې به نوې ټکنالوژي

ځای پر ځای کړي، لکه ډرونونه، د درنو وسلو سیستمونه، سایبري او الکترونیکي وړتیاوې چې کولای شي سوله له منځه یوسي.

هغه پوښتنه چې د راتلونکي په اړه مطرح کېږي؛ دا ده چې دواړه خواوې د یوه باثباته او د وړاندوینې وړ سرحدي رژیم د ترلاسه کولو لپاره څه ترسره کولای شي؟ په دې اړه دواړو خواوو پر یوه درې مرحله یي بهیر خبرې کړې دي: جلا کول، د تاوتریخوالي راکمول او نه مېشتېدل[5]. چین او روسیې دا کار په ۱۹۹۰لسیزه کې کړی و. پر دې اساس دا بحث د دې ارزښت لري چې په خلاصه توگه یې ترسره کړو چې ایا د چین او روسیې تجربه په گټوره توگه د هند او چین په باره کې کار ورکولای شي؟.

هغه سیاسي باور چې د روسیې او چین تر منځ له ۱۹۹۰تر ۱۹۹۷ز. پورې د هوکړو له امله رامنځته شو او دواړو اړخونو د گډ سرحد په اوږدو کې تر ۱۰۰کیلومترو پورې یوه داسې سیمه رامنځته کړه چې په هغه کې یې د هوایي او ځمکنیو ځواکونو او د وسلو د کچې معلومولو لپاره محدودیتونه وټاکل؛ خو د چین او هند تر منځ د سیاسي خبرو اترو او د دولت ـ دولت تر منځ له عادي اړیکو پرته د دې ډول سیاسي باور لپاره شرایط نشته. د سرحد په اوږدو کې د نظامیانو د ځای او شمېر د ټاکلو یو بل مهم شرط د سولې او ارامۍ او د جغرافیایي سیمې لپاره د محدودیتونو ټاکل دي. دا کار د چین او روسیې ترمنځ د ځمکو د ورتوالي په دلیل شونی و چې له امله یې دواړو خواو کولای شول له کوم یو اړخیز امتیاز پرته له سرحده لرې شي [39].

د چین ـ روسیې له نمونې گټه د هند او چین په اړه شونې نه ښکاري؛ ځکه هند د ځمکې او اقلیمي شرایطو له پلوه له ستونزو سره مخامخ دی. هیمالیا د سمندر له سطحې څه ناخه ۴۰۰۰ متره لوړوالی لري. د هند په لوړو کې غرونه مات شوي، ځمکې ښویدونکې او تېرې رغړېدونکې دي چې زیربناوې له تخنیکي ننگونو سره مخامخوي. د

[5] .Disengagement, De-escalation, De-induction

چين په لوري کې ځمکه څه ناڅه هواره ده چې د زیربناو جوړول اسانوي، په چينايي لوري کې هواره ځمکه د ټول سرحد په اوږدو کې د سړکونو د جوړولو لپاره برابره ده. پر دې اساس هم زیربناوې او هم جغرافيا هند په یوه کمزورې نظامي دریځ کې راولي؛ نو ځکه ویلای شو چې حاکمې سياسي فضا او جغرافيا ته په پام د روسيې او چين له نمونې ګټه اخیستل به د هند او چين په اړه ستونزمن کار وي.

د نښتو د شونتيا ډېرېدل د تاوتريخوالي د زياتېدو دوام رانښيي او د ټکر نور اړخونه يې دا پېچلې سناريو لا چټکه کوي، په راتلونکي کې به د سوېلي چين په سمندر کې شوني ټکرونه، د دالايي لاما د ځايناستي په اړه د تبت بدلونونه، اقتصادي بنديزونه او سايبري بريدونو ته ورته پېښې د دواړو هېوادونو پر اړيکو فشارونه لا ډېروي [۴۰].

واقعيت دا دی چې دواړه خواوې سرحد نظامي کوي. د چين د ډېرېدونکي او تلپاتي ګواښ په ځواب کې هند د سرحد په اوږدو کې د نظامي ځواکونو د توازن رامنځته کول پيل کړي دي، د دې پرمختياو په پایله کې به په راتلونکي کې د نظاميانو ډېرېدونکی او همېشنی شتون زیاتېږي او دا بدلونونه به د دې ستونزې د حل مخنيوی کوي[۴۱].

د هند او چين د ټکرونو په لړ کې د پاکستان سياسي او اقتصادي کړکېچ او په اسيا کې د سترو ځواکونو د سيالي بيا راپورته کېدل د ستراتيژيک ثبات مديريت سختوي. سيمه د يوې امنيتي لانجې د تجربې په حال کې ده چې په هغه کې په هستوي وسلو سمبال هېوادونه د خپلو وسلو پرمختګ د دښمنانو د ځواب په توګه توجيه کوي. دا لانجه د سرحدي اختلافونو د ډېرېدو خطر تر هستوي سيناريو پورې لوړولای شي. په داسې حال کې چې د هستوي وسلو کارول شوني نه ښکاري؛ خو د سرحد په اوږدو کې تاوتريخوالی دا خطرناکه لانجه پېچلې کوي. د ايل اې سي په اوږدو کې د زیربناو پراختيا او نظامي ګزمې کولای شي هم متعارفې او هم هستوي نوې نظامي پانګونې ډېرېدو ته وهڅوي چې په خپل وار سره به د سرحد په اوږدو کې تاوتريخوالي ورسره زیاتېږي. د

زيربناو جوړېدل د دواړو خواو له خوا په چټکتيا سره ادامه لري او دواړه پوځونه د ايل اې سي په اوږدو کې په جنګي دريځونو کې پاتې دي. چين د ۱۹۹۰ لسيزې د لومړيو په پرتله د ايل اې سي په اوږدو کې د سترو زيربناو د جوړېدو په دليل سرحد ته اسانه لاسرسی لري او د اوږد جنګ په موخه يې د ډېرو پوځيانو لپاره مېشتځايونه، تدارکات او تجهيزات هند دې ته اړمنوي چې له مقابل لوري سره د برابري لپاره ډېر مالي او ټکنالوژيکي امکانات ځانګړي او ډېر شمېر پوځيان هلته مېشت کړي(۴۲).

د دې بحث په پای کې ويلای شو چې د مخته لارې په توګه دواړه هېوادونه بايد د خبرواترو له لارې ګډ ګامونه واخلي. د سولې او اراموالي د شته رژيم ښه والی بايد د ايل اې سي په اوږدو کې د حالاتو د عادي کولو لپاره له لومړيو ګامونو څخه وي. د دې کار د مخته وړلو لپاره د سياسي خبرواترو دوام اړين دی. پروتکلونه او شته ګامونه به د ټکرونو د سوله ييز حل لپاره ګټور وي؛ خو بايد نوي او اضافي ګامونه هم واخيستل شي. د دوه اړخيزو هڅو له لارې د سولې او ارامۍ بيا راګرځول به يو ګام پر ګام بهير وي؛ خو تر هغه مهاله چې دواړه خواوې پر يوه نوي چلند هوکړه و نه کړي؛ سيالي به له ځنډ پرته روانه وي او د سرحد په اوږدو کې به زيربناوې ډېرې پانګونې خپلې او د بې ثباتۍ خطرونه به ورسره زياتېږي.

**پايله**

د دواړو هېوادونو تر منځ له سياليو او همکاريو داسې ښکاري چې هند او چين د وسلوال ګډ ژوند داسې حالت ته ګرځېدلي چې په هغه کې  هر هېواد پر نړيوالو اتحادونو حساب کوي. د دوه اړخيزې بې باورۍ او د نظامي ځواک د ښودلو تر څنګ د زيربناو پراختيا سرحد داسې ناڅاپي تاوتريخوالي ته تيار کړی چې کېدای شي له سيمې بهر او پراخ شي. په هر حال په ايل اې سي کې د سولې ساتل، د ټکرونو د اصولو په پلي کېدو پورې تړلي دي چې له څو لسيزو راهيسې په سترو ننبتو د ټکرونو د بدلېدو مخنيوی

کوي. ډېرې او پیاوړې خنډنې سیمې د ګرمې وسلې د کارولو په اړه څرګند قوانین او د دواړو خواو د لوړ پوړو چارواکو تر منځ د اړیکو چینلونه کولای شي د نښتو د پراخېدو په مخنیوي کې ستر نقش ولوبوي. اوسمهال د سرحدونو د ټاکلو لپاره ټولییزه هوکړه سخته ښکاري، که څه هم چې کورنۍ سیاستونه دا کار نور هم سختوي؛ خو د ټولییزې هوکړې په نه شتون کې د دواړو هېوادونو سیاسي رهبران باید په لوړ کچه د نظامي پروتکلونو د بشپړېدو او ډیپلوماتیک هڅو ته دوام ورکړي؛ ځکه د دوه اړخیزو خبرواترو ښه لاسته راوړنه د ټکرونو پر مهال د تاوتریخوالي د پراخېدو مخنیوی دی.

د ګالوان له پېښې وروسته هند او چین د سرحد په اوږدو کې د زیربناو سیالي چټکه کړې ده. له دې داسې ښکاري چې دوی په ستراتیژیکه توګه پرېکړه کړې چې د سولې او امن له روانو حالاتو څخه په راتلونکي کې د شوني جنګ لپاره د لوجیستکي ورتیاو د ډېرېدو په موخه ګټه واخلي.

په پای کې ویلای شو چې د سرحد په اوږدو کې د سولې او ارامۍ شته مکانیزمونه کېدای شي و نه شي کولای په راتلونکې کې د ایل اې سي په اوږدو کې د ناوړه پېښو مخه ونیسي. دا ګواښونه او ټکرونه به د دواړو خواو له لوري د سرحدي شخړې د اوږدمهالي حل لپاره د نوو رغوونکو دریځونو تر رامنځته کېدو پورې روان وي او ګالوان ته ورته هره ستره او کوچنۍ پېښه به دا شونتیا له ځان سره لري چې د دواړو ګاونډیو سترو او هستوي ځواکونو تر منځ پر یوه ستر ناورین بدله شي.

**وړاندیزونه**

۱ـ د سرحدي شخړې د اوږدومهاله سیاسي حللارې له لرلید پرته چین او هند باید د سرحد په اوږدو کې د ناورینونو مدیریت او د تاوتریخوالي مخنیوی په لومړیتوب کې راولي.

۲. دواړه خواوې باید هڅه وکړي چې نظامي اډې او د زیربناو پراختیا یې د بې ثباتۍ پر سرچینو بدلې نه شي. د نظامي دریځونو پیاوړتیا به یو اصل وي؛ خو د منلو وړ دوه اړخیزې برابري هڅې باید روانې پاتې شي.

۳- د ناسم پوهاوي د کموالي او په سیاسي کچه د دوه اړخیز باور د رامنځته کولو په موخه دې د نظامي خبرو اترو تر څنګ، منظمې سیاسي خبرې اترې روانې وساتل شي.

۴- په پای کې د افغانستان دولت ته وړاندیز کېږي چې د چین، هند او د سیمې د نورو هېوادونو تر منځ د څمکنیو شخړو او سرحدي نښتو په اړه په خپل بهرني سیاست کې بې پرې دریځ خپل او د غوښتنې او اړتیا پر مهال د دوی تر منځ د یوه منځګړي نقش ترسره کړي.

**مأخذونه**


1. Asia Report N°334, Thin Ice in the Himalayas: Handling the India-China Border Dispute, 14
2. November 2023, Headquarters International Crisis Group, Brussels, Belgium. P 18.
3. Ibid, P 19.
4. Shukla, Ajai, 3 years post Galwan, Chinese strategist 'explains' border tensions with India, May 01 2023, Available at: https://www.business-standard.com/india-news/3-yrs-post-galwan-chinese-strategist-explains-border-tensions-with-india-123050100116_1.html
5. Asia Report N°334, Op. cit, P 20.
6. Ibid, P 21.

7. Gokhale, Vijay, Stabilizing the Border: A Possible Way Ahead in the Post-Galwan Situation, Published on December 15, 2023, P 8.
8. Jash, Amrita, India-China Boundary Dispute: Progress on Disengagement, but De-escalation Remains Far-fetched, Istituto Affari Internazionali (IAI), Rome, Italy, 2022, P 3.
9. Rajeev, Nishant, Alex Stephenson, Why We Should All Worry About the China-India Border Dispute, May 31, 2023, Available at: https://www.usip.org/publications/2023/05/why-we-should-all-worry-about-china-india-border-dispute
10. Asia Report N°334, Op. cit, P 25.
11. Ibid, P 25.
12. Subramanian, Nirupama, Three years after Galwan: Where India-China ties stand, June 16, 2023, Available att: https://indianexpress.com/article/explained/three-years-after-galwan-where-india-china-ties-stand-8665439/
13. Ibid, P 28.
14. Gokhale, Vijay, Stabilizing the Border: A Possible Way Ahead in the Post-Galwan Situation, Op. Cit, P 9.
15. Ibid, P 9.
16. Fokkink, Robbert, Jan-Tino Brethouwer, Rising tension in the Himalayas: A geospatial analysis of Chinese border incursions into India, PLOS ONE, November 10, 2022, P 9.

17. P. Stobdan, India-China border dispute: Beyond the hype, the reality of the LAC, April 13, 2024, available at: https://indianexpress.com/article/columns/india-china-border-dispute-beyond-the-hype-the-reality-of-the-lac-9266802/
18. Gadzala Tirziu, Aleksander, Rising tensions along the Indian-Chinese border, August 8, 2023, https://www.gisreportsonline.com/r/china-india-border-2/
19. Asia Report N°334, Op. cit, P 26.
20. P. Panda, Jagannath, Foreseeing the China-India Boundary Dispute: 2022 and Beyond, December 17, 2021, Available at: https://jamestown.org/program/foreseeing-the-china-india-boundary-dispute-2022-and-beyond/
21. Rajeev, Nishant, Alex Stephenson, Why We Should All Worry About the China-India Border Dispute, Op. cit.
22. Jindal, Poonam, The Indo-China Border: New developments in 2022, 29/05/2022, Available at: https://www.cescube.com/vp-the-indo-china-border-new-developments-in-2022
23. Gokhale, Vijay, Stabilizing the Border: A Possible Way Ahead in the Post-Galwan Situation, Op. Cit, P 8.
24. Asia Report N°334, Op. cit, P 27.
25. Nayak Dutta, Amrita, 3 years after Galwan: Ramp-up in LAC infra, troop presence, op logistics, New Delhi, June 15, 2023, Available att: https://indianexpress.com/article/india/3-yrs-after-

galwan-lac-infra-troop-presence-op-logistics-ramped-up-8663416/

26. Ibid.
27. Three years after Galwan clashes, border standoff lingers on, Jun 14, 2023, https://economictimes.indiatimes.com/news/defence/three-years-after-galwan-clashes-border-standoff-lingers-on/articleshow/100999125.cms?from=mdr
28. Jindal, Poonam, The Indo-China Border: New developments in 2022, OP. CIT.
29. Gadzala Tirziu, Aleksander, Rising tensions along the Indian-Chinese border, Op. Cit.
30. Ibid.
31. Gokhale, Vijay, Stabilizing the Border: A Possible Way Ahead in the Post-Galwan Situation, Op. Cit, P 8.
32. Rajeev, Nishant, Alex Stephenson, Why We Should All Worry About the China-India Border Dispute, Op. cit.
33. P. Panda, Jagannath, Foreseeing the China-India Boundary Dispute: 2022 and Beyond, Op. cit.
34. Panda, Jagannath, Negotiation and Negation: India’s Post-Galwan Diplomacy vis-à-vis China, May 25, 2021, Available at: https://southasianvoices.org/negotiation-and-negation-indias-post-galwan-diplomacy-vis-a-vis-china/
35. Rajeev, Nishant, Alex Stephenson, Why We Should All Worry About the China-India Border Dispute, Op. cit.

36. Three years after Galwan clashes, border standoff lingers on, Op. cit.

37. Subramanian, Nirupama, Three years after Galwan: Where India-China ties stand, June 16, 2023, Available at:
https://indianexpress.com/article/explained/three-years-after-galwan-where-india-china-ties-stand-8665439/

38. Jash, Amrita, India-China Boundary Dispute: Progress on Disengagement, but De-escalation Remains Far-fetched, Op. cit, P 1.

39. Gokhale, Vijay, Stabilizing the Border: A Possible Way Ahead in the Post-Galwan Situation, Op. cit, P 9.

40. Ibid, p 9.

41. Ibid, P 10.

42. Gadzala Tirziu, Aleksander, Rising tensions along the Indian-Chinese border, Op. cit.

څېړنواله خاطره شینوارې

# د واګنر ډلې پېژندنه او د روسيې حکومت پر وړاندې د مخالفت لاملونه

# An Overview of the Wagner Group and the Reasons for Its Opposition with the Russian Government

Assoc. Prof. Khatira Shinwari

**Abstract**

When Russia Aims to annexed Crimea with its territory and make a military presence in the region, Meanwhile the Wagner group also established by Yevgeny Prigozhin. Its mean that Wagner group started its military activities from that time and they participate with Russian army to invade on Crimea. A referendum took place in Crimea and the People of Crimea decided to annexes with Russia and that was the huge political achievement for president Vladmir Putin.

The Wagner group captured the city of Bakhmut and showed his military ability, but after that, the relationship between the Russian government and Yevgeny Prigozhin is deteriorated, Because Prigozhin claimed that They were attacked by the Russian army and killed our People. He also claimed that the Russian Defense Minister did not give them the necessary weapons, after that Prigozhin left the city to the Russian soldiers and went to Moscow with his soldiers to take revenge of his soldiers from responsible persons. Thus, they captured the city of Rostov without any resistance and wanted to move towards Moscow. At the same time, this 24-hour rebellion ended with the mediation of the President of Belarus.

**لنډیز**

کله چې روسیه له خپلې خاورې  سره د کریمې د یو ځای کېدو په هڅه کې شوه او پر دې سیمه کې یې پوځي حضور پیدا کړ، نو ورسره سم د واګنر ډله هم د یوګیني پریګوژین لخوا جوړه شوه. یعنې د واګنر ډلې بنسټ له همدې مهاله ایښودل شوی او د یادې ډلې پوځي فعالیتونه هم له همدغه مهاله پیلیږي. هغه داسې چې دغه ډله د روسي سر تیرو سره په ګډه د کریمې د اشغال لپاره لاړه. څرنګه چې د کریمې کورنۍ ستونزه  د روسیې په ګټه ختمه شوه او کریمې  د عمومي نظر پوښتنې په پایله کې د روسیې د حکومت تر چتر لاندې راغله،  د کریمې تر لاسه کول د ولسمشر ولادیمیر پوتین لپاره ستره سیاسي بریا وه، ځکه کله چې په ۲۰۲۲زکال کې روسیې پر اوکراین برید وکړ، د روسیې حکومت د واګنر ډله جګړې ته راوبلله.

یاده دې وي، د اوکراین په جګړه کې واګنر ډلې خپله وړتیا د باخموت ښار په نیولو سره څرګنده کړه، خو د باخموت ښار د تر لاسه کولو وروسته د روسیې حکومت او واګنر ډلې مشر یوګیني پریګوژین تر منځ اړیکې خرابې شوې او پریګوژین ادعا وکړه چې پر دوی د روسې پوځ له لوري راکټي بریدونه شوي او ډېر شمېر کسان یې ورته وژلي، همدا رنګه نوموړي ادعا وکړه چې د روسیې دفاع وزیر دوی ته لازمې وسلې په واک کې نه دي ورکړي. نو ځکه پریګوژین دغه ښار روسیي پوځیانو ته پرېښود او له خپلو عسکرو سره د مسکو په لور روان شو، تر څو د خپلو پوځیانو غچ د مسؤلو کسانو څخه واخلي. په دې توګه، دوی د روستوف ښار پرته له کوم مقاومت څخه ونیوه او غوښتل یې د مسکو په لور حرکت وکړي. په همدې مهال د بلاروس ولسمشر په منځګړتوب دغه ۲۴ساعته بغاوت پای ته ورسید. که څه هم پریګوژین ادعا کوله چې دوی دغه بغاوت د عدالت غوښتنه په موخه تر سره کړ، خو ولسمشر پوتین د دوی له دغه عمل څخه ډېر ناراضه شو.

**سریزه**

په نړۍ کې بېلابېلې شخصي نظامي ډلې او ګروپونه شته چې د یو شمېر دولتونو د ملاتړ له لارې د پیسو په بدل کې قرارداد کوي او له مقابل لوري سره جګړه کول خپل مسؤلیت ګڼي، په نړۍواله کچه د ګوتو په شمېر مشهورې ډلې لکه په امریکا متحده ایالاتو کې د بلاک واټر کمپنۍ او په روسیه کې د واګنر ډلې رامنځ ته کېدل دي. دغه ډلې چې کومو سیمو ته د جګړې لپاره ځي، هر ډول بشري قوانین تر پښو لاندې کوي او له هېڅ ډول ظلم او زور زیاتي څخه ډډه نه کوي، د داسې ډلو یوازینۍ موخه دا ده چې په هر ډول وي، باید د جګړې ګټونکي شي.

واګنر هم یوه له هغو ډلو څخه وه چې د لومړي ځل لپار په روسیه کې راڅرګنده شوه، خو کله چې روسیې پر اوکراین برید وکړ، سره له دې چې یاد هېواد په نړیواله کچه یو له لویو او ځواکمنو پوځي ځواکونو درلودونکو هېوادونو څخه دی، خو بیا هم په دغه جګړه کې یې د واګنر ډله ښکیله کړه، روسیه غواړي په هر ډول چې وي د اوکراین جګړې ګټونکی شي، ځکه اوکراین نه یوازې له ستراتیژیک پلوه روسیې ته مهم دی، بلکې له اقتصادي پلوه هم یاد هېواد د روسیې لپاره ارزښت لري.

همدارنګه د روسیې نړۍوال اعتبار هم د اوکراین په جګړې پورې تړلی دی، نو ځکه روسیې په دغه جګړه کې خپلو موخو ته د رسیدو لپاره د واګنر ډله جګړې ته راوبلله.

د واګنر ډله د اوکراین له جګړې څخه د مخه په نړۍواله کچه نه وه پېژندل شوې، خو یاده ډله په ځانګړي ډول د باخموت او سولدار ښارونو له نیولو وروسته ډېره مشهوره شوه.

دا چې دغې ډلې د روسیې د حکومت په خلاف خپل مخالفت څرګند کړ او د مخالفت پایله څه وه، دا موضوع به د څېړنې په ترځ کې په هر اړخیزه توګه روښانه شي.

**د څېړنې موخه**

د دې څېړنیزې مقالې موخه د واګنر ډلې پېژندنه او د روسیې حکومت پر وړاندې د پوځي مخالفت د لاملونو څېړل دي.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت**

په دې څېړنه کې یوه داسې پوځي ډله معرفي کېږي چې په روسیه کې رامنځته شوې او د روسیې حکومت په پلویتوب یې جګړې کړي، خو همدې ډلې په دې ورستیو کې د روسیې حکومت پر وړاندې مخالفت کړی، نو اړتیا ده چې د دغې ډلې پوځي فعالیتونه او د روسیې له حکومت سره یې د مخالفت عوامل او پایله څرګنده شي.

**د څېړنې مېتود**

په دغه څېړنه کې له تحلیلي- تشریحي مېتود څخه ګټه اخیستل شوې ده.

**د څېړنې پوښتنه**

واګنر ډلې ولې د روسیې حکومت پر وړاندې مخالفت وکړ او د مخالفت لاملونه څه وو؟

**د واګنر ډلې پېژندنه**

واګنر ډله یو امنیتي شرکت و چې په ۲۰۱۴ ز کال کې رامنځته شو؛ د دغه شرکت مشري یوګني پریګوژین کوله، نوموړی ولادیمیر پوتین ته ډېر نږدې شخص و؛ د واګنر ډلې له تشکیل دمخه یوګیني پریګوژین په مسکو کې رستورانتونه درلودل او هلته یې د ولسمشر پوتین لپاره ځانګړي خوراکونه پخول.[۱]

له همدې امله د واګنر شرکت د روسيې له دفاع وزارت سره تړونونه تر سره کړل چې له مخې به يې د روسيې د پوځ اعاشه برابروي.[۲]

خو وروسته د يادې ډلې پوځي فعاليتونه د روسيې حکومت په پلويتوب پيل او روزل شوي پياوړي نظامي غړي يې هم چمتو کړل. يادې ډلې له روسيې څخه خپل تجهيزات ترلاسه کول او د روزني لپاره يې د روسيې د دفاع وزارت تأسيسات هم کارول.

واګنر ډله، په نړيواله کچه د ملکي وګړو په وژنې، جنسي تيري، غلا، شکنجې او نورو جرمونو تورنه ده.[۳]

دغه ډله تر ډېره له هغو اشخاصو څخه جوړه شوې چې د روسيې په زندانونو کې په سختو جرمونو تورن او بنديان وو. دوی ياد بنديان له بند څخه د خلاصون په بدل کې په خپلې ډلې کې نيول. د دې تر څنګ، د روسيې حکومت پخواني سرتېري هم ورسره وو، دغې ډلې په لومړي سر کې ۲۵۰ سرتيري درلودل چې په۲۰۲۳زکال کې شمېريې پنځوس زرو ته رسېده.[۴]

واګنر ډلې له روسيې، سوريې، چېچنيا، ليبيا او همدارنګه مرکزي افريقا له حکومتونو سره د همکارۍ په موخه او د پيسو په بدل کې د جګړې اخيستلو قرار دادونه کړي دي. د واګنر ډله لکه د بلاک واټر کمپنی په څېر جګره په پيسو اخلي . واګنر ډلې په اوکرين کې د روسيې د حکومت سره د يو قرارداد له مخې جګړه پيل کړه، تر څو د هغو اشخاصو په مقابل کې جګړه وکړي چې د روسيې خلاف او په زيان دي او روسيه خپلې موخې ته چې هغه د اوکراين نيول دي ، ورسېږي.

د يادونې وړ ده چې پر واګنر ډلې له نړيوالو تورنو سره مل روسيه هم تورنه ده، خو روسيې په رسمي ډول له واګنر ډلې سره اړيکه درلودل تل رد کړي دي.[۵]

**واگنر ډلې فعالیتونه**

د واگنر ډلې د فعالیتونو د محدودې په اړه باید وویل شي چې دغه ډله د لومړي ځل په ۲۰۱۴زکال کې له روسیې سره د کریمې د الحاق پر مهال د روسیې په پلوی رامنځته شوه. (٦)

یادې ډلې په یو لړ مهمو عملیاتونو کې، لکه د سوریه، چېچنیا، لیبیا او سوډان په کورنیو جگړو کې گډون کړی دی. (٧)

همدارنگه د مرکزي افریقا په جگړه کې او په دې وروستیو کې د روسیې او اوکراین په جگړې کې د روسیې له حکومت سره د قرارداد په مقابل کې جگړه تر سره کړې ده. څرنگه چې مخکې هم اشاره وشوه، دغه ډله په جنگي جنایتونو تورنه ده. دغې ډلې په جنگي جنایتونو کې په عامه وژنې، جنسي تیري او له قانوني چوکات څخه بهر په اعدامونو لاس پورې کړی او پرته له کوم قانوني لامل څخه یې پر سیمه ییزو خلکو او نورو پوځي ډلو بریدونه کړي دي. (٨)

یاده دې وي، واگنر ډلې د اوکراین په جگړه کې ډېر شهرت تر لاسه کړ. دلته غواړو د اوکراین او روسیې جگړې ته لنډه اشاره وکړو چې د روسیې او اوکراین جگړې اساسي لامل څه دی او ولې روسیه دې ته اړه شوه چې له واگنر ډلې څخه په دغه جگړه کې گټه واخلې، د دې تر څنگ واگنر ډلې په دغه جگړه کې کومې لاسته راوړنې درلودلې دي.

**د اوکراین او روسیې جگړې لامل**

که چېرې د اوکراین تیر تاریخ ته وگورو دغه هېواد تل د خپل ستراتیژیک موقعیت له مخې په جگړو کې ښکیل شوی او د دغه هېواد ډېری وگړي د زبرځواکو هېوادونو د یرغل پر مهال وژل شوي دي. د بېلگې په توگه، په لومړۍ نړۍواله جگړه کې دغه هېواد د جگړې په اصلي ډگر بدل شوی و، په حقیقت

کې هغه مهال د اوکراين خلکو نه کوم خپلواک حکومت درلود او نه يې په دغه جګړه کې خپله کومه ګټه ليدله، ځکه دوی د اتريش او شوروي لخوا جګړې ته ښکيل شوي وو. په دغه جګړه کې شوروي او اتريش اوکرايني وګړي د عسکرو په توګه نيولي وو چې له دغې ډلې څخه ډېر شمېر کسان په دواړو لورو کې ووژل شول. [٩]

په دې توګه، له لومړی نړيوالې جګړې وروسته څو ځلې دغه هېواد د شوروي، پولنډ او نازي المان تر حملې لاندې راغلی او د جګړې په ډګر اوښتی دی. چې د شوروي اتحاد په له منځه تلو سره په ١٩٩١زکال کې اوکراين خپلواکي تر لاسه کړه او د نړۍ په کچه د يو خپلواک هېواد په توګه وپېژندل شو. [١٠]

که څه هم اوکراين خپلواکي تر لاسه کړه، خو هغه مهال چې په روسيه کې ولاديمير پوتين واک تر لاسه کړ، بيا د روسيې پام اوکراين ته شو، ځکه پوتين هېڅ کله هم د شوروي اتحاد په له منځه تلو خوښ نه و او اوس هم هڅه کوي، چې هغه پخوانی اتحاد او برم بېرته ورغوي او غربي نړۍ ته اجازه نه ورکوي چې د شوروي اتحاد پخوانيو جمهوريتونو ته چې اوس د روسيې تر نفوذ لاندې دي، هغو ته لاره پيدا کړي. بله خبره دا ده چې کيف د مسکو لپاره ستراتيژيک ارزښت لري، دغه سيمه د روسيې او ناټو تر منځ حايل واقع شوې، همدارنګه د روسيې د انرژۍ د لېږد کريدور هم شمېرل کېږي. د دې تر څنګ تاريخي، مذهبي او قومي اړيکې هم د دغو دواړو هېوادونو تر منځ خپله اغېزه لري. د بېلګې په توګه د اوکراين په ختيځ کې مذهبي يوالي او روسي ژبې کارول دغه سيمه په کوچنۍ روسيې بدله کړې ده. [١١]

په ٢٠٢٢زکال کې پر اوکراين د روسيې ناڅاپي بريد نړۍ حيرانه کړه، د بريد لامل هم هغه ستونزې دي چې له ٢٠١٤زکال راپه دې خوا د روسيې او

اوکراین تر منځ رامنځ ته شوې وې، دغه ستونزې په ۲۰۲۱زکال کې لاپسې ډېرې شوې او د روسیې جمهور رئیس ولادیمیر پوتین د ناټو د نفوذ پراختیا په اوکراین کې د خپل هېواد لپاره یو جدي ګواښ وباله. دا چې ولې د روسیې او اوکراین اړیکې تر دې کچې خرابې شوې، چې روسیې پر اوکراین پوځي برید وکړ، په دې اړه باید وویل شي، سره له دې چې اوکراین له ۱۹۹۱زکال څخه راپه دېخوا یو خپلواک هېواد دی، خو تل د روسیې د مشرانو د نفوذ او څارنې لاندې پاتې شوی، په ۲۰۰۸زکال کې له ناټو سره د اوکراین یو ځای کېدو خبرې تودې شوې، دا د روسیې لپاره د منلو وړ نه وه او دا موضوع د اوکراین او روسیې تر منځ د ستونزو د زیاتیدو لامل شوه. (۱۲)

دا ستونزې هغه مهال لا پسې زیاتې شوې کله چې په ۲۰۲۰زکال کې د اوکراین جمهور رئیس ولادیمیر زلینسکي له ناټو سره د یو ځای کېدو ستراتیژي تصویب کړه. له هغه وروسته په ۲۰۲۱زکال کې د هغو اشغال شویو سیمو چې د روسیې لخوا اشغال شوې او د اوکراین وې، د اوکراین وې، په خود مختاره توګه یې عمل کاوه، لکه کریمي، د بیرته تر لاسه کولو ستراتیژې وړاندې کړه. همدار رنګه اوکراین په تور سمندر کې مهم بندرونه لري چې پخوا دغه بندرونه د شوروي اتحاد په واک کې وو، له همدې امله روسیه په دې هڅه کې شوه، چې ځینې ساحلي ښارونه لکه اودیسا بېرته تر لاسه کړي، تر څو وکولای شي په تور سمندر کې خپل نفوذ پراخ کړي. (۱۳)

اوکراین یو کرنیز هېواد دی. کله چې اوکراین له اروپا سره خپلې اړیکې نږدې کړې، روسیې ته یې د صادراتو کچه ټیټه شوه، چې دا هم د روسیې او اوکراین د ستونزو یو لوی لامل وګرځید، ځکه پخوا تر دې د روسیې او اوکراین تر منځ راکړه ورکړه په لوړه کچه تر سره کېده.

ځرنګه چې مخکې هم نغوته وشوه، ولادیمیر پوتین د شوروي اتحاد په له منځه تلو ناخوښ و، نو ځکه یې هڅې پیل کړې، چې دغه سیمې بیرته تر لاسه کړي، چې په دې برخه کې د کریمې په تر لاسه کولو سره د پوتین محبوبیت د روسانو تر منځ ډېر شو. (۱۴) ډېر لاملونه دي چې د روسیې او اوکراین د شخړې د رامنځته کېدو سبب شول، که موږ دلته ټول وڅېړو له اصل موضوع څخه لرې کېږو، نو ځکه بېرته د واګنر موضوع ته راګرځو چې په عمل کې د روسیې په پلویتوب د اوکراین په جګړه کې بوخته وه، دا چې ولې یې د روسیې د حکومت پر وړاندې مخالفت وکړ او د اوکراین په جګړه کې یادې ډلې کوم رول درلوده، په دې اړه به په لاندې ډول بحث ته دوام ورکړو.

**د روسیې پر وړاندې د واګنر ډلې د مخالفت لاملونه**

په ټولیزه توګه د روسیې حکومت پر وړاندې د واګنر ډلې د مخالفت لاملونه په لاندې ډول یادولای شو.

۱- یوګیني پریګوژین د واګنر ډلې بنسټ ایښودونکي، د ښکلو رستورانتونو لړۍ په روسیه کې پیل کړه چې د شوروي اتحاد له ړنګیدو وروسته د روسیې ښارونو ته د تګ راتګ لپاره مناسب او وړ ځایونه ګڼل کېدل، هغه داسې چې کله به د نړۍ مشران کرملین ته رابلل کېدل، ټولې ملمستیاوې به د پریګوژین سره د قرارداد له مخې تر سره کېدې، نوموړي له همدې لارې ډېره شتمني تر لاسه کړه، خو کله چې د ولسمشر پوتین وفاداره ملګری سرګي شویګو د دفاع وزارت ته وټاکل شو، هغه له دفاع وزارت سره د پریګوژین ټول قراردادونه لغوه کړل، داسې ښکاري چې د پریګوژین او د روسیې د دفاع وزیر تر منځ ستونزې له همدې ځایه پیل شوې. (۱۵)

خو دا څرګنده نه ده چې سرګي شويګو د ولسمشر پوتين په غوښتنه او همغږۍ‌له پريګوژين سره قراردادونه لغوه کړل، که له پخوا د دوی تر منځ کومه ستونزه موجوده وه.

۲- واګنر ډلې د اوکراين په جګړه کې د روسيې په پلويتوب خپل کسان ياد هېواد ته واستول او په اوکراين کې يې جګړه پيل کړه ، د دغې ډلې موخه يوازې د روسيې په ګټه جګړه کول وو، يادې ډلې د باخموت ښار نيولو لپاره ډېر تلفات ورکړل او بلاخره دغه ښار يې له اوکرايني ځواکونو ونيوه او روسي سرتيرو ته يې وسپاره، خو وروسته د روسيې دفاع وزارت امر وکړ چې ټولې پوځي ډلې دې د روسي پوځ تر امر لاندې خپل فعاليتونه تر سره کړي، دا موضوع د روسيې حکومت او واګنر ډلې تر منځ د درز رامنځته کېدو لامل شوه، ځکه واګنر ډلې په دغه جګړه کې ډېر تلفات ورکړل او د روسيې حکومت د داسې يوې پريکړې په تمه نه وو. (۱٦)

۳- د واګنر ډلې مشر د اوکراين په جګړه کې ددغې ډلې پر اډو د روسي ځواکونو د راکټي بريدونو تور پورې کړ او ادعا يې وکړه چې د هغه ځينې ځواکونه، د روسيي ځواکونو د توغنديو د ويشتلو په پايله کې وژل شوي دي. (۱۷)

د پورته لاملونو له کبله د واګنر ډلې مشر د۲۰۲۳ جون په ۲۴ مه له اوکراين سره د جګړې له ډګر څخه خپل ځواکونه وايستل او ځانونه يې د روسيې د مرکزي قوماندانۍ دفتر ته ورسول. د دغې ډلې جنګيالي د شنبې په سهار روستوف ښار ته ننوتل او په ښار کې يې پوځي ځا يونه ونيول او د واګنر ډلې مشر غږيز پيغامونه يې خپاره کړل، ادعا يې وکړه چې هغه د عدالت رامنځ ته کولو او د روسيې د پوځ په مشرتابه کې د فساد او دروغو د پای ته رسولو لپاره عمل کړی او هېڅ شی به د هغه مخه ونه نيسي. هغه مسکو ته د واګنر ډلې

ځواکونو ۵۰۰۰کس يزې پوځي ډلې په روانولو سره اعلان وکړ چې د دې ډلې ۲۵۰۰۰ سرتېري دعدالت او د روسيې د خلکو لپاره مړه کېدو ته چمتو دي. (۱۸)

د دې ډلې مشر وويل: چې «دا به د يوې پوځې کودتا په معنی نه وي، بلکې د عدالت غوښتني يو لاريون دی. زموږ کړنې به په هېڅ صورت د روسيې وسله وال ځواک ته کومه ستونزه نه پېښوي.» (۱۹)

دغه مهال د روسيې ولسمشر ولاديمير پوتين د واګنر ډلې د دغو څرګندونو او کړنو په مقابل کې غبرګون وښود او د واګنر ډلې د مشر دغه عمل يې خيانت وباله . پوتين د پريګوژين دغه عمل له شا څخه د خنجر له وهلو سره پرتله کړ .د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې کميټه يې جوړه کړه او د واګنر ډلې عمل يې يو ترهګريز عمل اعلان کړ او عاملينو ته يې د سختې سزا ورکولو ژمنه وکړه. (۲۰)

ولاديمير پوتين د واګنر ډلې د بغاوت په اړه څرګنده کړه چې دغې ډلې هېواد ته خيانت کړی او ګواښ يې وکړ، په هېواد کې چې هر څوک د خيانت او خپلسرۍ لاره غوره کړي، دوی به شديد مجازات کړي. همدا رنګه نوموړي زياته کړه چې د واګنر ډله غواړي روسيه په کورنۍ جګړه کې ښکيله کړي، پوتين څرګنده کړه چې په روسيه کې د هېڅ ډول بې نظمۍ او بې ثباتۍ اجازه نه ورکوي او هغه کسان چې غواړي د روسيې امنيت ته ګواښ پېښ کړي او په دې هېواد کې بې ثباتي او بې نظمي رامنځ ته کړي، دوی به ټول نيول کېږي او د سختو مجازاتو لاندې به راځي. (۲۱)

ياده دې وي، د روسيې او د واګنر ډلې تر منځ ستونزه د بلاروس ولسمشر الکساندر لوکا شنکو په منځګړتوب حل شوه او د بلاروس ولسمشر په غوښتنه د واګنر ډلې له پوځيانو د مسکو پر لور د خپلو ځواکونو پرمختګ ودروه او خپلو هډو ته د ستنيدو غوښتنه يې ومنله. البته د واګنر له ډلې سره د بلاروس د ولسمشر ليدنه د ولاديمير پوتين په مشورې تر سره شوه او وروسته له هغې د واګنر ډلې عسکر بيرته

خپلو مرکزونو ته ستانه شول، خو د دغې ډلې مشر په یو غریز پیغام کې وویل: هغوی غوښتل چې موږ تصفیه کړي، موږ له وینې تویولو پرته ۲۰۰ کیلو متره پرمختګ وکړ، په تیرو ۲۴ ساعتونو کې مسکو ته نږدې شو، پرته له دې چې د یو کس وینه هم تویه شي. (۲۲)

په ورته مهال، د روسیې جمهور رئیس د واګنر ډلې غړو ته د درې لارو د ټاکلو وړاندیز وکړ، دا چې دوی بلاروس ته لاړ شي، یا دې د روسیې له پوځ سره یو ځای شي، یا دې خپلو کورونو ته لاړ شي، خو پوتین د واګنر ډلې د مشر په اړه کومه یادونه ونه کړه. (۲۳)

له دغه پوځي بغاوت دوه میاشتې وروسته، د واګنر ډلې د مشر الوتکه د روسیې په شمال توېر سیمه کې په ناڅاپي توګه راوپرځېده او په الوتکه کې ټول ۹ تنه سپاره کسان د واګنر ډلې د مشر یوګیني پریګوژین په ګډون له منځه لاړل. په دغه الوتکه کې نه یوازې د واګنر ډلې مشر خپل ژوند له لاسه ورکړ، بلکې د دغې ډلې نور مهم غړي لکه، دیمتري اوتکین چې د واګنر ډلې د مشر نږدې شخص و او د دغې ډلې ځینې نور مهم غړي هم ووژل شول. (۲۴)

د یادونې وړ ده، د روسیې د ملکي هوایي چلن اداري هم د پریګوژین د الوتکې له راپرځېدو وروسته اعلان وکړ چې د واګنر ډلې مشر یوګیني پریګوژین نوم د هغې الوتکې د مسافرو په لیست کې شامل دی چې غورځېدلې او ټولې سپرلۍ یې مړه شوي دي، خو د ټیلیګرام پر ګرې زون نومې هغه پاڼه کې چې د واګنر اړوند وه، لیکل شوي و چې ٦٢کلن پریګوژین د سپرلۍ شخصي الوتکه د دافاع هوا لخوا ویشتل شوې ده او پریګوژین د روسیې د خاینانو له لاسه ووژل شو. (۲۵)

خو د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین په دې اړه وویل چې د روسیې د څېړنو کمیټې خبر ورکړی، په الوتکه کې دننه د لاسي بم له امله پېښنه رامنځته شوې ده. (۲٦)

په دې اړه د واګنر ډلې ادعا او د پوتین خبرې سره توپیر لري، خو لا تر اوسه جوته شوې نه ده چې د دغې پېښې اصلي لامل څه و او د پریګوژین د الوتکې د پرځېدو مخکې څه تیر شوي دي.

**پایله**

واګنر ډله په روسیه کې یوه پېژندل شوي ډله وه، چې دغې ډلې مخکې له روسیې سره د بغاوت څخه خپل سیاسي اعتبار د روسیې خلکو او حکومت تر منځ درلوده، ځکه دغې ډلې په ۲۰۱۴ز کال د روسیې او کرېمې د الحاق پر مهال د روسیې په غوښتنه د روسي سر تیرو تر څنګ کریمې ته لاړه، همدا شان د روسیې او اوکراین د جګړې په پیل کېدو سره ولادیمیر پوتین د واګنر ډلې څخه یو ځل بیا غوښتنه وکړه چې د روسیې له پوځ سره په ګډه په اوکراین کې جګړه وکړي، خو کله چې د واګنر ډله عملاً د جګړې میدان ته لاړه او څو میاشتې یې د باخموت په ښار کې د اوکراین خلاف جګړه وکړه او بلاخره یې باخموت ښار ونیوه او د روسیې پوځ ته یې وسپاره. همدغه مهال د روسیې د پوځ او واګنر ډلې تر منځ ستونزه رامنځ ته شوه، هغه ځکه چې د واګنر ډلې مشر ادعا وکړه، د اوکراین باخموت ښار د جګړې پر مهال د روسیې لخوا دوی ته سم پوځي امکانات نه وو برابر شوي، ځکه دوی خپل ډېر سر تیري د باخموت ښار د نیولو لپاره له لاسه ورکړل.

همدارنګه د دغې ډلې مشر ادعا وکړه چې د باخموت په جګړه کې د روسیې د پوځ له لوري پر دوی راکټي بریدونه شوي، ځکه یې د خپلو وژل شویو پوځیانو د غچ اخیستلو لپاره د روسیې د روستوف ښار د نیولو په موخه حرکت وکړ او هلته یې پرته له جګړې د ښار ډېرې سیمې تر خپلې ولکې لاندې راوستې، په دې توګه یې د پوتین د حکومت پر وړاندې عملاً په پوځي بغاوت لاس پورې کړ، چې دې حالت د روسیې خلکو په زړونو کې ویره خپره کړه.

د واګنر ډلې بغاوت د بلاروس د ولسمشر الکساندر لوکاشنکو په منځګړتوب پای ته ورسید او ددغې ډلې مشر یوګیني پریګوژین هم د الوتکې د راپرځیدو په پایله کې مړ شو، ولادیمیر پوتین د واګنر ډلې له پوځیانو څخه وغوښتل چې دوی باید وروسته له دې د روسیې د پوځ تر امر لاندې خپل فعالیتونه تر سره کړي او نور نه شي کولای پرته د روسیې پوځ له امر څخه کوم پوځي فعالیت ولري.

**مأخذونه**


۱- هوتک، محب الله."واګنر ګروپ معنی څه او څوک دي" ټول افغان، د نشر نېټه ، ۲۵/٦/۲۰۲۳ لاس رسی:

https//www.tolafghan.com/articles/37988[ مراجعه: ۲/۸/۲۰۲۳] .

۲- "په روسیه کې د پوځي بغاوت پای د هغه پټ اړخونه او پایلې" د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز، د نشر نېټه، ۲۰۲۳/ ۷/ ۱۱، لاس رسی، https//csrskabul.com[ مراجعه: ۲۰۲۳/ ۸/ ۳].

۳- هوتک، محب الله. "واګنر ګروپ معنی څه او څوک دي" ټول افغان ، د نشر نېټه ، ۲۵/٦/۲۰۲۳ لاس رسیhttps//www.tolafghan.com/articles/37988 [ مراجعه: ۲۰/۸/۲۰۲۳] .

۴- پورتنی مأخذ.

۵- پورتنی مأخذ.

٦- "چرا واګنر با ارتش روسیه درګیر شده است؟" مشرق نیوز، د نشر نېټه،۴/۳/ ۱۴۰۲، لاس رسی:

https//www.mshrgh.ir/1502196 { مراجعه:۲۲/۹/۲۰۲۳].

۷- پورتنی مأخذ.

٨- بهشتی پور،حسن." آشنایي با گروه شورشی واگنر روسیه" سایت خبري ایراس، د نشر نېټه۱۲/۴/ ۱۴۰۲، لاس رسی، https//.iras.ir/?p=8529 [ مراجعه: ۱۴۰۲/۹/۱۳].

٩- شاپوری، مهدی. " بحراین اوکراین، زمینه ها، بازیگران و پیامد ها"، پژوهشکده مطالعات رهبردی،تهران، ۱۳۹۳هـ. ش، ۱۰- ۱۲مخونه.

۱۰- پورتنی مأخذ۱۰مخ.

۱۱- پورتنی مأخذ۱۴مخ.

۱۲- "علت حمله روسیه به اوکراین چیست بررسی دلایل پوتین و واکنش های جهانی"، سایت رکنا، د نشر نېټه(---) ، لاس رسی،http://rokna.net 865997 [ مراجعه: ۱۴۰۲/۹/۱۳].

۱۳- پورتنی مأخذ.

۱۴ پورتنی مأخذ.

۱۵ "د روسيې ځوا کونو پر وړاندې د واګنر د پوځي پاڅون لاملونه" د ستراتېژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز، دنشر نېټه، ۳۱/۱۰/۲۰۲۳، لاسرسی، http://csrskabul.com [ مراجعه: ۲/۱۰/۲۰۲۳].

١٦-" آشنا یي با گروه واگنر"، همشهري انلاین، دنشر نېټه،۱۴۰۲/۴/۳ لاس رسی، https://hamshahrionline.ir.x8ypd [ مراجعه: ۱۴۰۲/۹/۱۵].

۱۷- مهدي تبار،حسن ." ادعای کودتا در روسیه، گروه واگنر چیست و چې میکند" همشهري انلاین، د نشر نېټه، ۳ /۴/ ۱۴۰۲ لاس رسی https://hamhahironline.ir [ مراجعه:١٦/۹/۱۴۰۲].

۱۸- "په روسیه کې د پوځي بغاوت پای، د هغه پټ اړخونه او پایلې" د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز" نشر نېټه، ۳۱/۱۰/۲۰۲۳، لاسرسی ،http://csrshabul.com، [ مراجعه:۱۴۰۲/۹/۱۷] .

۱۹- "آشنایی با گروه واگنر" همشهری انلاین، د نشر نېټه،۱۴۰۲/۴/۳، لاسرسی:
https://hamshahrionline.ir.x8ypd[ مراجعه: ۱۴۰۲/۹/۱۸].

۲۰ - "په روسیه کې د پوځي بغاوت پای، د هغه پټ اړخونه او پایلې" د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز" نشر نېټه، ۳۱/۱۰/۲۰۲۳، لاسرسی ،http://csrshabul.com، [ مراجعه: 2/۱۱/۲۰۲۳].

۲۱- "آخرین اخبار از جنگ میان گروه واگنر و ارتش روسیه" رادیو خبري ایمنا، د نشر نېټه، ۱۴۰۲/۴/۳ https://imna.ir/x7hh3 [ مراجعه: ۱۴۰۲/۹/۱۸].

۲۲- "د روسیې حکومت او واګنر اجیرې ډلې د مشر پریګوژین تر منځه ستونزه حل شوه"ویب پاڼه، تي، آر، تي، د نشر نېټه ۲۵/٦/۲۰۲۳ لاسرسي، https://www.trt.nat.pashto.nry [ مراجعه: 2/۱۱/۲۰۲۳].

۲۳- " پوتین سه گزینه در برابر مزدوران گروه واگنر گذاشت"، سایت خبری دوچوله، د نشر نېټه،۱۴۰۲/۴/٦ لاس رسی، http//amp.dw.com/fa-ir [ مراجعه: ۱۴۰۲/۹/۱۱].

۲۴- «واگنر بدون پریگوژین چه خواهد بود؟» خبر گذاری مهر، د نشر نېټه، ۹ /٦/ ۱۴۰۲، لاسرسی، https://www.mehrnews.com/news[ مراجعه:۱۴۰۲/۹/۲۰ ].

۲۵- « د روسیې هوایي چلن اداره وایي، د واګنر ملیشې مشر پریګوژین په غورځېدلي الوتکه کې سفر کاوه» ویب پاڼه، بي بي سي، د نشر نېټه، ۲وری۱۴۰۲، لاسرسی:
https//www/bbc.com/Pashto/articles/c51j70419m8oمراجعه: ۱۴۰۲/۹/۲۳].

۲٦- « دلیل سقوط هوا پیمای رییس واگنر انفجار نارنجک بوده است» خبر گذاري جمهوري اسلامي، د نشر نېټه ۱۴۰۲/۷/۱۲، لاس رسی، https// irna.ir/news/85248942 [ مراجعه:۱۴۰۲/۹/۲۴].

څېړندوی اول خان شکېب احمدزی

# افغانستان ته د سیمه ییزې پانګونې د جذب حقوقي لارې چارې

# Legal Pathways to Attract Regional Investment in Afghanistan

Asst. Prof. Awalkhan Shkib Ahmadzai

**Abstract**

Countries employ legal mechanisms to attract foreign capital to facilitate rapid economic development. Foreign investment fostered production, which directly and indirectly employs thousands of people while bolstering the country's gross domestic product. Presently, Afghanistan is undergoing a phase of stability, necessitating novel approaches to attract foreign investment within legal frameworks. Accordingly, this article endeavors to analyze legal strategies for attracting foreign investment in Afghanistan.

**لنډیز**

هېوادونه د بهرنۍ پانګې د جذب په موخه له ځینو حقوقي لارو چارو څخه استفاده کوي چې د اقتصادي پرمختګ په موخه چټک ګامونه واخلي. د بهرنۍ پانګونې په وسیله تولید رامنځته کېږي چې په ترڅ کې یې زرګونه کسانو ته په مستقیم او نامستقیم ډول د کار زمینه برابرېږي او د هېواد د کورني ناخالص تولید کچه لوړوي، اوسمهال افغانستان سوله او ثبات تجربه کوي؛ نو لازمه ده د بهرنۍ پانګونې د جذب په موخه حقوقي لارې چارې ولټول شي، د همدغه بنسټ پر اساس په دې مقاله کې هڅه شوې چې افغانستان ته د سیمه ییزې پانګې د جذب حقوقي لارې چارې وڅېړل شي.

**سریزه**

هر هېواد او ملت هیله لري چې پیاوړی اقتصاد ولري، په نننۍ نړۍ کې د هېوادونو پرستېژ او په نړیوالو مسایلو کې دریځ د دوی په اقتصادي ځواک پورې اړه لري، دغه راز په هېواد کې دننه د ملتونو پر وړاندې د حکومتونو درناوی، سیاسي ثبات، امن او ډېر نور مسایل په ځان تکیه او پیاوړي اقتصاد پورې تړلي دي.[۱]

د اقتصادي ځواک د جوړېدو یو مهم لامل پانګونه ده. په دې معنا چې د یوې ټولنې او یا هم د یوه هېواد اقتصاد پر پانګونې ولاړ وي؛ ځکه د همدغې پانګونې په ترڅ کې تولید رامنځته کېږي او تولید بیا هغه څه دی چې د وګړو فعالیتونه د اقتصادي خوځښت په موخه سره یو ځای کوي. یو شمېر خلک مستقیماً د تولید په پروسه کې دخیل وي، ځینې ورته خام مواد برابروي او ځینې نور ورته بازار موندنه کوي، دا ټول هغه څه دي چې له پانګونې سرچینه اخلي؛ ځکه نو د اقتصادي نظام د پیاوړتیا او خوځښت په موخه باید پانګوال وهڅول شي.

د کورنۍ پانګونې تر څنګ بهرنۍ پانګونه هم د اقتصادي نظام په پیاوړتیا او د یوه هېواد په پرمختګ کې د پام وړ ونډه لري. له همدې امله هېوادونه کوښښ کوي چې له بېلابېلو لارو بهرنۍ پانګونې ته زمینه برابره کړي، حکومتونه د همدې موخې لپاره په بېلابېلو برخو کې بهرنیو پانګوالو ته اسانتیا برابروي چې یادو هېوادونو ته خپلې پانګې راوړي.

**د څېړنې موخه**

د دغې علمي ـ څېړنیزې مقالې موخه افغانستان ته د سیمې هېوادونو د پانګو د جذب په موخه د حقوقي لارو چارو لټول او ارزول دي.

**د څېړنې میتود**

په یادې مقاله کې له تشریحي ـ تحلیلي میتود څخه ګټه اخیستل شوې ده.

**د څېړنې مبرمیت**

دا چې په افغانستان کې د اسلامي امارت له واکمنېدلو وروسته بشپړ امنیت ټینګ شوی؛ نو اړتیا ده چې د بهرنۍ پانګونې د جلب په موخه دغه څېړنه وشي چې اړوند ارګانونه د پالیسۍ په جوړولو کې ترې ګټه واخلي.

په دې څېړنه کې د دې پوښتنې د حل کوښښ شوی، هغه کومې حقوقي لارې چارې دي چې په وسیله یې افغانستان کولای شي د سیمې او نړۍ په کچه بهرنۍ پانګونې راجلب کړي چې د افغانستان د اقتصادي ځواکمنتیا لامل وګرځي. د همدې موضوع د څېړلو په موخه دغه مقاله په څو برخو وېشل شوې ده. په لومړۍ برخه کې پر بهرنۍ پانګونې لنډ بحث شوی، ورپسې د مقالې اصلي برخه، د بهرنۍ پانګونې د جلبونې حقوقي لارې چارې په تفصیلي ډول بیان شوې دي او له دې سره مقاله د پایلې او وړاندیزونو په لړلو پای ته رسېږي.

**۱- بهرنۍ پانګونه**

په اوسنۍ نړۍ کې ډېرو هېوادونو د بهرنیو پانګوالو پرمخ خپلې دروازې پرانېستې دي. هغوی دا کار د لازیاتې پانګې د جذب او په هېواد کې دننه د پانګونې د کچې د ډېروالي په موخه کوي. دغه بهرنۍ پانګونه چې مستقیمه بهرنۍ پانګونه ( Foreign Direct Investment (FDI)) ورته ویل کېږي، په اوسني وخت کې د هېوادونو تر منځ د اقتصادي نږدېوالي په ټوله کې د نړیوالتوب زېږنده ده. وروسته پاتې او د پرمختګ په حال کې هېوادونه د اقتصادي ودې په موخه بهرنۍ پانګه را جلبوي؛ ځکه ډېره پانګونه د اقتصادي غوړېدا په معنا ده. د یادو هېوادونو کورنۍ پانګونه د دوی د چټکې اقتصادي ودې لپاره بسنه نه کوي؛ نو د همدې موخې لپاره باید له بهرنۍ پانګې څخه ګټه واخېستل شي. بهرنۍ پانګونه د یوه هېواد په اقتصادي وده کې مرسته کوي او په کوربه هېواد کې ګڼ شمېر دندې پیدا کوي. همدارنګه نوې ټیکنالوجي او مسلکي بشري ځواک لېږدوي.

په عمومي ډول پانګونه په یوه ځانګړي وخت کې د یوې شتمنۍ داسې تخصیص کول او په کار اچول دي چې د هغې په ارزښت کې زیاتوالی راشي[۲].

پانګونه په کورنۍ او بهرنۍ وېشل کېږي؛ کورنۍ پانګونه هغه ده چې د یو دولت او یا هم خصوصي سکتور په خپل هېواد کې خپله پانګه په قانوني ګټورو کاروبارونو کې په کار اچوي[۳].

بهرنۍ پانګونه هغه ده چې د بهرنیو خصوصي شرکتونو یا افرادو له خوا په قانوني ګټورو چارو کې ترسره شي، دواړه ډوله پانګونې باید د دولت د موخو په چوکاټ کې وي، ډېر زیاتې پانګونې ګډې یا مختلطې هم وي؛ یعنې هم کورنۍ او هم بهرنۍ وي. د افغانستان دولت پخوا هېڅکله د دې اجازه نه ورکوله چې په یوه شرکت یا اقتصادي فعالیت کې دې د بهرنۍ پانګې اندازه له ۴۹٪ څخه زیاته وي[۴].

په لنډ ډول بهرنۍ پانګونه په دوو ډولونو وېشل کېږي چې مستقیمه او نامستقیمه.

**۱- مستقیمه بهرنۍ پانګونه**

هغه ده چې بهرنی پانګوال په مستقیم ډول په کوربه هېواد کې د راتلونکې ګټې په موخه خپله پانګه په کار اچوي، په مستقیمه بهرنۍ پانګونه کې پانګوال د اقتصادي واحد کنټرول مستقیماً د خپل فزیکي حضور او مالي مسئولیت په منلو سره په واک کې اخلي.

د یادونې وړ ده چې په دې مقاله کې له پانګونې څخه زموږ موخه همدا مستقیمه بهرنۍ پانګونه ده چې د بهرنیو افرادو او خصوصي شرکتونو له لوري هېواد ته راوړل کېږي او په هېواد کې دننه په کار اچول کېږي، د افغانستان د پانګونې د ملاتړ او جذب د قانون له مخې هره هغه پانګونه چې د خصوصي شرکتونو او یا افرادو له خوا له خپل هېواده دباندې تر سره کېږي او د دولت د موخو په چوکاټ کې وي؛ بهرنۍ پانګونه بلل کېږي[۵].

له حقوقي پلوه مستقیمه بهرنۍ پانګونه دوه ډوله ده:

الف- خپلواکه بهرنۍ پانګونه.

ب-ګډه بهرنۍ پانګونه.

**الف- خپلواکه بهرنۍ پانګونه**

دا ډول پانګونه د هغو بهرنیو شرکتونو پانګونه ده چې د هغې مالکیت 100% په بهرنیو پانګوالو پورې اړوند وي. لکه څنګه یې چې له نومه ښکاري، په دې ډول پانګونه کې د کورنیو پانګوالو لپاره کوم ځای نه وي او بهرني پانګوال د هر ډول ازادۍ درلودونکي وي. یو شمېر بهرني پانګوال لېوالتیا لري چې د هېواد له کمزوري اقتصاد یا مجبوریت څخه استفاده وکړي او دغه ډول پانګونه وکړي.

**ب- ګډه بهرنۍ پانګونه**

په دې ډول پانګونه کې د پانګونې لګښتونه او ګټې د کورنیو او بهرنیو پانګوالو تر منځ د هغوی د پانګو په تناسب وېشل کېږي، که څه هم له سل سلنې مالکیت سره بهرنۍ پانګونه اوس هم په ځینو هېوادونو کې شتون لري؛ خو دغه ډول پانګونې خپل ځای په تدریجي ډول ګډې پانګونې ته پرېښی دی.

**۲- نامستقیمه بهرنۍ پانګونه**

له نامستقیمې بهرنۍ پانګونې څخه موخه د مالي شتمنیو اخیستل دي، په دې معنا که پانګوال د مالي بازارونو او اسهامو د مارکېټ په اړه پوره پوهه و نه لري؛ کولای شي چې د پانګونې دغه طریقه وکاروي. په دې طریقه کې بهرني پانګوال خپله پانګه په کوربه هېواد کې مسلکي ټیمونو ته ورکوي او مدیریت یې هم د همدغو ټیمونو پر غاړه وي. د نامستقیمې بهرنۍ پانګونې په صورت کې بهرني پانګوال د اسهامو یا د قرضې د اسنادو په اخیستلو خپله پانګه کوربه هېواد ته واردوي او د خپل سهم په اندازه په مالکیت کې واک او د رایې حق لري او د هغه په اندازه ګټه یا تاوان کوي، پر دې اساس پانګې ته کم خطر متوجه کېږي او اداري مسؤولیت یې هم کم وي؛ نو په دې دلیل بهرني پانګوال دې ډول پانګونې ته ډېر تمایل لري[٦].

په دې ډول پانګونه کې د قرضې د اسنادو د اخیستلو په صورت کې د هغه په مال کې د خپلې پانګې په مقابل کې یو سند ترلاسه کوي چې ګټه او وخت یې معلوم وي او د قرارداد مطابق هر کال د هغه ګټه لاسته راوړي او له ټاکلې مودې وروسته خپله اصلي پانګه بېرته لاسته راوړي.

## ۲- د بهرني پانگونې د جذب حقوقي لارې چارې

د دې لپاره چې هېواد ته بهرني پانګوال وهڅول شي؛ خپلې پانګې په دغه هېواد کې په کار واچوي؛ نو په لومړي سر کې اړینه ده چې د یادو پانګو د خوندیتوب په موخه لازم حقوقي چوکاټونه رامنځته شي، تر ټولو لومړی د پانګونې داسې قانون ته اړتیا ده چې د خپلو دیني او ملي مصالحو د خوندیتوب تر څنګ بهرنیو پانګوالو ته ځیني امتیازات په پام کې ونیسي، همدارنګه هېوادونه باید د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د پانګونې دوه اړخیز او څو اړخیز تړونونه ولري چې د ټولو لوریو پانګې په کوربه هېوادونو کې خوندي کړي. د همدې لپاره غواړو چې لومړی د پانګونې په برخه کې د افغانستان ملي قوانین او ورپسې د هېواد د پانګونې په تړونونو بحث وکړو:

### أ. د کوربه هېواد داخلي قوانین

د ډېرو هېوادونو لپاره له بهرنۍ پانګونې څخه د ملاتړ قوانین د پانګونې د هڅولو او تنظیمولو لپاره د پالیسۍ اصلي وسیله ګرځېدلې ده. د پانګونې له نړیوالو تړونونو سره یو ځای د پانګونې داخلي قوانین په کوربه هېواد کې د پانګونې او پانګوالو لپاره قانوني چوکاټ جوړوي. د نړۍ ډېرو هېوادونو د سړې جګړې له پای ته رسېدو وروسته د پانګونې د قوانینو رامنځته کېدو ته مخه کړه. په ۲۰۱٦ز. کې د سوداګرۍ او پرمختګ په اړه د ملګرو ملتونو کنفرانس (United Nations Conference on Trade and Development) څېړنو موندله چې په نړۍ کې لږ تر لږه ۱۰۸ هېوادونه د پانګونې قوانین لري چې نږدې ټول يې د پرمختګ په حال کې هېوادونه دي[۷].

د ۵۸ سلنه هېوادونو د پانګونې قوانین پر دواړو بهرنۍ او کورنۍ پانګونو پلي کېږي او د ۴۲ سلنې هېوادونو د پانګونې قوانین یواځې پر بهرنیو پانګوالو پلي کېږي[۸].

د یادولو ده چې یواځې د پانګونې ځانګړي قوانین نه دي چې هېوادونه يې د پانګونې د تنظیم په موخه کاروي؛ بلکې نور اړوند قوانین هم د بهرنیو پانګوالو

لپاره مهم گڼل کېږي، د بېلگې په توگه د مالیې قانون، د معنوي حقوقو قوانین، کار قوانین، د چاپېریال ساتنې قوانین، دغه ټول قوانین د بهرنیو پانگوالو لپاره مهم نقش لوبوي، کله چې یو پانگوال په یوه بهرني هېواد کې پانگونه کوي؛ نو د خپلې پانگې په اړه لوی خطر ته غاړه ږدي. په دې معنا چې پانگه یې له زیان سره مخامخېږي؛ نو څه به کوي؟ له کوربه دولت سره به له کومې لارې د کوم قانون او په کومه مرجع کې خپلې دعوې مخ ته وړي؟ د همدې موخې لپاره بهرني پانگوال د کوربه هېواد قوانین گوري چې تر کومه حده یې د نوموړي د پانگې لپاره اړین ضمانتونه په پام کې نیولي دي.

افغانستان هم له نېکه مرغه له بهرنۍ پانگونې څخه د ملاتړ په موخه قانون رامنځته کړی چې د خصوصي پانگونې قانون په نوم یادېږي[۹].

دغه قانون د ۱۳۸۴ل. د لېندۍ په میاشت پر ۸٦۹ مه گڼه رسمي جریده کې خپور شوی دی، یاد قانون نهٔ څپرکي او دري دېرش مادې لري چې لومړی څپرکی یې عمومي حکمونه، دویم څپرکی یې مسئول ارگانونه، درېیم څپرکی یې د پانگونې د منظورۍ پړاوونه، په څلورم څپرکي کې د پانگوال حقوق او وجایب، معافیت او له هغه سره همکاري، په پنځم څپرکي کې د بهرنۍ پانگونې او په هغې پورې د تړلې گټې لېږد، په شپږم څپرکي کې د پانگې د خرڅلاو په اړه احکام، په اووم څپرکي کې د مالکیت سلبول، په اتم څپرکي کې د منازعاتو د حلولو او په نهم څپرکي کې د هېواد د ابادۍ او بهرنۍ پانگونې د جذب په موخه متفرقه احکام تسجیل شوي دي.

د دغه قانون د درېیمې مادې پر بنسټ بهرنۍ پانگونه هغه څه دي چې د تبادلې وړ اسعارو او یا په نانقدي ډول د بهرني تبعه له لوري هېواد ته را لېږد بېږي، دغه راز د همدې مادې د څلورم بند له مخې بهرنی پانگوال هغه بهرنی تبعه دی چې بهرنۍ پانگه یې په هېواد کې په کار اچولې وي.

دغه قانون په عمومي ډول د بهرنۍ پانگې د خوندیتوب له کوربه هېواد سره د مالیاتي اړیکې، د منازعاتو د حل او فصل او همدارنگه په کوربه هېواد کې د

بهرنۍ پانګونې محدودیت او ممنوعیت ته اشاره کوي. دغه راز د اختلافاتو د څېړلو په برخه کې د افغانستان د پانګونې قانون په ټوله معنا پانګوالو ته د دې واک ورکړی چې له افغان لوري سره خپلې دعواوې په کورنیو او نړیوالو مراجعو کې حل کړي. په عمومي توګه بهرني پانګوال تل له دې وېره لري چې له کوربه دولت سره د ستونزې د رامنځته کېدو په صورت کې به په جبري توګه د هماغه هېواد له کورنیو (محکمو او د هېواد په دننه کې حاکمیت) مراجعو ته د دوی دعوه راجع شي او هغوی به د خپل دولت په پلوۍ پرېکړه وکړي؛ ځکه کورنۍ محکمې به د خپل دولت تر نفوذ لاندې وي او خپلواکي یې تر پوښتنې لاندې راتلای شي. د بهرنیانو د همدې اندېښنې د لرې کولو په موخه د پانګونې د قانون په دېرشمه ماده کې راغلي چې پانګوال کولای شي خپلې ستونزې په بهر کې د حکمیت (Arbitration) له لارې حل کړي، د حکمیت دغه ډول پرېکړه وروستۍ او د پلي کېدو وړ ده.

که ستونزه د دولت او بهرني پانګوال تر منځ وي؛ نو د همدې مادې له څلورم بند سره سم باید یاد اختلاف د دوستانه مذاکرې له لارې حل کړي؛ خو که چېرې د دولتي لوري او بهرني پانګوال تر منځ اختلاف د مذاکرې او خبرو اترو له لارې حل نه شو او اړخونه په بل ډول سره د هغه حل ته په توافق و نه رسېږي؛ کولای شي یاده ستونزه له لاندې مراجعو څخه یوې ته ولېږدوي:

۱ـ د ۱۹۶۵ز. د مارچ د اتلسمې د پانګونې د اختلافاتو د حل له کنوانسیون سره سم، د پانګونې د اختلافاتو د حل نړیوال مرکز (ICSID) ته.

۲ـ که چېرې د پانګونې د اختلافاتو د حل نړیوال مرکز د راجع شوي مسئلې په برخه کې حکمیت منع کړي؛ بهرنۍ پانګونو حکمیت د نړیوال تجارت د قانون لپاره د ملګرو ملتونو د سازمان د کمیسیون د حکمیت د قواعدو مطابق حل او فصل کوي [۱۰].

له پورته متنه څرګندېږي چې له بهرني پانګوال سره د اختلافاتو په صورت کې د افغانستان د خصوصي پانګونې قانون بهرني پانګوال ته د دې امتیاز ورکړی چې

له دولتي لوري او یا هم له دریېمګړي(ثالث) شخص سره د ستونزې د رامنځته کېدو په صورت کې د ستونزو د هوارۍ له کورنیو مراجعو پرته په نړیوالو مراجعو کې خپلې ستونزې حل کړي؛ همدارنګه د تېرې جمهوري دورې د ۱۳۸۲ ل. اساسي قانون له مخې بهرنیانو په افغانستان کې د عقار د اخیستلو اجازه نه درلوده، د دې موضوع د حل لپاره د خصوصي پانګونې قانون په یوویشتمه ماده کې بهرنیان کولای شي په افغانستان کې تر ۵۰ کلونو ځمکې په اجاره واخلي، د همدې قانون یوویشتمه ماده داسې صراحت لري: بهرنی منظور شوی تشبث د خپلو فعالیتونو د پرمخ بېولو لپاره حق لري، په افغانستان کې عقار، د قانون له حکمونو سره سم تر ۵۰ کلونو په اجاره واخلي، وروسته په ۱۳۸۸ل. کې دغه ماده بهرنیو پانګوالو ته د لا زیاتې اسانتیا په موخه تعدیل او یاده موده ۹۰ کلونو ته وغځېده [۱۱].

په ټوله کې ویلای شو که څه هم یاد قانون د بهرنۍ پانګې د جذب په موخه بهرنیانو ته ځینې حقوق او امتیازات په نظر کې نیولي؛ خو د دغه قانون په متن کې لا هم ستونزې شته چې مفهوم اخیستل ترې ستونزمن دي، په دې اړه د افغانستان د پانګونې د اوسني قانون په اړه اسلامي‌امارت کولای شي پر یاد قانون بیا کتنه وکړي، له همدې امله د دې قانون د متن د اصلاح لپاره لازم کار ته اړتیا ده، هیله ده چې اړوند ارګانونه یې په اړه ګامونه واخلي، پر دغه قانون سربېره د افغانستان د شرکتونو د قانون له مخې بهرنیان نه شي کولای په افغانستان کې له ۵۰ سلنې څخه د زیاتې کمپنۍ خاوندان شي، دغه مسئله هم د بهرنیو پانګوالو لپاره ستونزې جوړوي، هغوی په افغانستان کې د کاروبار د جوړولو لپاره اړتیا لري چې داسې افغان پیدا کړي چې له بهرنیانو سره کار کولو ته زړه ښه کړي، دغه کار د بهرنیو پانګوالو لپاره ډېرې ستونزې زېږوي، همدارنګه بهرنیانو ته په بشپړ ډول په ځینو برخو کې د خپلواک فعالیت اجازه د افغانستان ملي او امنیتي ګټې له خطر سره مخامخوي، له همدې امله داسې یوې حللارې ته اړتیا ده چې هم بهرنیان پانګونې ته وهڅول شي او هم د افغانستان ملي ګټې

له ګواښ سره مخامخ نه شي، د همدې موخې لپاره د متحده عربي اماراتو له تجربې څخه استفاده کوو.

متحده عربي اماراتو نړیوالو کمپنیو ته د دې زمینه برابره کړې چې په دې هېواد کې پانګونه وکړي، له ۲۰۲۱ز. څخه وړاندې بهرنیو وګړو ته د دې اجازه نه ورکول کېده چې په دوبۍ کې په یواځې ځان کمپنۍ جوړه کړي، بهرنیانو به د ۲۰۱۵ز. د کمپنیو د قانون پر بنسټ په جوړېدونکې کمپنۍ کې د اماراتو وګړو ته ۵۱ سلنه برخه ورکوله چې په دې هېواد کې سوداګریز جواز تر لاسه کړي (۱۲).

د ۲۰۲۰ز. د سپټمبر پر ۳۰ د فدرالي فرمان پر اساس د دغه هېواد د کمپنیو حقوق تعدیل کړل او د ۲۰۱۸ز. د مستقیمې پانګونې قانون یې هم له منځه یووړ (۱۳).

د نوي فرمان له مخې په متحده عربي اماراتو کې د پانګونې سکټورونه په دوو برخو ووېشل شول؛ یو ډول هغه سکټورونه دي چې بهرنیانو ته پکې د بشپړې پانګونې اجازه ورکړل شوه، بل ډول هغه سکټورونه دي چې منفي لېسټ ورته ویل کېږي او بهرنیان پکې د پانګونې اجازه نه لري، د بېلګې په توګه دفاعي چارې د تېلو او ګازو د کانونو د شتون په برخه کې څېړنې او داسې نور، دوی په دې فرمان کې د ستراتیژیک اغېز (Strategic Impact) مفکوره را منځته کړه (۱۴).

د دې مفکورې پر بنسټ د متحده عربي اماراتو د وزیرانو شورا ته هم واک ورکړل شوی چې د یوې کمېټې د جوړولو له لارې هغه فعالیتونه مشخص کړي چې بهرنیان پکې د زیاتې پانګونې اجازه نه لري، که په افغانستان کې هم داسې تفکیک رامنځته شي چې بهرنیانو ته په ځینو اقتصادي سکټورونو کې د دې اجازه ورکړل شي چې په خپلواک ډول شرکتونه جوړ کړي؛ نو افغانستان ته به د پانګونې د جلب په موخه ور او مناسب ګام اخیستل شوی وي، له همدې نظریې سره سم که افغانستان هم په هغو برخو کې چې په ستراتېژیکه توګه د افغانستان ملي ګټو ته زیان نه اړوي؛  بهرنیانو ته د پراخې پانګونې اجازه ورکړي؛ نو پر بنسټ به یې افغانستان ته زیاته پانګونه راجلب شي.

**ب.د پانګونې تړونونه**

د دولتونو له لوري د بهرنۍ پانګې د جذب د ستراتیژۍ یوه مهمه برخه د پانګونې د تړونونو لاسلیکول دي، د پانګونې تړونونه د دوو یا ډېرو دولتونو تر منځ لاسلیک کېږي، دغه تړونونه په کوربه هېواد کې بهرنۍ پانګونه د حکومت له داسې چلنده چې د همدغه تړون ماتونکی وي؛ خوندي کوي، لکه د تاوان له ورکړې پرته د بهرنۍ پانګې مصادره کول، د دولت داسې چلند چې نامناسب او ناعادلانه وي او داسې نور، د پانګونې تړونونه په دوه اړخیز او څو اړخیز ډول لاسلیک کېږي چې پر هر یوه یې جلا جلا بحث کوو:

**۱ـ د پانګونې دوه اړخیز تړونونه**

د پانګونې دوه اړخیز تړون (Bilateral Investment Treaty) د دوو هېوادونو تر منځ لاسلیک کېږي، په دې ډول تړونونو کې دواړه لوري ژمنه کوي چې په خپلو هېوادونو کې یو د بل اتباعو ته به د مستقیمې پانګونې (FDI) په برخه کې لازم امتیازات او حقوق ورکوي او په تړونوالو هېوادونو کې به یو د بل د اتباعو د پانګونې د خوندیتوب په برخه کې درانه مسئولیتونه مني، په بله وینا؛ د پانګونې دوه اړخیز تړونونه په دې موخه لاسلیک کېږي چې په دواړو لوریو کې د خپلو وګړو پانګو لپاره یو شمېر تضمینونه رامنځته کړي، دغه تضمینونه په عمومي ډول عادلانه او مساوي چلند، له استملاکه د ساتنې او همدارنګه د پانګې امنیت او خوندیتوب ته شاملېږي، د پانګونې د ډېرو تړونونو یوه مهمه ځانګړتیا دا ده چې دوی د شخړو د حل بدیل میکانېزم ته اجازه ورکوي چې پر بنسټ یې یو پانګوال کولای شي له هغو حقوقو څخه د سرغړونې له امله د کوربه هېواد د محاکمو پر ځای نړیوال حکمیت (Arbitration) ته مراجعه وکړي چې د پانګونې په تړون کې ځای پر ځای شوي دي، د شخړو د حل دغه ډول میکا نېزم ډېر کله د پانګوالو شخړو د حل نړیوال مرکز [۱۵] تر څارنې لاندې تر سره کېږي چې دغه بهیر ته د پانګوال او دولت د شخړې د حل سیستم وایي [۱۶].

د لومړي ځل لپاره دغه ډول تړون پر ۱۹۵۹ز. د نومبر میاشتې پر ۲۵مه د پاکستان او جرمني تر منځ لاسلیک شو [۱۷].

له دې نېټې وړاندې د هېوادونو تر منځ د ملګرتیا، سوداګرۍ او لارموندنې (FCN) تړونونو لاسلیک کېدل دود وو چې د هېوادونو تر منځ یې سوداګریزې اړیکې تنظیمولې، دا ډول تړون له نړیوالو جګړو وروسته هغه وخت مشهور شو؛ کله چې پرمختللو هېوادونو غوښتل مخ پر ودې هېوادونو کې خپلې پانګې د استملاک پر وړاندې وساتي، اوسمهال د بېلابېلو هېوادونو تر منځ له ۲۸۰۰ څخه زیات د پانګونې دوه اړخیز تړونونه لاسلیک شوي دي چې له ډلې یې ۲۲۱۹ تړونونه لازم الاجرا دي [۱۸].

په وروستیو کلونو کې د دوه اړخیزې پانګونې تړونونو او غوره سوداګریزو تړونونو شمېر په ځانګړې توګه په چټکۍ وده کړې، په عملي توګه هر هېواد لږ تر لږه د یوه دغه ډول تړون غړی دی [۱۹].

د پانګې صادروونکي هېوادونه (لکه هندوستان او امریکا) په اوسمهال کې د پانګونو د نمونوي (Model) تړونونو خاوندان دي او د هغو له مخې له نورو هېوادونو سره د پانګونې تړونونه لاسلیکوي، د پانګونې د دوو اړخیزو تړونونو یو مهمه ځانګړنه دا ده چې بهرني پانګوال ته حق ورکوي چې د کوربه هېواد پر وړاندې خپله دعوه اقامه کړي چې د پانګونې له تړونه یې سرغړونه کړې ده چې مالي خساره تر لاسه کړي، دغه سیستم ته د پانګوال-دولت د شخړې د حل سیستم وایي؛ همدارنګه د پانګونې دوه اړخیز تړونونه بهرنیو پانګوالو ته اجازه ورکوي چې په مستقیم ډول په نړیوالو مراجعو کې له کوربه دولت سره خپلې دعوې مخ ته یوسي، پرته له دې چې د کوربه هېواد په قضایي او د شخړو د حل او فصل له نورو مراجعو څخه ګټه واخلي [۲۰].

افغانستان تر دې مهال د پانګونې یواځې شپږ دوه اړخیز تړونونه لاسلیک کړي دي [۲۱]، د افغانستان د پانګونې لومړنی دوه اړخیزه تړون په ۲۰۰۴ز. له ترکیې سره لاسلیک شوی دی [۲۲]، په همدې ترتیب افغانستان په ۲۰۰۵ز. له جرمني [۲۳]، په

۲۰۰٦ز. له ایران [۲۴]، په ۲۰۱۲ز. له قزاقستان [۲۵]، په ۲۰۱۴ز. له تاجکستان [۲٦] او وروستنی تړون په ۲۰۱۷ز. له اذربایجان [۲۷] سره لاسلیک کړی دی [۲۸].

افغانستان چې د ګوتو په شمېر د پانګونې تړونونه لري؛ پکار ده چې د سیمې د هېوادونو او همدارنګه د نړۍ له پرمختللو هېوادونو سره د پانګونې تړونونه لاسلیک کړي، دغه ډول تړونونه بهرنیو پانګوالو ته د دې ډاډ ورکوي چې د دوی پانګې به له هېڅ ګواښ سره نه مخامخېږي، دغه راز هغه افغان پانګوال چې په بهر کې پانګې لري، د هغوی د پانګو د خوندیتوب په برخه کې به هم اړین ګام اخیستل شوی وي؛ نو ویلای شو چې د پانګونې د تړونونو او د پانګې د جذب تر منځ مستقیمه اړیکه شته چې په لاسلیکولو سره به یې بهرني پانګوال وهڅول شي چې افغانستان ته خپلې پانګې راوړي.

**۲ـ د پانګونې څو اړخیز تړونونه**

دویم ډول د پانګونې هغه تړونونه دي چې د نورو اقتصادي تړونونو (چې د ازادې سوداګرۍ تړونونه نومېږي) د یوه څپرکي په توګه د څو هېوادونو د وګړو د پانګو د خوندیتوب په موخه لاسلیک کېږي، دغه ډول تړونونه د دې لپاره لاسلیک کېږي چې د تړونوالو هېوادونو وګړو پانګې د ټولو هېوادونو په قلمرو کې خوندي کړي؛ په دې معنا چې د تړونوالو هېوادونو د وګړو پانګې چې یو له تړونوالو هېوادونو په خاوره کې په کار اچولې دي؛ خوندي کړي، نامالي ګواښونه یې کم کړي او په ټوله کې د پانګونې لپاره سالم چاپېریال رامنځته کړي، د پانګونې دغه ډول تړونونه بهرني پانګوال دې ته هڅوي چې په تړونوالو هېوادونو کې پانګونه وکړي، د دغه ډول تړونونو ښه بېلګه د شمالي امریکا د ازادې سوداګرۍ تړون (NAFTA) دی چې یو څپرکی یې د غړو هېوادونو د وګړو د پانګو خوندیتوب ته ځانګړی شوی دی [۲۹].

د پانګونې پخواني تړونونه د پانګو د خوندیتوب په اړه کم موارد لري، په داسې حال کې چې یو شمېر عصري تړونونه په ډېرو حالاتو کې د بهرنیو پانګونو خوندیتوب پر غاړه اخلي، له همدې امله دغه تړون اوسمهال د امریکا، مکسیکو،

کاناډا (The U.S.-Mexico-Canada Agreement (USMCA) د تړون په نوم يادېږي چې په ۲۰۲۰ز. کې د NAFTA ځای نیونکی شو[۳۰].

د USMCA د ازادې سوداګرۍ تړون څوارلسم څپرکی پانګونې ته ځانګړی شوی دی، د دغه ډول تړونونو متن د دوه اړخېزو تړونونو په شان دی چې د غړو هېوادونو د وګړو د پانګو د خوندیتوب او هغو ته د اسانتیاو د رامنځته کولو په موخه لاسلیک کېږي، که څه هم افغانستان د څو اړخیزو اقتصادي تړونونو غړی دی؛ خو تر اوسه يې داسې څو اړخیز تړون نه دی لاسلیک کړی چې د نورو هېوادونو د وګړو د پانګونې د جذب په موخه يې دوی ته ځانګړي امتیازات منلي وي.

**ت. د پانګونې تړونونو او د پانګې د جذبولو تر منځ اړیکه**

د پانګونې د تړونونو او د پانګې د جذب تر منځ مستقیمه اړیکه شته، په دې معنا کله چې يو هېواد په زیاته کچه د پانګونې تړونونه لاسلیک کړي؛ په هماغه اندازه زيات بهرني پانګوال په کوربه هېواد کې د خپلې پانګې د خوندیتوب په اړه کمه اندېښنه لري، همدارنګه په کوربه هېواد کې به د نوموړي له پانګې سره توپيري چلند نه کېږي، د دعوې په صورت کې به نوموړی د دعواو د حل نړیوالو میکانیزمونو ته د لاسرسي حق ولري، دغه ډول خوندیتوبونه د دولتونو تر منځ د پانګونې د دوه اړخيزو او څو اړخیزو تړونونو له لارې د اړوندو هېوادونو وګړو ته ورکول کېږي.

د بېلګې په توګه متحده عربي امارات په دې وروستيو کې د نړۍ له هېوادونو سره د پانګونې او سوداګرۍ تړونونه په فعاله توګه تعقیبوي چې له امله يې دغه هېواد په عربي نړۍ کې د پانګونې د جذب له امله لومړی مقام لري[۳۱].

د دغو تړونونو موخه د متحده عربي اماراتو او د هغو د سوداګریزو شریکانو تر منځ د سوداګرۍ او پانګونې جریان ته وده ورکول دي، په داسې حال کې چې د ژورې اقتصادي همکارۍ لپاره يو حقوقي چوکاټ چمتو کوي، د مثال په توګه وروستي تړونونه چې له هند، انګلستان، اسراییل، سوېلي افریقا او ترکیې سره لاسلیک شوي، د متحده عربي اماراتو په اقتصاد کې يې د سوداګرۍ او

پانګونې د جریان په زیاتولو کې مثبته اغېزه کړې ده، د بېلګې په توګه د هند، متحده عربي اماراتو د جامع اقتصادي مشارکت تړون له لاسلیک کولو یو کال وروسته د دواړو هېوادونو تر منځ دوه اړخیزې سوداګرۍ ٪۲۷،۵ وده وکړه، د متحده عربي اماراتو بهرنۍ سوداګري په ۲۰۲۲ کې ۲،۲ ټریلیون درهم (599 ملیارده ډالرو) ته ورسېده، دغه راز عربي متحده اماراتو تر دې مهاله د پانګونې ۱۱۴ دوه اړخیزه تړونونه لاسلیک کړي دي چې اکثریت یې لازم الاجرا دي [۳۲].

له همدې امله په ۲۰۲۱ز. کې عربي اماراتو ۲۰،۷ میلیارده ډالره بهرنۍ پانګه جذب کړې وه، په دې سره عربي متحده اماراتو د ټولو عربي هېوادونو څلوېښت سلنه مستقیمه بهرنۍ پانګه جذب کړې ده [۳۳].

افغانستان تر دې مهاله د پانګونې دغه ډول یواځې شپږ تړونونه لري[۳۴] چې د تېر نظام تر پرځېدو ټول یې لازم الاجرا وو [۳۵]، افغانستان له ترکیې، جرمني، ایران، قزاقستان، تاجکستان او آذربایجان سره د پانګونې دوه اړخیز تړونونه لاسلیک کړي دي [۳٦]، اوسمهال افغانستان پر یادو هېوادونو سربېره له عربي هېوادونو، هندوستان، چین او د سیمې له نورو پانګه صادرونکو هېوادونو سره د دغه ډول تړونونو لاسلیک کولو ته ډېره اړتیا لري، د نړۍ په ډېرو هېوادونو په ځانګړې توګه ګاونډیو او عربي هېوادونو کې افغانانو ډېره پانګونه کړې ده، د دوی د پانګې د خوندیتوب لپاره افغانستان باید له کوربه هېوادونو سره د پانګونې دوه اړخیز او څو اړخیز تړونونه لاسلیک کړي چې د افغانانو پانګې په یادو هېوادونو کې له ځانګړو امتیازونو برخمنې او افغانستان ته هم د پانګې د جذب په موخه لازم حقوقي چوکاټونه رامنځته شي، له بلې خوا د زیاتو اقتصادي تړونونو شتون نړیوالې کمپنۍ دې ته هڅوي چې خپلې پانګې په داسې هېواد کې په کار واچوي چې له ډېرو هېوادونو سره د سوداګریزو اسانتیاو په موخه اقتصادي تړونونه ولري چې یې له امتیازاتو څخه برخمن شي او په اسانۍ وکولای شي، د نړۍ بازارونو ته لاسرسی پیدا کړي.

د پانګونې په تړونونو کې هېوادونه ژمنې کوي چې له بهرني پانګوال سره به توپيري چلند نه کوي او له کوربه دولت سره د ستونزې د رامنځته کېدو په صورت کې به نړيوالو مراجعو ته لاسرسی ولري چې په لاندې ډول ترې يادونه کوو:

### ۱. له بهرنيو پانګوالو سره توپيري چلند نه کول

د اقتصاد په نړيوالو قوانينو کې دوه اصلونه چې تر ټولو غوره ملت (Most Favored Nation) او ملي چلند (Treatment National) نومېږي؛ په کوربه هېوادونو کې له بهرنۍ پانګې سره له تبعيضه خونديتوب رامنځته کوي، دغه دوه اصلونه د نننۍ نړۍ د پانګونې د ډېرو تړونونو مهمه برخه تشکيلوي، د دې اصلونو له مخې کوربه هېواد نه شي کولای چې د بهرنيو پانګوالو تر منځ او يا هم د کورني او بهرني پانګوال تر منځ توپيري چلند وکړي.

### الف- د بهرنيو هېوادونو له پانګوالو سره يو شان چلند

په نړيوالو اقتصادي تړونونو کې د تړون د غړو هېوادونو له پانګوالو سره د يو شان چلند پرنسيپ ته د تر ټولو غوره ملت (Most Favored Nation) پرنسيپ وايي، د سوداګرۍ په نړيوالو تړونونو کې د دغه پرنسيپ شاملېدل ډېره لرغونې مخينه لري، اوسمهال دغه اصل په نړۍ کې د سوداګرۍ د پراختيا لپاره د سوداګرۍ نړيوال سازمان په قوانينو کې مهم اصل ګڼل کېږي، د دغه پرنسيپ پر بنسټ هېوادونه مکلف دي چې د سوداګرۍ د نړيوال سازمان د غړو هېوادونو د سوداګريزو اموالو تر منځ توپير و نه کړي، په دې معنا هغه امتيازات او مصئونيتونه چې د يوه هېواد توليداتو ته ورکول کېږي؛ بايد په نوموړي هېواد کې د سوداګرۍ د نړيوال سازمان ټولو غړو هېوادونو توليداتو ته ورکړل شي، دا چې دغه پرنسيپ د نړيوالې عُرفي قاعدې حيثيت نه لري؛ نو کوربه هېواد يوازې د تړونونو په صورت کې د دغه پرنسيپ پر پلي کولو مکلف دی، دغه پرنسيپ که څه هم په لومړيو کې د سوداګرۍ په نړيوالو حقوقو کې را څرګند شوی، د سوداګرۍ له نړيوالو تړونونو څخه د پانګونې نړيوالو تړونونو ته ننوتی دی، د پانګونې په برخه کې ياد پرنسيپ په دې معنا دی چې کوربه هېواد به د بهرنيو

پانګوالو تر منځ توپير نه کوي؛ يعنې هغه امتيازات چې د ځانګړي هېواد پانګوالو ته ورکول کېږي، بايد د ټولو هېوادونو پانګوالو ته ورکړل شي، په بل عبارت د MFN پرنسيپ له بهرنيو پانګو سره د هر ډول توپيري چلند له منځه وړونکی دی، که چېرته توپيري چلند د تابعيت پر بنسټ وي، د بېلګې په توګه که د کوربه هېواد د تړون يا کومې بلې هوکړې پر بنسټ دربيم هېواد ته ځانګړی امتياز ورکړي، د MFN پرنسيپ لرونکي تړون هېواد هم کولای شي د دغه ډول امتياز غوښتنه وکړي (۳۷).

د افغانستان له خوا په لاسليک شوو تړونونو کې د افغانستان او ايران تر منځ په تړون کې دغه ډول پرنسيپ نشته؛ خو د افغانستان، ترکيې د دوه اړخيز تړون په دربيمه ماده کې د MFN پرنسيپ شتون ته په دې ډول اشاره شوې: د تړون هر لوری به د بل هېواد له پانګې او پانګوال سره داسې چلند کوي چې په ورته شرايطو کې د دربيم هېواد له پانګې او پانګوال سره له چلنده ناوړه نه وي، دغه راز د افغانستان او جرمني د پانګونې په دوه اړخېز تړون کې دغه پرنسيپ ته په داسې ډول اشاره شوې ده: هېڅ يو تړونوال هېواد نه شي کولای په خپله خاوره کې د مقابل لوري له پانګوالو سره د پانګونې په برخه کې د خپلو پانګوالو يا د دربيم هېواد پانګوالو په نسبت لږ مناسب چلند وکړي (۳۸).

په پورته تړونونو کې د MFN پرنسيپ شتون پر دې دلالت کوي چې که په افغانستان کې د بل هر هېواد پانګوال ته ځانګړی امتياز ورکول کېده؛ نو ترکي او جرمني پانګوال ته به هم ورکول کېږي، د بېلګې په توګه پاکستاني پانګوال ته ماليه معافېږي؛ نو له افغانستان سره د جرمني او ايران د تړونونو پر بنسټ جرمني او ترکي پانګوال د دې غوښتنه کولای شي چې د پاکستاني پانګوالو په شان د دوی ماليه هم معاف شي.

**ب. له کورني او بهرني پانګوال سره يو شان چلند**

له کورنيو او بهرنيو پانګوالو سره د يو شان چلند کولو په موخه هېوادونه په خپلو تړونونو کې د ملي چلند (National Treatment) اصل ځای پر ځای کوي، دغه پرنسيپ بهرنيو پانګوالو ته د دې فرصت برابروي چې کورنيو پانګوالو

ته د امتياز ورکولو پر مهال د ورته امتياز غوښتنه وکړي او د نه ورکړې په صورت کې پر کوربه دولت دعوه اقامه کړي، پر دې سربېره د دې پرنسيپ په وسيله هڅه کېږي چې د کوربه هېواد له لوري له واکه د ناوړې ګټې اخيستنې کچه محدوده کړل شي، دغه راز د دې پرنسيپ په وسيله هڅه کېږي چې د انفرادي امتياز، خپلسرۍ او ناعادلانه چاپېريال د رامنځته کېدو مخه ونيسي.

د افغانستان له خوا په لاسليک شوو تړونونو کې د افغانستان او جرمني د پانګونې په دوه اړخيز تړون کې دغه پرنسيپ ته په داسې ډول اشاره شوې ده: هېڅ يو تړونوال هېواد نه شي کولای په خپله خاوره کې له مقابل لوري پانګوالو سره د پانګونې په برخه کې د خپلو پانګوالو يا د درېيم هېواد د پانګوالو په نسبت لږ مناسب چلند وکړي [۳۹].

افغانستان ته پکار ده چې د پانګونې په راتلونکو تړونونو کې دغه اصل ځای پر ځای کړي چې بهرني پانګوال ډاډ پيدا کړي چې دوی ته له کورنيو پانګوالو څخه په کمه سترګه نه کتل کېږي او کورني پانګوال ته د امتياز د ورکړې پر مهال دوی هم ترې برخمنېدای شي.

**۲. د دعواو د حل او فصل نړيوالو مراجعو ته لاسرسی**

د دې لپاره چې هېواد ته بهرنۍ پانګه را جلب شي؛ بهرنيو پانګوالو ته بايد د دې فرصت موجود وي چې له کوربه دولت سره د ستونزو د هوارۍ په موخه د دعواو د هوارولو نړيوالو ميکانزمونو ته لاسرسی ولري، بهرني پانګوال اندېښنه لري چې د دعواو د رامنځته کېدو په صورت کې به په کوربه دولت کې عدالت په سمه توګه پلی نه شي؛ ځکه چې حاکم (Arbitrator) يا قاضي به د کوربه هېواد تر اثر لاندې راشي او زما په حق کې به پرېکړه و نه شي، دغه راز د کوربه دولت له لوري به د حاکم يا محکمې پرېکړه په سمه توګه پلې نه شي او يا به هم دعوې ته سياسي رنګ ورکړل شي [۴۰].

د افغانستان د پانګونې په تړونونو کې هم دغه ماده ځای پر ځای شوې ده، د بېلګې په توګه د افغانستان او ترکيې تر منځ د پانګونې په دوه اړخيز تړون کې

په افغانستان کې ترکي پانګوالو ته اجازه ورکړل شوې چې د اختلافاتو د رامنځته کېدو پر مهال نړيوال حکميت (International Arbitration) ته مراجعه وکړي، ياد تړون بهرنيو پانګوالو ته اجازه ورکړي چې خپلې ستونزې لومړی له دولت سره د مذاکرې له لارې حل کړي؛ خو که د شپږو مياشتو په جريان کې د دواړو لوريو تر منځ مسئله حل نه شوه؛ نو کولای شي د پانګونې د شخړو په برخه کې نړيوال حکميت ته مراجعه وکړي.

افغانستان د بهرنيو پانګو د جذب په موخه دغه ډول مادو ته اړتيا لري چې په خپلو تړونونو کې يې ځای پر ځای کړي، د دې مادې له امله بهرني پانګوال ته د دې ډاډ حاصلېږي چې که په افغانستان کې يې له حکومت سره د خپلې پانګې په برخه کې کومه ستونزه رامنځته کېده؛ نو د دعواو د حلولو په کورنيو مراجعو سربېره کولای شي د نړيوالو بې‌طرفه ارګانونو له لارې خپلې دعوې حل کړي.

**پايله**

د بهرنۍ پانګې د جذب په برخه کې حقوقي لارې چارې اغېزناک نقش لري، په هېواد کې دننه د داسې قوانينو رامنځته کول چې بهرنيو پانګوالو ته ځانګړې امتيازات په پام کې ونيسي؛ حياتي ګڼل کېږي، د ډېرو هېوادونو لپاره له بهرنۍ پانګونې څخه د ملاتړ قوانين د پانګونې د هڅولو او تنظيمولو لپاره د پاليسۍ اصلي وسيله ګرځېدلې ده، د پانګونې له نړيوالو تړونونو سره يو ځای د پانګونې داخلي قوانين په کوربه هېواد کې د پانګونې او پانګوالو لپاره قانوني چوکاټ جوړوي، د يادولو ده چې يوازې د پانګونې ځانګړې قوانين نه دي چې هېوادونه يې د پانګونې د تنظيم په موخه کاروي؛ بلکې نور اړوند قوانين هم د بهرنيو پانګوالو لپاره مهم ګڼل کېږي، کله چې يو پانګوال په يوه بهرني هېواد کې پانګونه کوي؛ نو د خپلې پانګې په اړه لوی خطر ته غاړه ږدي، په دې معنا چې پانګې ته يې که ګواښ يا زيان متوجې وي؛ نو څه به کوي؟ له کوربه دولت سره به له کومې لارې خپلې دعوې د کوم قانون او په کومه مرجع کې مخ ته وړي، د همدې موخې لپاره بهرني پانګوال د کوربه هېواد قوانين ګوري چې تر کومه حده د نوموړي پانګه خوندي کوي.

د افغانستان د پانګونې په برخه کې قوانین که څه هم د بهرنیو لپاره یو لړ امتیازات په پام کې نیولي؛ خو هېواد ته د بهرنیو پانګوالو د هڅونو په برخه کې باید د افغانستان د ملي ګټو په چوکاټ کې واضح حکمونه ولري او په روانه ژبه ولیکل شي، دغه راز افغانستان نه دی توانېدلی چې له نړۍ سره په پراخه کچه د پانګونې دوه اړخیز او څو اړخیز تړونونه لاسلیک کړي، د دې کار لامل کېدای شي، کورنۍ ستونزې، جګړې او سیاسي بې ثباتي وګڼل شي، له همدې امله افغانستان د پانګونې یواځې شپږ تړونونه لري چې تر ډېره د لومړي نسل تړونونه شمېرل کېږي، حال دا چې زموږ په ګاونډ (پاکستان) کې ۵۳ او هندوستان د پانګونې ۷۳ تړونونه لري، د پانګونې د تړونونو په زیاتېدو سره به په افغانستان کې د بهرنیو هېوادونو د وګړو پانګې امن او خوندي شي.

افغانستان باید د بهرنۍ پانګې د جلب په موخه د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره چې په افغانستان کې د پانګونې علاقه لري؛ د پانګونې دوه اړخیز او څو اړخیز تړونونه وکړي او د دغو تړونونو د رامنځته کېدو لپاره باید افغانستان د پانګونې د تړون نمونه (Model Treaty) ترتیب کړي، دغه نمونوي تړون باید په داسې ډول جوړ شي چې د بهرني پانګوال او د افغانستان د ملي ګټو د ساتلو تر منځ پکې توازن وساتل شي.

**وړاندیزونه**

۱. افغان حکومت دې په کور دننه د بهرنیو پانګوالو د پانګې د خوندیتوب او د هغوی د ډاډ لپاره داسې صریح او ساده قوانین رامنځته کړي چې بهرني پانګوال په اسانۍ ترې ګټه واخلي او په افغانستان کې د پانګونې په برخه کې ژر پرېکړه وکړي.

۲. د افغانستان اسلامي امارت ته وړاندیز کېږي چې د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د پانګونې دوه اړخیز او څو اړخیز تړونونه لاسلیک کړي.

۳. له نورو هېوادونو سره د پانګونې د تړون د لاسلیک لپاره اړتیا ده چې لومړی په هېواد کې دننه تخصصي کسان د تړون نمونه (Model Treaty) چې ټول دیني او ملي ارزښتونه پکې خوندي وي؛ ترتیب کړي او له نورو هېوادونو سره د تړونونو د لاسلیک په برخه کې ترې استفاده وشي.

**مأخذونه**

١- بشير دوديال، پانګونه او بهرنۍ پانګونه، تاند ويبپاڼه، ٢٠٢١/٠٥/٢١، لاسرسی: https://taand.net/?p=209168 [مراجعه: 1402/11/30 ل.].

٢- هماغه سرچينه.

٣- هماغه سرچينه.

۴- هماغه سرچينه.

۵- افغانستان، د خصوصي پانګې اچونې قانون، ٨٦٩ مه ګڼه رسمي جريده، عدليې وزارت: کابل، ١٣٨۴ ل.

٦- سرمايه‌گذاری غيرمستقيم چيست؟ بررسی روش‌ها، آکادمی دانايان، ١۴٠١/٠۵/٠٨ل. لاسرسی:

https://danayan.academy/%D8%B3%D8%B1%D9%85%D8%A7%DB%8C%D9%87%DA%AF%D8%B0%D8%A7%D8%B1%DB%8C-%D8%BA%DB%8C%D8%B1%D9%85%D8%B3%D8%AA%D9%82%DB%8C%D9%85/ [مراجعه: 1/29/1402ل.].

7-Investment Laws, Investment Policy Monitor, UNCTAD, Nov 2016. P. 2

8-Ibid

٩- افغانستان، د خصوصي پانګې اچونې قانون، ٨٦٩ مه ګڼه رسمي جريده، عدليې وزارت: کابل، ١٣٨۴ ل، دېرشمه ماده.

١٠- افغانستان، د خصوصي پانګې اچونې قانون د يوويشتمې مادې تعديل، ٩٨۵ مه ګڼه، رسمي جريده، عدليې وزارت: کابل، ١٣٨٨ ل.

11- Wang Jihong, Major changes in the UAE's foreign investment legal system, China Business Law Journal, 8 March 2021, available at https://law.asia/major-changes-uaes-foreign-investment-legal-system/ [Accessed:09, December 2023].

12- Ibid
13- Ibid
14- International Centre for Settlement of Investment Disputes (ICSID)
15-investor-state dispute settlement (ISDS).

16- Germany - Pakistan BIT (1959), International Investment Agreements Navigator | UNCTAD Investment Policy Hub, available at http://investmentpolicyhub.unctad.org/IIA/country/78/treaty/1732 [Accessed:09, December 2023].
17- International Investment Agreements Navigator, UNCTAD Investment Policy Hub, available at https://investmentpolicy.unctad.org/international-investment-agreements [Accessed:10, January 2023].

18-Tobin, Jennifer L.; Busch, Marc L. (2010). "A BIT is Better Than a Lot: Bilateral Investment Treaties and Preferential Trade Agreements". World Politics. 1–42. doi:10.1017/S0043887109990190. S2CID 12007652. [Accessed:01, February 2023].
19- Prabhash Ranjan (2019). India and Bilateral Investment Treaties: refusal, acceptance and backlash, Oxford University Press, New Delhi, India p. 1

۲۰- د UNCTAD یواځې د افغانستان د څلورو تړونونو یادونه کړې ده؛ خو د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزارت له مخې افغانستان د پانګونې شپږ تړونونه لري چې له ایران، تاجکستان، آذربایجان، جرمني، ترکیې او قزاقستان سره لاسلیک

شوي دي او اوسمهال تړول لازم الاجرا دي، د لازیاتو معلوماتو لپاره کولای شئ، لاندېنی لینک کېکاږئ:

https://moci.gov.af/en/agreements-and-memoranda-understanding

21-Afghanistan –Turkey BIT (2004)

22-Afghanistan –Germany BIT (2005)

23-Afghanistan – Iran BIT (2006)

24-Afghanistan -Kazakhstan BIT (2012)

25-Afghanistan -Tajikistan BIT (2014)

26-Afghanistan BITs, Investment policy hub, UNCTAD, available at https://investmentpolicy.unctad.org/international-investment-agreements/countries/1/afghanistan [Accessed:20, January 2023].

27-Agreements and memorandum of understanding, ministry of Commerce of AFG, available at: <https://moci.gov.af/en/agreements-and-memoranda-understanding>

28-North American Free Trade Agreement (NAFTA) available at https://www.trade.gov/north-american-free-trade-agreement-nafta

29-USMCA, available at https://www.trade.gov/usmca [Accessed:16, January 2023].

30-UNCTAD investment report 2022 ranks UAE first in the Arab world and 19th globally in attracting FDI | Ministry of Economy – UAE, 23 Jun 2022, available at: https://www.moec.gov.ae/en/-/unctad-investment-report-2022-ranks-uae-first-in-the-arab-world-and-19th-globally-in-attracting-fdi [Accessed:07, February 2023].

31-United Arab Emirates | International Investment Agreements Navigator | UNCTAD Investment Policy Hub available at: https://investmentpolicy.unctad.org/international-investment-agreements/countries/220/united-arab-emirates [Accessed:18, February 2023].

32-Ibid

33-Agreements and Memorandum of understanding, ministry of Commerce of AFG, available at: https://moci.gov.af/en/agreements-and-memoranda-understanding [Accessed:30, January 2023].

34-Ibid

35- Afghanistan BITs, Investment policy hub, UNCTAD, available at: https://investmentpolicy.unctad.org/international-investment-agreements/countries/1/afghanistan [Accessed:26, January 2023].

36-Nartnirun Junngam, "An MFN Clause and Bit Dispute Settlement: A Host State's Implied Consent to Arbitration by Reference," UCLA Journal of International Law and Foreign Affairs.

۳۷- د ترکیې د جمهوریت او د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت ترمنځ د پانګې اچونې د متقابل پرمختګ او ساتنې تړون.

۳۸- د افغانستان – جرمني د پانګونې دوه اړخیز تړون، ۲ بند.

۳۹- هماغه سرچینه.

40-Nuemayer and Spess, do bilateral investment treaties increase foreign direct investment to developing countries? World Devision, 2005.

څېړنوال عبدالخالق فردوس

## د قره باغ په شخړه کې د اذربایجان بریا او د ایران اندېښنې

## Azerbaijan's Victory in the Karabagh Conflict and Iran's Concerns

Assoc. Prof. Abdulkhaliq Ferdaus

**Abstract**

In September of 2023 Azerbaijan won the Nagorno-Karabakh war and gained full controlled over the region. As the war lasted for more than 30 years, and no solution was found through diplomacy and negotiations during this period, Azerbaijan initiated efforts to make progress in both economic and military sectors. Simultaneously, the country sought support from various nations in the region, particularly Turkey and Israel. Therefore, Azerbaijan chose the path of war and successfully defeated Armenia. Additionally, Iran located in the vicinity of both countries, was trying to prolong the conflict and preventing the creation of a strong Azerbaijan in the region. As the war ended in favor of Azerbaijan, the position of this country in the region was strengthened and created a direct transit with the Nakhchivan region, Turkey and European countries, which was previously done by taking advantage of the territory of Iran. Similarly, Turkey also got the opportunity to connect with Azerbaijan and other Turkic countries in central Asia which previously was through the territory of Iran. Consequently, it can be stated that after the war, Iran faced not only economic concerns but also geopolitical challenges.

**لنډیز**

د اذربایجان او ارمنستان تر منځ د قره باغ جګړه د ۲۰۲۳ ز. د سپټمبر میاشت کې اذربایجان وګټله او د یادې سیمې بشپړه ولکه یې تر لاسه کړه، دا چې دغې جګړې تر دېرشو کلونو ډېر وخت ونیوه او په دې موده کې د ډیپلوماسۍ او خبرو اترو له لارې ورته د حل مناسبه لار پیدا نه شوه؛ اذربایجان هڅې پیل کړې چې له یوه لوري په اقتصادي او پوځي برخه کې پرمختګ وکړي او له بل لوري د جګړې په اړه د سیمې د یو شمېر هېوادونو په ځانګړې توګه د ترکیې او اسراییلو ملاتړ ترلاسه کړي؛ نو ځکه یې د جګړې لار غوره او په دې میدان کې یې ارمنستان ته ماتې ورکړه، ایران چې د دواړو هېوادونو په ګاونډ کې پروت دی؛ هڅه یې کوله دغه جګړه دوام پیدا کړي چې په سیمه کې د یوه پیاوړي اذربایجان د رامنځته کېدو مخنیوی وکړي، دا چې جګړه د اذربایجان په ګټه پای ته ورسېده؛ نو په سیمه کې د دغه هېواد دریځ پیاوړی شو، له نخچوان کورواکه سیمې، ترکیې او اروپایي هېوادونو سره یې د ټرانزېټ فرصت چې پخوا یې د ایران له خاورې څخه په ګټې اخیستنې ترسره کاوه؛ پیدا کړ، له بلې خوا له دې جګړې وروسته ترکیې له اذربایجان او په مرکزي اسیا کې له نورو ترک توکمو هېوادونو سره د نښلونې مستقیم فرصت پیدا کړ، دغه اړیکه له دې جګړې دمخه د ایران له خاورې څخه په ګټې اخېستنې ترسره کېده؛ نو ویلای شو چې له دې جګړې وروسته ایران ته نه یواځې اقتصادي اندېښنې؛ بلکې دغه هېواد ته یې د جیوپولېټیک وړتیا د بې اهمیته کولو اندېښنې هم رامنځته کړې دي.

**سریزه**

د تزاري روسیې او له هغوی وروسته د شوروي اتحاد یو سیاست دا و چې د دوی تر ولکې لاندې سیمو نفوس ته یې بدلون ورکاوه، د همدې سیاستونو په رڼا کې یې د قره باغ سیمې ته پر نورو جمهوریتونو سربېره له ارمنستان او د نړۍ له نورو هېوادونو څخه ارمنیان را وستل او له اذربایجان پورې تړلې د قره باغ سیمه کې یې ځای پر ځای کړل، په دې سره په سیمه کې د ارمنیانو شمېر زیات او وروسته له ارمنستان سره د یوځای کېدو او بیا یې د خپلواکۍ اعلان وکړ، د ارمنیانو دغه اقدام

د اذربایجان له لوري و نه منل شو او په سیمه کې لومړۍ جګړه پیل شوه چې له ۱۹۸۸ز. نه تر ۱۹۹۴ز. یې دوام وموند، د دغې جګړې له امله نه یواځې دا چې زرګونه تنه وژل شوي او مهاجر شوي وو؛ ارمنستان وکولای شول چې په جګړه کې اذربایجان مات او د قره باغ پر سیمه د ولکې پر ترلاسه کولو سربېره د اذربایجان شل سلنه نوره خاوره ونیسي او تر خپلې واکمنۍ لاندې یې راولي، دغه جګړه د روسیې په منځګړتوب د لورو ترمنځ د اوربند له لاسلیک وروسته پای ته ورسېده، له دې جګړې وروسته د قره باغ په سیمه کې خپلواک جمهوریت چې نه یواځې د نړۍ د هېوادونو؛ بلکې د ارمنستان له لوري هم په رسمیت و نه پېژندل شو، د وخت په تېرېدو د دواړو ښکېلو هېوادونو له لوري د کوچنیو بریدونو ادعاوې رامنځته کېدې؛ خو په ۲۰۱٦ز. کې د څلور ورځو لپاره بیا هم د لورو تر منځ جګړه پیل او ډېر ژر د یوه اوربند له لاسلیک وروسته پای ته ورسېده، د اوربند دغه هوکړه لیکونه په داسې توګه لاسلیک کېدل چې د جګړې اصلي لاملونه لا پر ځای پاتې وو؛ خو کله چې په ۲۰۲۰ ز. کې د دواړو لورو تر منځ جګړه د بیاځلي لپاره پیل شوه؛ اذربایجان وکولای شول د ارمنستان له لوري له قره باغ پرته ۲۰ سلنه نیول شوې خاوره ونیسي او له ډېر کم وخت وروسته د قره باغ سیمه هم تر خپلې ولکې لاندې راولي او د قره باغ د سیمې ارمني تېره اوسېدونکي دېته اړ کړي چې د دوی له لوري په دې سیمه کې رامنځته شوی جمهوریت منحل اعلان کړي، د سیمې له هېوادونو څخه ایران هغه هېواد دی چې له ارمنستان او اذربایجان سره ګډه پوله لري او د دغو هېوادونو تر منځ هر ډول پېښېدونکي حالات پر ایران اغېزې کوي؛ نو خپلو ګټو ته په کتو یې د ارمنستان ملاتړ کاوه؛ خو د ایران د غوښتنې خلاف د قره باغ په دویمه جګړه کې اذربایجان بریالی شو.

په سیمه کې د موجوده شخړو او پر ملاتړو لوبغاړو یې د اغېزو روښانه کول نه یواځې د سیمه ییزو او بین المللي مطالعاتو مینه والو لپاره اهمیت لري؛ بلکې زموږ د هېواد د ډیپلوماسۍ دستګاه د اړوندې حوزې لپاره خام مواد برابروي چې په خپله برخه کې ترې ګټه پورته کړي، د دې څېړنې موخه د قره باغ په وروستۍ جګړه کې د اذربایجان د بریا د لاملونو روښانه کول او پر ایران د دغې جګړې د پای ته رسېدو

اغېزې څېړل دي، د څېړنې پوښتنه دا ده چې څرنګه اذربایجان وکولای شول په دغې جګړه کې بریالی او خپله پخوانۍ خاوره لاسته راوړي؟ د اذربایجان بریا به د ایران لپاره کومې اندېښنې رامنځته کړي؟ او د څېړنې فرضیه په دې ډول مطرح شوې چې په اذربایجان کې د سیاسي ثبات له رامنځته کېدو وروسته دغه هېواد د خپلو بهرنیو ملاتړو هېوادونو په مرسته وکولای شول چې دغه جګړه کې بریالی شي، په دې څېړنه کې له تشریحي - تحلیلي میتود څخه ګټه اخیستل شوې ده.

**د اذربایجان د بریا لاملونه**

د قره باغ له لومړۍ جګړې وروسته اذربایجان هڅه پیل کړه چې په کور دننه د سیاسي بې ثباتۍ د پای ته رسېدو لپاره هڅې وکړي، منظم پوځ رامنځته او پوځي امکانات ترلاسه کړي، په سیمه ییزه او نړیواله کچه ملاتړي هېوادونه پیدا کړي چې تر ډېره بریده په دې برخه کې بریالی هم شو؛ نو کله چې د دواړو لورو تر منځ په ۲۰۲۰ز. کې جګړه ونښتله؛ نو دغه مهال اذربایجان وکولای شول چې د ۴۴ ورځو په اوږدو کې خپله له لاسه ورکړل شوې خاوره بېرته ونیسي، په دې جګړه کې پر ۱۵۰ ملکي وګړو سربېره ۵۰۰۰ پوځیان ووژل شول[1].

دغه مهال روسیه له اوکراین سره په جګړه کې ښکېله وه؛ نو ویې نه شو کولای چې په مطلوبه توګه د ارمنستان ملاتړ وکړي، له بلې خوا اذربایجان د خپلو طبیعي سرچینو په ځانګړي ډول تېلو پر اساس وکولای شول چې له نورو هېوادونو څخه پرې وسلې ترلاسه کړي، په مقابل کې یې ارمنستان نه تېل لري او نه هم پیسې، د کارپوهانو په باور ارمنستان باید د قره باغ د دفاع لپاره د خپل هېواد د لسو کالونو بودیجه مصرف کړي چې دغه چاره له امکانه لرې ښکاري؛ نو ځکه اذربایجان وتوانید چې د قره باغ شاوخوا ښارونه او د لاچین کریډور چې د ارمنستان او قره باغ د اتصال لپاره یواځینۍ لار ده؛ ونیسي.

د قره باغ له لس میاشتنۍ کلابندۍ وروسته سره له دې چې هلته د روسیې سوله ساتي ځواکونه موجود وو، اذربایجان په داسې حال کې په دې سیمه کې د ترهګرۍ ضد عملیات پیل کړل چې دمخه یې د ارمنستان د مرستې لار (لاچین کریډور) د ۲۰۲۲ ز. په ډسمبر میاشت کې تر خپلې ولکې لاندې را وستی و، دغه

مهال د دغې سیمې اوسېدونکي د خوراکي توکو، تېلو او درملو له کمښت سره مخامخ شول، وضعیت دومره جدي شو چې ډېری سازمانونو د احتمالي نسلوژنې خبرتیا ورکړه[۲].

د دغې لس میاشتنۍ کلابندۍ په اوږدو کې د لوېدیځو هېوادونو مشرانو د اذربایجان له لوري دغه کلابندي وغندله او له اذربایجان څخه یې غوښتنه وکړه چې دغه کلابندي پای ته ورسوي؛ خو د دغې غوښتنې تر شا د زور د کارونې هېڅ اقدام و نه شو، نه هم پر اذربایجان بندیزونه وضع شول او ان تر دې چې دغه هېواد ته د بندیزونو د وضع کولو ګواښ هم و نه شو[۳].

فکر کېږي چې دغه مهال د اذربایجان پر وړاندې د نورو هېوادونو چوپتیا د اذربایجان مورال لا پیاوړی کړ؛ نو ځکه یې جګړې ته اقدام وکړ او په قره باغ کې یې پوځي عملیات پیل کړل، څرنګه چې په دې لسو میاشتو کې د قره باغ حکومت له ګڼو ستونزو سره مخامخ و او په دې پوهېده چې ارمنستان یې هېڅ راز مرسته نه شي کولای؛ نو ژر تسلیم شو او د دغې سیمې مشر سامویل شهرامانیان د روان کال د سپټمبر میاشت پر ۲۸ مه داسې فرمان لاسلیک کړ چې د راتلونکي ۲۰۲۴ ز. د جنوري میاشت تر لومړۍ به ټول دولتي سازمانونه له منځه وړي او اذربایجان ته به یې تسلیموي[۴].

**لومړی لامل- د روسیې له لوري د ارمنستان ملاتړ نه کول**

په ارمنستان کې د دغه هېواد صدراعظم نیکول پاشینیان هڅه پیل کړه چې په هېواد کې ولسواکي رامنځته کړي او په بهرني سیاست کې لوېدیځ لوري ته مخه کړي، دې موخې ته د رسېدو لپاره یې به دې نږدې وختونو کې اوکراین ته بشرپالې مرستې چې له زرو زیات سمارټ مبایلونه، کمپیوټرونه او ټبلیټونه وو؛ واستول[۵].

د امریکا له متحده ایالاتو سره یې د روان کال د سمپټمبر میاشتې له ۱۱ مې نه تر ۲۰ مې پوځي تمرینونه د Eagle Partner 2023 په نوم ترسره کړل چې پکې ۸۵ امریکایي سرتېرو او ۱۷۵ ارمني سرتېرو برخه اخیستې وه[٦].

بل مهم ټکی چې د دغو هېوادونو پر اړیکو یې منفي اغېزه وکړه؛ هغه د ارمنستان د لومړي وزیر څرګندونې وې، هغه په دې نږدې وختونو کې ویلي وو: (له

روسيې سره د دغه هېواد امنيتي هوکړه ليک بې اغېزې دی او هغه بهرنی امنيتي سيستم چې ارمنستان پکې ښکېل دی؛ د دغه هېواد د ملي امنيت او ملي ګټو د خوندي کولو لپاره ګټور نه دی[۷].

له دې خبرو څخه د پاشينيان موخه د ګډ امنيتي تړون په سازمان کې د ارمنستان ګډون دی، دغه سازمان چې په ۱۹۹۲ز. کې د روسيې په مشرۍ رامنځته شو؛ يوه موخه يې په ډله ييزه توګه د غړو هېوادونو د خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتيا او حاکميت ساتنه او د بهرني تېري په مقابل کې له غړي هېواده په ګډه دفاع کول دي[۸].

دغه خبرې هغه مهال پاشينان وکړې چې روسيې د قره باغ په جګړه کې د ارمنستان ملاتړ و نه کړ او د دغه هېواد ولسمشر وويل: (که څه هم روسيه د ګډ امنيتي تړون سازمان غړيتوب لري او د دغه سازمان د اساسنامې د حکمونو پر اساس که پر يوه غړي هېواد بريد وشي؛ نو په نورو غړو لازمه ده چې ملاتړ يې وکړي، دا چې دا جګړه د ارمنستان په رسميت پېژندل شوې خاوره کې نه ده؛ نو ځکه روسيه اړه نه ده چې په يادې جګړه کې مداخله کړي[۹]).

په داسې حال کې چې د قره باغ د لومړۍ جګړې پر مهال هم په دې سازمان کېدو اړو هېوادونو غړيتوب لار؛ خو روسيې هاغه مهال د ارمنستان کلک ملاتړ کاوه، د روسيې پر وړاندې د فشار د الې لرلو په توګه ارمنستان پارلمان د ۲۰۲۳ز. د اکتوبر مياشتې په دربيمه د بين المللي جنايي محکمې غړيتوب تر لاسه کول تصويب کړل[۱۰].

د دغه غړيتوب په ترلاسه کولو دغه هېواد د جنايي بين المللي محکمې د اساسنامې پر پلي کولو مکلف ګڼل کېږي، د دغې محکمې د اساسنامې د احکامو پر اساس که چېرې په جنګي جرمونو تورن له غړو هېوادونو څخه يوه هېواد ته داخل شي؛ نو دغه هېواد يې په تعقيب او نيولو مکلف دی، جنايي بين المللي محکمې د ۲۰۲۳ز. د مارچ مياشت په اوکراين کې د جنګي جرايمو د ترسره کولو په تور د روسيې د ولسمشر ولادېميرپوتين د نيولو حکم صادر کړ[۱۲].

که چېرې د جنايي بين المللي محکمې د اساسنامې د لازم الاجراوالي له نېټې وروسته د روسيې ولسمشر ارمنستان ته سفر وکړي؛ نو دغه هېواد يې په نيولو او

محکمې ته په سپارلو مکلف ګرځي، همدې ټکي د دواړو هېوادونو په اړيکو کې پراخ سيوري رامنځته کړي دي.

د روسيې دغه ډول سياست ټاکل په اوکراين کې د روسيې د بوختيا له امله دي، له دې جنګ دمخه روسيې هڅه کوله چې اذربايجان او ارمنستان په جګړه کې ښکېل وساتي، په همدې موخه يې په تېرو دېرشو کلونو کې د قره باغ د جګړې په اړه ډېر مغلق نقش لکه د منځګړي، ملاتړي، د وسلو برابروونکي او بيا خنډ جوړونکي په توګه ادا کړی دی چې شخړه دوام پيدا کړي[13].

روسيې هڅه کوله چې د بېلابېلو سياستونو په پلي کولو سره وکولای شي دغې سيمه کې جګړه دوام پيدا کړي او په سيمه کې د روسيې د نظامي شتون اړتيا دوام وکړي، که څه هم اوسمهال د قفقاز خلک پر دې پوه شوي چې روسيه نه غواړي په ياده سيمه کې جګړه پای ته ورسوي؛ نو ځکه ارمنستان د اذربايجان خاوره د قره باغ په ګډون په رسميت وپېژندله او په وروستۍ جګړه کې يې هېڅ مداخله و نه کړه، د جنوبي قفقاز په خلکو کې يوه ټوکه ده چې وايي: (که چېرې د ارمنستان او اذربايجان په جګړه کې روسيې ته د يوه لوري د ټاکلو حق ورکړل شي؛ نو تل به جګړه وټاکي[14]).

يو شمېر څېړونکي په دې نظر دي چې روسيې ته د اوکراين جګړې پرمهال د اذربايجان روسيې اړيکو اهميت ډېر شوی دی؛ نو ځکه يې د قره باغ په وروستۍ شخړه کې مداخله و نه کړه؛ ځکه چې دغه مهال د اذربايجان له لارې له ايران او سوېلي اسيا سره د روسيې نښلېدل د دغه هېواد ډېره پاملرنه اړولې ده، په همدې اساس روسيې او ايران د روان کال د مې مياشتې پر ۱۷ مه د اوسپنې پټلۍ د جوړېدو هوکړه لاسليک کړه چې پر اساس به يې د اذربايجان له لارې روسيه د فارس خليج له بندر سره ونښلي، دغه پټلۍ ۱۷۰ کيلومتره اوږدوالی لري او د ايران د رشت ښار ته رسېږي[15].

### دويم لامل- د اذربايجان د نظامي ځواک پياوړتيا

د هغو ارقامو پر اساس چې په نړيواله کچه خپاره شوي؛ روښانېږي چې په نظامي برخه کې اذربايجان له ارمنستان څخه ډېر پياوړی دی، دغه پياوړتيا د دې

لامل وګرځېده چې په جګړه کې ارمنستان مات کړي، په نظامي برخه کې د دغو هېوادونو د پیاوړتیا تفکیک په لاندې توګه روښانېږي:

- په پوځي برخه کې د ځواک لرلو په تناسب د ۱۴۵ هېوادونو په کتار کې اذربایجان ۵۷ او ارمنستان ۹۴ هېواد شمېرل کېږي.
- د نفوسو پر اساس اذربایجان ۱۰۳۵۳۲۹٦ تنه او ارمنستان ۳۰۰۷۵٦ تنه نفوس لري.
- د جغرافیوي مساحت پر اساس اذربایجان ۸٦٦۰۰ کیلومتره مربع مساحت لري او ارمنستان ۲۹۷۴۳ کیلومتره مربع مساحت لري.
- اذربایجان د ګټې اخیستنې وړ ۵۰۷۳۱۱۵ تنه بشري ځواک او ارمنستان ۱٦۸۰۴۲۳ تنه لري.
- اذربایجان ۳ بېلیونه ډالره او ارمنستان ۱،۲۸ بېلیونه ډالره نظامي بودیجه لري.
- اذربایجان ۱۲٦۴۰۰ تنه فعال نظامي پرسونل او ارمنستان ٦۸۵۰۰تنه فعال پرسونل لري.
- اذربایجان ۳۳۰۰۰۰ تنه ریزرف پرسونل او ارمنستان ۲۱۰۰۰۰ تنه ریزرف پرسونل لري.
- اذربایجان د نظامي خدمت لپاره چمتو ۳۰۰۰۰۰۰ تنه او ارمنستان ۸۰۹۵۷٦ تنه ځواک لري.
- اذربایجان ۹۴۰ ټانګونه او ارمنستان ۲۹٦ ټانګونه لري.
- اذربایجان ۲۳۲۳ زري پوښ جنګي موټر او ارمنستان ٦۱۰ دانې لري.
- اذربایجان ۹۰۹ توپخونې او ارمنستان ۲۳٦ توپخونې لري.
- اذربایجان ۱۴۸ الوتکې او ارمنستان ٦۴ الوتکې لري.
- اذربایجان ۱۷ جنګي الوتکې او ارمنستان ۴ جنګي الوتکې لري[۱٦].

**دریم لامل- د اذربایجان د نظامي ځواکونو د کیفیت لوړوالی**

د اذربایجان پوځ د کیفیت له اړخه له نوې ټکنالوژۍ او د وخت له اړتیاو سره سم روزل شوی او د قره باغ د وروستۍ جګړې میدان ته یې په هر اړخیزه توګه تجربه کاره پوځ واستوه؛ خو د ارمنستان په پوځ کې ځوانان او لویان شامل وو چې د ځوانو سرتېرو او داوطلبه جنګیالو مشري د مشرانو افسرانو په لاس کې وه چې د شوروي اتحاد پرمهال روزل شوي وو او په دې جګړه کې یې هم هماغه زاړه جنګي تکتیکونه کارول او د جګړې د ننني میدانونو په اړه چې پکې له نوو نظامي وسایلو څخه کار اخستل کېږي؛ پوهه او تجربه نه لرله[۱۷].

له بلې خوا د اذربایجان د پوځ ځانګړی ځواک چې د ترکیې په نظامي اکاډمیو کې یې زده کړې کړې وې؛ د دغې جګړې په ګټلو کې له خپلو تجربو ګټه پورته کړه[۱۸].

**څلورم لامل- د نوي عصر له ټکنالوژۍ سره د ارمنستان د پوځ نابلدتیا**

ارمنستان د قره باغ لومړۍ جګړه په داسې حال کې وګټله چې له وخت سره سم د دغه هېواد پوځ د شوروي اتحاد له لوري روزل شوی و او اذربایجان یې توانایي نه لرله، له یادې جګړې وروسته ارمنستان له اذربایجان سره پر پوله په بهر کې د ارمنیانو د ډیاسپورا د مالي امکاناتو د ورکړې پر اساس پوځي استحکامات جوړ کړل او باوري شول چې د نوېیمې لسیزې وضعیت به دوام ولري او د دښمن له ناتوانۍ څخه باوري وو، په حقیقت کې د شوروي د وخت دفاع د ۲۱ پېړۍ له برید سره مخامخ شو، که څه هم د اذربایجان ټکنالوژۍ لرل د دغه هېواد لپاره د جګړې ګټلو یو فرصت و؛ خو که چېرې ارمنستان لازم چمتووالی نیولی وای؛ ښایي د جګړې اغېزې به کمې وې[۱۹].

اذربایجان له ارمنستان سره د پیاوړې مبارزې په موخه نه یواځې له ترکیې څخه بایراکتار بې پیلوټه الوتکې او له اسراییلو څخه نور جنګي مهمات؛ بلکې د وخت له اړتیا سره سم یې له نورو هېوادونو لکه هسپانیې، چک او د ناټو له غړو هېوادونو څخه وسلې وپلورلې چې خپلې وسلې متنوع کړي، په داسې حال کې چې ارمنستان تر دې دمه د روسیې پر پخوانیو وسلو تکیه لري او د دې هېواد له ۹۰ نه تر ۹۵ سلنې وسلې د روسیې جوړې شوې وسلې دي[۲۰].

**پنځم لامل- په ارمنستان کې د مبارزې په اړه د واحدې ملي ارادې نه شتون**

د قره باغ له دویمې جګړې وروسته په ارمنستان کې د قره باغ سیمې د ولکې په اړه دوه ډوله نظریات رامنځته شول؛ دولتي چارواکو چې په سر کې یې د دغه هېواد لومړی وزیر قرار لاره، هڅه یې کوله چې له دې اقتصادي باره ارمنستان خلاص او دا موضوع د اذربایجان په ګټه پای ته ورسوي؛ خو د دغه هېواد وګړو قره باغ باندې د ولکې ساتلو او نه بایللو لپاره د دولت پر وړاندې لاریونونه وکړل، د لید لوري دغه ټکر د دې لامل شو چې په ملي کچه د قره باغ ګټلو مبارزه ټکنۍ او ارمنستان دغه سیمه وبایلي.

**شپږم لامل- د ارمنستان اقتصادي کمزورتیا**

د کارپوهانو په وینا ارمنستان باید د لسو کلونو بودیجه د قره باغ د جګړې لپاره ځانګړې کړې چې لږ تر لږه له اذربایجان سره مبارزې ته دوام ورکړي، دا چې دغه چاره ناممکنه ده؛ نو ځکه دغه هېواد د قره باغ سیمې په برخه کې اذربایجان ته غاړه کېښوده.

**د قره باغ سیمې له بېلوالي وروسته د ارمنستان ستونزې**

له سیاسي پلوه په جنوبي قفقاز کې ارمنستان له سیاسي ـ امنیتي اړخه په روسیې تکیه او له اقتصادي اړخه تر نورو جمهوریتونو بېوزله هېواد دی؛ ځکه چې دغه هېواد تر ډېره غرونو پوښلی او ۲۰ سلنه خاوره یې د کښت وړ ده، فکر کېږي چې له دغې جګړې وروسته به دا هېواد له لاندې ستونزو سره مخ شي:

**۱ ـ سیاسي او امنیتي ستونزې**

له یوې خوا د ارمنستان ډېری اوسېدونکي د دغه هېواد لومړی وزیر نیکول پاشینیان تورنوي چې د قره باغ له خلکو څخه یې دفاع و نه کړه او دغه سیمه یې په لوی لاس او ارادتاً اذربایجان ته پرېښوده‌له، په دې اړه یې ډېر لاریونونه هم وکړل، له بلې خوا د ناګورنو قره باغ له وروستۍ جګړې وروسته په سیمه کې موجودو ټولو ارمنیانو چې شمېر یې ۱۲۰۰۰۰ تنو ته رسېده؛ هم ارمنستان ته مهاجرت وکړ؛ نو فکر کېږي چې که چېرې دغه مهاجر چې دوی هم د ارمنستان له حاکم رژیمه په نه ملاتړ خوابدي دي، له هغو ارمنیانو سره چې په دې اړه یې د حاکم رژیم پر وړاندې لاریونونه پیل کړي وو؛ یوځای شي؛ نو دا به د ارمنستان د سیاسي بې ثباتۍ او امنیتي ستونزو د رامنځته کېدو لامل شي.

**۲ ـ اقتصادي ستونزې**

په جنوبي قفقاز کې ارمنستان تر نورو جمهوریتونو ډېر بېوزله هېواد دی؛ ځکه چې دغه هېواد ته پر انرژۍ سربېره سل سلنه غنم د روسیې له لوري صادرېږي، کرنیزه ځمکه یې د ټولې خاورې شل سلنه ده، طبیعي سرچینې او زېرمې نه لري، د قره باغ له جګړې وروسته د قره باغ سیمې ټولو ارمنیانو چې شمېر یې ۱۲۰۰۰۰ تنو ته رسېده؛ ارمنستان ته مهاجرت وکړ، دا چې ارمنستان په خپله له اقتصادي ستونزو سره لاس و ګرېوان دی؛ نو د دغو مهاجرینو لپاره د اوسېدو ځای پیدا کولو، روغتیایي خدمتونو ترسره کولو، د خوراکي توکو ورکولو، د دندو پیدا کول او ... به د دغه هېواد اقتصادي ستونزې لا پسې زیاتې کړي.

**د جګړې د پای ته رسېدو لپاره د زور کارونه**

د قره باغ جګړه ډېره پېچلې شوې وه، د دواړو هېوادونو ځانګړې غوښتنې، پخوانۍ دښمنۍ او منفي ذهنیت، په سیمه کې شته قومي- مذهبي ټکر د شخړې په اړه د نړیوالو حقوقو د پرنسیپونو (د هېوادونو ځمکنۍ بشپړتیا او د ملتونو برخلیک ټاکنه) ټکر او د سیمې او نړۍ هېوادونو لاسوهنې د دې لامل ګرځېدلې وې چې د اروپا د امنیت او همکارۍ سازمان د مېنسک ډلې له لوري وړاندې شوې طرحې چې دغه ډله د همدې شخړې د هوارۍ لپاره رامنځته شوې وه؛ د یو شمېر څېړونکو او سازمانونو له لوري وړاندې شوې طرحې چې یو اړخیزې ګڼې به پکې په نظر کې نیول شوې وې؛ د ښکېلو لورو له خوا نه منل کېدې؛ نو ځکه اذربایجان اړ شو چې په دې برخه کې پوځي اقدام وکړي او ترلاسه شوې خاوره چې په نړیواله کچه اذربایجان پورې اړه لري؛ ترلاسه کړي.

**د جګړې په پای ته رسېدو کې د ښکېلو لورو ګټې**

هره جګړه له ځان سره بدمرغي زېږوي، دغه جګړه هم له بېلابېلو زاویو څخه د لورو په تاوان وه؛ نو ارمنستان چې تر ډېره پر ځان بسیا هېواد نه دی؛ غوره ده چې د یوې بې پایلې جګړې چې اصلاً په حقه هم نه وو؛ بېځایه لګښتونه و نه کړي، که چېرې دغه لګښتونه په اقتصادي پروژو ترسره کړي؛ نو په راتلونکي کې به نه یواځې اقتصادي پرمختګ وکړي؛ له بلې خوا به د نورو هېوادونو تر اقتصادي او سیاسي

نفوذه خلاص شي، له اذربايجان سره چې يې يواځې د همدې جګړې پر اساس اړيکې خرابې وې او ان تر دې چې دغې جګړې د ارمنستان او ترکيې اړيکې هم ترينګلې کړې وې؛ نو له دې جګړې وروسته دغه ګاونډي هېوادونه کولای شي د يوه مثلث په رامنځته کېدو يو له بل سره پراخې اقتصادي پروژې ترسره کړي.

له بلې خوا لکه څرنګه اوسمهال روسيه د اوکراين په جګړه کې ښکېله ده او اروپا د روسيې تېلو او ګازو د بديل په لټه کې ده؛ په دې سيمه کې د سولې شتون د دې لامل ګرځي چې له دې لارې د اذربايجان تېل او ګاز له خزر سمندرګي څخه د ترکيې د مديترانې سواحلو ته او له هغه ځايه اروپايي هېوادونو ته ولېږدوي، په دې برخه کې نه يواځې اذربايجان د تېلو او ګازو د صادرولو ګټه ترلاسه کوي؛ بلکې ارمنستان هم کولای شي له ټرانزيټي خدمتونو څخه ګټه ترلاسه کړي.

**له قره باغ سيمې څخه د ټولو ارمنيانو د وتلو لاملونه**

د قره باغ له دويمې جګړې وروسته چې په ۲۰۲۰ کال کې وشوه، اذربايجان وتوانېده چې د قره باغ سيمې او ارمنستان ترمنځ يواځېنۍ لار چې د لاچين کريډور په نامه يادېږي؛ ونيسي، په دې موده کې اذربايجان وکولای شول چې د ارمنستان له لوري د قره باغ ملاتړ ته د پای ټکی کېدي، که څه هم پر اذربايجان د ارمنستان تر څنګ نورو هېوادونو نيوکې وکړې چې دغه هېواد ان تر دې چې بشري مرستو ته هم اجازه نه ورکوي، د لاچين کريډور بندول د دې لامل شول چې د قره باغ ارمني اوسېدونکې له بېلابېلو ستونزو سره مخامخ کړي، د ارمنستان لومړي وزير اذربايجان په قومي پاکونې تورن کړ؛ خو اذربايجان دغه تورونه رد کړل او دا يې د ارمنيانو خپله پرېکړه وګڼله[۲۱].

فکر کېږي چې د دواړو قومونو ترمنځ پخوانۍ دښمنۍ او منفي ذهنيت په ځانګړې توګه د قره باغ په لومړۍ جګړه کې د ارمنيانو له لوري د اذريانو په زوره شړل او وژل او هم په تېرو دېرشو کلونو کې د دواړو هېوادونو له لوري د يو او بل پر وړاندې منفي تبليغات د دې لامل وګرځېدل چې ارمنيان د اذربايجان د غچ اخيستنې له وېرې او هغه بې باوري چې اوس هم د دوی تر منځ موجوده ده؛ دغه

سیمه پرېږدي او ارمنستان ته ولاړ شي، د دغه غچ اخیستنې او بې باورۍ ښېلګې په لاندې ډول دي:

۱- ـ د قره باغ د لومړیو جګړو پر مهال په ارمنستان کې سلګونه زره تنه اذري اقلیتونه چې په ارمنستان کې اوسېدل؛ د ارمنستان له لوري په زوره و ایستل شول او اذربایجان ته یې پنا راوړه[۲۲].

۲- په ۱۹۹۲ز. کې د قره باغ د لومړۍ جګړې پرمهال د ارمنستان له لوري د اذربایجان خوجالې سیمې د ۶۱۳ تنو نانظامیانو قتل عامول چې پکې ۱۰۶ ښځې او ۸۳ ماشومان شامل وو[۲۳].

۳- د قره باغ په لومړۍ جګړه کې یو میلیون تنه اذریان مهاجرت ته اړ شول؛ دغه ټکي په ارمنیانو کې د دې وېره خپره کړه چې اذربایجان به هم دوی په زور سره له دې سیمې وباسي؛ نو ځکه یې له قره باغه د وتلو پرېکړه وکړه.

۴- د کلابندۍ پر مهال د اذربایجان بشرپالې مرستې نه قبلول، کله چې اذربایجان د لاچین کریډور تر خپل ولکې لاندې ونیوه؛ نو د قره باغ سیمې خلکو لاریونونه وکړل چې اذربایجان قره باغ سیمې ته د توکو په ځانګړې توګه د خوراکي توکو د لېږد مخه نیسي؛ نو اذربایجان دې سیمې ته ۴۰ ټنه غنم د بشرپالنې مرستې په توګه واستول، د دغې سیمې ارمنیانو دغه بشرپاله مرستې ځکه رد کړې چې ګویا اذربایجان پکې اغېزمن توکي ګډ کړي دي[۲۴].

**د اذربایجان له بریا وروسته د ایران اندېښنې**

د قره باغ په شخړه کې د ایران دریځ دا و چې دوی د قره باغ سیمه د اذربایجان ګڼې؛ خو دغه سیاست ته یې عملي اړخ نه ورکاوه او د قره باغ له لومړۍ جګړې را په دېخوا یې له ارمنستان سره بېلابېلې مرستې کولې چې دغه جګړه پای ته و نه رسېږي او اذربایجان په یوه اوږدمهاله جګړه کې ښکېل پاتې شي؛ خو د ایران له توقع خلاف په دې سیمه کې اذربایجان پر ارمنستان بریالی او دغه شخړه د اذربایجان په ګټه پای ته ورسېده، دا چې اوسمهال اذربایجان په داسې حال کې چې د ایران دوه سیمه ییزو سیالانو (ترکیه او اسراییل) هر اړخېزې ښې اړیکې لري؛

رامنځته شو؛ نو د ایران لپاره یې ببلابېلې اندېښنې رامنځته کړې چې په لاندې توګه ترې یادونه کوو:

**۱ـ د ارمنستان له لارې اذربایجان د نخچوان سیمې سره د زنګزور کریډور له لوري نښلېدل**

د زنګزور کریډور له لوري د اذربایجان د نخچوان سیمه چې له ترکیې سره ګډه پوله لري، د ارمنستان د سیونیک ښار له لارې د اذربایجان نښلېدل چې د اذربایجان او ارمنستان ترمنځ د ۲۰۲۰ ز. له جګړې وروسته د اوربند د هوکړې لیک په ۹ ماده کې پرې د دواړو هېوادونو هوکړه شوې، د هوکړې لیک دغه ماده دارنګه صراحت لري: (په سیمه کې به ټولې اقتصادي او ټرانزېټي لارې بېرته پرانېستل کېږي، د ارمنستان جمهوریت باید د آذربایجان جمهوریت د لوېدیځو سیمو او د نخچوان خانواکي جمهوریت ترمنځ د ټرانسپورټ اړیکو خوندیتوب تضمین کړي چې په دواړو خواو کې اتباع، وسایط او کارګو په ازادانه توګه تګ راتګ وکړي[۲۵]).

د ایران لپاره یې لاندې اندېښنې رامنځته کړې دي:

- **له اقتصادي اړخه:** که چېرې نخچوان له اذربایجان سره په مستقیما توګه ونښلي؛ نو له دې مخکې چې اذربایجان د ایران له خاورې څخه په ګټه اخیستنه له نخچوان سیمې سره ټرانزیټ ترسره کاوه؛ نو که چېرې دغه لار فعاله شي؛ ایران به د ټرانزیټ له محصوله بې برخې شي، له بلې خوا د دغه کریډور په جوړېدو به د ترکمنستان ګاز ترکیې ته د اذربایجان او ارمنستان له لارې ولېږدول شي؛ نو دلته به هم ایران له اقتصادي اړخه زیان ووینې؛ ځکه ایران به و نه شي کولای خپل ګاز پر نخچوان کورواکه سیمې او ترکیې وپلوري او پر دې سربېره د ایران جیوپولېټیک اهمیت به یې کم شي، له بلې خوا د دې کریډور په مرسته چین او مرکزي اسیا د اذربایجان ـ ترکیې له لارې له اروپا سره نښلوي، له دې اړخه هم ایران جیوپولېټیک زیان وینې.

- **د پان ترکېزم سیاست پیاوړتیا:** ترکیه او اذربایجان هڅه کوي چې په سیمه کې د ټولو ترکانو یووالی رامنځته کړي، په دې وروستیو کې د دواړو هېوادونو مشرانو په دې اړه ښکاره ویناوې کړي دي، د بېلګې په توګه د اذریایجان ولسمشر الهام علي اف د ترکیې له ولسمشر رجب طیب اردغان سره په یوه ګډ خبري کنفرانس کې داسې وویل: (ترکیه او آذربایجان دواړه به د زنګیزور دهلېز د رامنځته کېدو لپاره اړین ګامونه پورته کړي... چې ټوله ترک نژاده نړۍ سره متحده کړي[۲٦]).

د دغه دهلېز په جوړېدو ترکیه توانېږي له اذربایجان او د مرکزي اسیا له نورو ترک توکو سیمو سره ونښلي او په دې به د دغو هېوادونو تر منځ اړیکې پیاوړې شي او د پان ترکېزم سیاست پیاوړتیا ته به ښه فرصت برابر شي؛ نو دا چې ایرانیان فکر کوي چې پان ترکېزم د ایران د جیوپولېټیک پوتانشیل د پای ته رسولو پر وړاندې یوه نقشه ده؛ نو ځکه د دې دهلېز جوړېدل د دغه هېواد اندېښنې رامنځته کړي دي، د یوې بلې خبرې روښانول دلته اړین دي؛ هغه دا چې په دې وروستیو کې د اذربایجان او ترکیې له لوري مطرح کېږي هغه دا چې دوی له پورته مادې داسې تفسیر کوي چې اذربایجان ته د زنګزور کریډور ورکړل شوی چې پر اساس به یې د ارمنستان یوه ټوټه خاوره د اذربایجان له حاکمیته جلا کېږي او د زنګزور کرېډور به جوړېږي[۲۷].

هغه څرګندونې چې په دې اړه د اذربایجان د چارواکو له لوري شوي هم څرګندوي چې دوی په دې برخه کې خپلې وروستۍ هڅې پیل کړي دي، د بېلګې په توګه د اذربایجان ولسمشر الهام علي اف وایي: (د زنګزور کریډور رامنځته کول زموږ تاریخي، ملي او راتلونکې ګټې تأمینوي، که ارمنستان وغواړي یا و نه غواړي موږ به دغه کریډور رامنځته کړو[۲۸]).

له حقوقي نظره که چېرې د پورته مادې متن ته دقت وکړو؛ نو له ورایه ښکاري چې هلته د کرېډور لفظ یادونه نه ده شوې، هلته دوو ټکو ته اشاره شوې: یو دا چې په سیمه کې به ټولې اقتصادي او ترانزیټي لارې پرانېستل کېږي، له دېنه موخه دا ده هغه لارې چې د شوروي اتحاد پرمهال موجودې وې او د دواړو هېوادونو د جګړې له امله تړل شوي؛ بېرته باید پرانېستل شي چې ښه بېلګه یې د اذربایجان او د نخچوان ترمنځ لار ده چې د شوروي اتحاد پرمهال وه؛ خو اوسمهال بنده ده، بل دا چې د ارمنستان جمهوریت ته مکلفیت راجح کوي چې ارمنستان به تضمینوي چې د اذربایجان او د نخچوان ترمنځ ټرانسپورټي اتصال رامنځته شي چې خلک، موټر او کارګو یو بل ته په ازاده توګه تګ راتګ وکړي، دلته د ارمنستان د یوې برخې جلا کول او اذربایجان تر واکمنۍ لاندې د کریډور جوړولو ان تر دې یواځې د کریډور لفظ نه دی ذکر شوی، فکر کېږي چې اذربایجان له هوکړې پورته غوښتنه په داسې حالت کې را پورته کړې چې په سیمه کې یې دریځ پیاوړی شوی دی، که چېرې اذربایجان او ترکیه و توانېږي چې دغه دریځ ته عملي بڼه ورکړي؛ نو په دې صورت کې د ایران جیوپولیټیک په بشپړه توګه بدلېږي؛ ځکه چې دغه هېواد له ارمنستان سره پوله چې پر اساس یې له اروپا سره نښلول شوی؛ له لاسه ورکوي.

**۲ ـ د واحد اذربایجان د مفکورې پیاوړتیا**

اذربایجان د تزاري روسیې او د ایران له جګړو وروسته چې دغه جګړې د ګلستان او ترکمنچای د تړونونو ( ۱۸۱۳ او ۱۸۲۸ز.) وروسته په دوه برخو ووېشل شو؛ یوه برخه تزاري روسیې ته ورکړل شوه او بله برخه یې ایران ته پاتې شوه، هغه برخه چې اوسمهال د ایران تر واکمنۍ لاندې ده؛ هلته اوس هم اذري قومونه استوګنه لري او تر دې دمه یې خپل کتلور او ژبه ساتلې ده؛ نو یو شمېر اذریان چې د دغه هېواد مهم چارواکي (آذربایجان پخواني ولسمشر ابوالفضل ایلچي بیګ،

پخوانی ولسمشر حیدرعلي اف او اوسنی ولسمشر الهام علی اف)  او گوندونه (د رهایي ملي گوند او نوی اذربایجان گوند) پکې شامل دي، په بېلا بېلو ویناو او فعالیتونو کې څرگنده کړې چې د دوی موخه د واحد اذربایجان رامنځته کول دي، دې موضوع ان د قره باغ د لومړۍ جگړې پر مهال کله چې د ارمنستان او اذربایجان تر منځ جگړه شدیده شوه؛ نو ایران یو شمېر رسنۍ سانسور کړې چې په ایران کې د اذریانو د عمومي افکارو مخنیوی وکړي[۲۹].

نو لکه څرنگه چې د قره باغ جگړه د اذربایجان په گټه پای ته ورسېده؛ نو له دې سره په سیمه کې د اذربایجان دریځ پیاوړی کېږي؛ نو دا چې د تاریخ په اوږدو کې د اذربایجان مشرانو او یو شمېر گوندونو د اذربایجان د دواړو برخو د یوځای کېدو لپاره هلې ځلې کړي؛ نو اوسمهال چې اذربایجان په سیمه کې پیاوړی دریځ لري؛ لرې نه ده چې په دې برخه کې به خپلې هلې ځلې څو چنده کړي.

**۳ ـ د اذربایجان سیاسي ثبات او اقتصادي پرمختگ**

ایران د قره باغ په جگړه کې هڅه کوله چې اذربایجان په یوه اوږدمهاله جگړه کې ښکېل پاتې شي چې د دغه هېواد د سیاسي ثبات، امنیت او اقتصادي پرمختگ پر وړاندې یو لوی خنډ موجود وي، کله چې دغه جگړه د اذربایجان په گټه پای ته ورسېده؛ نو د اذربایجان لویه ستونزه پای ته ورسېده؛ نو حتمي ده چې د دې هېواد سیاسي ثبات نور هم مثبت لوري ته درومي او امنیت یې پیاوړی کېږي، له بلې خوا د یادې سیمې په یوځای کېدو سره اذربایجان ډېر اقتصادي پرمختگ کوي؛ ځکه چې د دغې سیمې په مرسته کولای شي له نخچوان سیمې سره ونښلي او له دې لارې خپل تېل او گاز اروپایي هېوادونو ته پرته د ایران له مرستې صادر کړي، له بلې خوا په سیمه کې اقتصادي فرصتونه به هم د اذربایجان د اقتصادي

پرمختګ لامل وګرځي؛ نو ځکه د ایران هغه اندېښنه چې د دغه هېواد د تجزیې لاملېږي او د اذري قومونو لوی اذربایجان رامنځته کوي؛ لا زیاته کړي.

**۴ـ په سیمه کې د لوېدیځو هېوادونو او ناټو سازمان فعالیتونو ته زمینه مساعدېدل**

د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته د جنوبي قفقاز هېوادونه (ګرجستان، ارمنستان او اذربایجان) سره له دې چې پر دې پوهېدل چې په ګاونډ کې یې روسیه لوی ځواک پروت دی او په یو ناڅاپي ډول شونې نه ده چې له نفوذه یې ځان خلاص کړي؛ نو په همدې اساس دوی په تدریجي توګه د روسیې له مدار څخه د وتلو او لوېدیځ ته د نږدې کېدو پر لور حرکت پیل کړ، له بلې خوا لوېدیځو هېوادونو او ناټو سازمان ته د قفقاز سیمې او روسیې تر منځ ګډې پولې، په سیمه کې د انرژۍ شتون، د مرکزي اسیا له سیمې، ایران او ترکیې سره چې د ناټو غړی هېواد شمېرل کېږي؛ ګډه پوله لرل د دې لامل ګرځېدلی چې د لوېدیځو هېوادونو او ناټو سازمان غړو هېوادونو پاملرنه ځانته را واړوي.

لکه څرنګه چې اوسمهال د روسیې – اوکراین جګړه جریان لري، لوېدیځو هېوادونو ته د دې سیمې په ځانګړې توګه اروپا ته د اذربایجان د ګازو صادرات ډېر اهمیت لري؛ له بلې خوا په سیمه کې د لوېدیځو هېوادونو ښکېلتیا د روسیې ګټې محدودوي او په دې برخه کې د فشار الې په توګه له دې سیمې څخه ګټه پورته کوي او هم کولای شي چې له دې سیمې څخه  د ایران پر وړاندې چې له لوېدیځو هېوادونو او ناټو سازمان سره ښې اړیکې نه لري؛ ګټه پورته کړي، دا چې دواړه لوري (لوېدیځ هېوادونه او د جنوبي قفقاز هېوادونه) یو له بل سره د نږدې کېدو لپاره هلې ځلې کوي او له بلې خوا روسیه اوسمهال له اوکراین سره په جګړه کې ښکېله ده او نه غواړي چې په دوو جبهو کې بوخته شي؛ نو ځکه د لوېدیځ هېوادونو ته ښه زمینه مساعده شوې چې په دې سیمه کې خپل نفوذ لا پراخ کړي.

## ۵ـ له اذربایجان سره د ترکیې او اسراییلو د اړیکو پیاوړتیا

ترکیه او اسراییل له اذربایجان سره نږدې اړیکې لري، اذربایجان او ترکیه ګډه پوله او ګډ ملت لري د همدې مشترکاتو پر اساس دغه هېوادونه یو بل ته د یو ملت دوه دولتونو خطاب کوي، د قره باغ په وروستیو تحولاتو کې ترکیې د اذربایجان خورا نظامي ملاتړ وکړ، ان تر دې چې دغه هېواد ته یې د (TB – 2 Turkish Bayraktar) په نامه بې پیلوټه الوتکې ورکړې او د قره باغ په جګړه کې یې مهم نقش ترسره کړ[۳۰].

پر دې سربېره په دې جګړې کې اذربایجان ته د ترکیې له لوري F16جېټ جنګي الوتکې ورکړل شوې چې د اذربایجان په بریا کې یې مهم نقش ترسره کړ، په دې اړه د ارمنستان یوه اوسېدونکي چې مارګریتاکرمیان نومېږي او د قره باغ په لومړۍ جګړې کې چې په نویمه لسیزه کې ترسره شوې وه؛ داسې ویلي دي: (زه حیرانه شوم کله چې ما د قره باغ د جنوب ختیځې برخې په فضا کې د اذربایجان ۳۰ بې پیلوټه الوتکې ولیدې چې اسمان یې تیاره کړی و[۳۱]).

له بلې خوا اسراییل اذربایجان ته د وسلو صادروونکی او د انرژۍ واردوونکی هېواد شمېرل کېږي، په تېرو ۵ کلونو کې اذربایجان ۷۰ سلنه وسلې له اسراییلو څخه واردې کړي چې پکې بې پیلوټه الوتکې، Barak – 8 مزایلونه او مهمات شامل وو[۳۲].

په همدې اساس د دواړو هېوادونو اړیکې ډېرې نږدې شوې او ان تر دې چې اذربایجان چې یو اسلامي هېواد دی؛ په اسراییلو کې سفارت پرانېست، د قره باغ د شخړې په پای ته رسېدو چې د اذربایجان په ګټه د اسراییلو د وسلو په مرسته او د ترکیې په مستقیم ملاتړ پای ته ورسېده؛ له اذربایجان سره د دواړو هېوادونو اړیکې لا پیاوړې کړي، دا چې په سیمه کې ایران له ترکیې او اسراییلو سره سیالۍ لري او نه غواړي چې د دغه هېواد تر څنګ دې اسراییل او ترکیه شتون ولري؛ نو ځکه د ایران د اندېښنې لامل ګرځېدلی دی.

### ٦ـ ایراني ټولنې ته د اذربایجان سیکولر فرهنګ لېږد

په ایران کې اسلامپاله شیعه ایډیالوژي واکمنه ده، په داسې حال کې چې اذربایجان کې د دې برعکس سیکولر ـ ملتپاله ایډیالوژي واکمني کوي، که څه هم په اذربایجان کې ۸۰ سلنه وګړي شیعه دي؛ نو ځکه د ایران لپاره مهم هېواد شمېرل کېږي؛ خو د اذربایجان مطلق اکثریت وګړي مذهب ته ژمن نه دي، سره له دې چې د دغه هېواد د اساسي قانون د ۱۸ مادې د احکامو له مخې دین له حکومته جلا دی(۳۳).

دا چې اذربایجان وتوانېد چې د قره باغ جګړه په خپله ګټه پای ته ورسوي او د سیمې د هېوادونو د خلکو اندېښنې چې اذربایجان ته د سیاحت لپاره ورځي؛ پای ته ورسولې؛ نو دا به د دې لامل شي چې اذربایجان ته به د ایران د سیاحینو کچه لوړه کړي او دغه هېواد ته به د ایرانیانو لېوالتیا زیاته او له فرهنګه به یې اغېزمن شي.

**پایله**

دا چې د قره باغ شخړې د دوام او پای ته رسېدو په برخه کې د لورو تر څنګ د سیمې د هېوادونو په ځانګړې توګه د روسیې، ترکیې او ایران، لوېدیځو او اروپایی هېوادونو بېلابېلې موخې او پالیسۍ لرلې او په صادقانه توګه یې د حل لپاره اقدام نه کاوه؛ نو اذربایجان هڅه پیل کړه چې په هېواد کې سیاسي بې ثباتۍ له منځه یوسي چې اقتصادي پانګونې ته فرصت برابر شي چې د سیمې او نړۍ د نورو هېوادونو پاملرنه را جلب او په مرسته یې پوځ پیاوړی او له نوې ټکنالوژۍ سره سم وروزه، پر دې سربېره لکه څرنګه چې روسیه د ارمنستان تاریخي ملاتړی هېواد ګڼل کېده، د قره باغ په وروستۍ جګړه کې یې د دې هېواد ملاتړ و نه کړ؛ ځکه چې روسیه اوسمهال د اوکراین په جګړه کې ښکېله ده او نه غواړي چې د اذربایجان په ګډون له ترکیې سره په جنوبي قفقاز کې ښکېله شي؛ نو ځکه ارمنستان مات شو او

دغه جګړه اذربایجان وګټله، د جنوبي قفقاز په سیمه کې ایران له ترکیې سره سیالۍ لري؛ نو ځکه یې د ارمنستان نامستقیم ملاتړ کاوه چې په سیمه کې د اذربایجان او ترکیې د نفوذ مخه ونیسي، دا چې دغه جګړه د ایران د توقع خلاف اذربایجان وګټله، د ایران لپاره یې ګڼ شمېر اندېښنې رامنځته کړې؛ ځکه چې په سیمه کې د ترکیې نفوذ پراختیا ته فرصت برابر شو، په جګړه کې له اذربایجان سره د اسراییلو مرستې د دې لامل وګرځېدې چې له اذربایجان سره د دغه هېواد اړیکې پراخې شوې، د ترکیې په مرسته چې د ناټو سازمان غړی هېواد دی، د ایران په ګاونډ کې د ناټو سازمان فعالیتونو ته فرصت برابر شو او په اقتصادي برخه کې د زنګزور کرېډور رامنځته کېدل پر مرکزي اسیا او قفقاز سیمې سربېره چین ته دا فرصت برابر کړ چې د ایران له خاورې له ګټې اخیستنې پرته له ترکیې او اروپايي هېوادنو سره ونښلي.

**مأخذونه**

1- Ashur, Shir Gaviria, Inés Sheng, Jiayan Yapar, Hakan. Nagorno-Karabakh Conflict: A Geopolitical Analysis. Universidad Carlos III de Madrid, thises for Master degree, May, 2021, page 9, available at (PDF) Nagorno-Karabakh Conflict: A Geopolitical Analysis | Hakan Yapar - Academia.edu.

2- Svante Lundgren, The conversation, Nagorno-Karabakh: the world should have seen this crisis coming – and it’s not over yet, Published: September 29, 2023 •Updated: October 2, 2023, access date: 10/4/2023.

3- Ibid.

4- Astrid Prange, DW, What’s behind the conflict over Nagorno-Karabakh? Publish date: 09/29/2023, access date: 10/4/2023, available at: What's behind the conflict over Nagorno-Karabakh? – DW – 09/29/2023

**5-**The New Voice of Ukraine, Armenia officially delivers humanitarian aid to Ukraine, published date: September 8, 2023, access date: 10/5/2023, available at: Armenia officially delivers humanitarian aid to Ukraine (yahoo.com)

6- Reuters, Armenia to exercise with US troops next week in sign of frustration with Russia, published date: September 6, 2023, access date: 10/5/2023 available at: Armenia to exercise with US troops next week in sign of frustration with Russia | Reuters
7- DW, Armenia PM Signal's foreign policy shift away from Russia, published date: 09/24/2023, access date: 10/5/2023, available at: Armenia PM signals foreign policy shift away from Russia – DW – 09/24/2023 .
8- SCTO official web page, online link : About SCO | SCO (sectsco.org).
9- Ashur, Shir Gaviria, Inés Sheng, Jiayan Yapar, Hakan. Nagorno-Karabakh Conflict: A Geopolitical Analysis. Universidad Carlos III de Madrid. Op .cit .
11- Aljazira, Armenia to join International Criminal Court; 'wrong' decision, says Russia, published date: 3 Oct 2023, access date: 10/5/2023, available at Armenia to join International Criminal Court; 'wrong' decision, says Russia | ICC News | Al Jazeera
12- The guardian, ICC Judges issue arrest warrant for Vladimir Putin over alleged war crimes, published date 17/March/2023, access date 10/5/2023, available at: ICC judges issue arrest warrant for Vladimir Putin over alleged war crimes | Vladimir Putin | The Guardian .
13- Broers,Laurence, Russia concedes Karabakh for stake in new regional order, Chatam house, published date: 29/Sep/2023, access date: 10/9/2023, available at: Russia concedes Karabakh for stake in new regional order | Chatham House – International Affairs Think Tank .
14- Ibid.
15- Joshua Kucera , Russia and Iran agree on new rail corridor via Azerbaijan, eurasianet, published date: May 26, 2023, access date: 10/10/2023, available at: Russia and Iran agree on new rail corridor via Azerbaijan | Eurasianet

16- Global Firepower, Comparison of Armenia and Azerbaijan Military Strengths (2023), available at: Comparison of Armenia and Azerbaijan Military Strengths (2023) (globalfirepower.com).
17- Stronell, Alexander, Learning the lessons of Nagorno-Karabakh the Russian way, IISS, published date: 10th March 202, access date: 10/18/2023, available at: Learning the lessons of Nagorno-Karabakh the Russian way (iiss.org).
18- Synozvita, Ron, Technology, Tactics, And Turkish Advice Lead Azerbaijan to Victory in Nagorno-Karabakh, Radio Free Europe, published date: November 13, 2020, access date: 10/21/2023, available at: Technology, Tactics, And Turkish Advice Lead Azerbaijan to Victory in Nagorno-Karabakh (rferl.org)
19- Stronell, Alexander, Learning the lessons of Nagorno-Karabakh the Russian way. Op. cit.
20- Synozvita, Ron, Technology, Tactics, And Turkish Advice Lead Azerbaijan to Victory in Nagorno-Karabakh, Radio Free Europe. Op. cit.
۲۱- بی بی سی، قره باغ کوهستانی؛ چرا ۱۲۰هزار ارمنی از منطقه گریختند؟ د نشر نېټه ۴/اکتبر/۲۰۲۳، د لاس رسي نېټه، ۲۰۲۳/۱۷/۱۰، لاس رسی: قره‌باغ کوهستانی؛ چرا ۱۲۰ هزار ارمنی از منطقه گریختند؟ BBC News - فارسی
۲۲- بی بی سی نیوز، فارسی، خونریزی صف های نان و بې اعتمادی؛ تاریخ طولانی درگیری بر سر قره باغ کوهستانی، تاریخ نشر: ۸/سپتمبر/۲۰۲۳، تاریخ دسترسی ۲۰۲۳/۹/۱۰، دسترسی انلین: خونریزی، صف‌های نان و بی‌اعتمادی؛ تاریخ بلند درگیری بر سر قره‌باغ کوهستانی BBC News - فارسی .
23- Euro news, Turkey calls Armenia's 'massacre' of Azerbaijani civilians 'black spot, published Date 26/02/2023, access date: 10/9/2023, available ate: Turkey Calls Armenia's "Massacre" of Azerbaijani Civilians 'Black Spot' | Euronews
۲۴- همان.
25-The Prime Minister of Republic of Armenia, Press Release, Statement by the Prime Minister of the Republic of Armenia, the President of the Republic of Azerbaijan and the President of

the Russian Federation, published date: 10.11.2020, access date: 10.14.2023, available ate: Statement by the Prime Minister of the Republic of Armenia, the President of the Republic of Azerbaijan and the President of the Russian Federation - Press releases - Updates - The Prime Minister of the Republic of Armenia

26- Michael, Rubin, the National Interest, Why Turkey and Azerbaijan Won’t Get a Corridor Across Armenia, published date: November 9, 2021, access date: 10/14/2023, available at: Why Turkey and Azerbaijan Won’t Get a Corridor Across Armenia | The National Interest

27- Ibid.

28-Ibid.

۲۹- الیاس واحدی، براوردستراتیژیک اذربایجان، تهران، موسسه فرهنگی مطالعات و تحقیقات بین المللی ابرار معاصر تهران، جلد اول، ۲۴۱ص ،۱۳۸۲هـ ل کال.

30-Mathieu Droin, Tina Dolabaia, Abigail Edwards, CSIS, A Renewed Nagorno – Karabakh Conflict: Reading Between the Front Lines, Published September 22, 2023, access date: 10/16/2023 available at: A Renewed Nagorno-Karabakh Conflict: Reading Between the Front Lines (csis.org)

31- Synozvita, Ron, Technology, Tactics, and Turkish Advice Lead Azerbaijan to Victory in Nagorno-Karabakh, Radio Free Europe. Op. cit.

32- Mathieu Droin, Tina Dolabaia, Abigail Edwards, CSIS, A Renewed Nagorno – Karabakh Conflict: Reading Between the Front Lines. Op. cit.

33- Constitution of Azerbaijan, Article 18, date of edition 1995, date of access 2016/5/3, http://azerbaijan.az/portal/General/Constitution/doc/constitution_e.pdf.

څېړندوی عاشق الله اخلاصيار

# په منځني ختيځ کې د ايران او سعودي عربستان د کړکېچنو اړيکو ارزونه

# The Evaluation of Strained Relations between Iran and Saudi Arabia in the Middle East

Asst. Prof. Ashiqullah Ikhlasyar

**Abstract**

Iran and Saudi Arabia are two of the most powerful countries in the Middle East, often competing with each other. Their bilateral relations have experienced significant fluctuations. These two nations also engage in a series of rivalries at the regional level, contributing to numerous problems in the Middle East. Since the success of the Iranian Revolution in 1979, a competition for power, security, and regional dominance has arisen, leading to proxy wars in countries such as Bahrain, Iraq, Lebanon, Syria, and Yemen.

The competition between Saudi Arabia and Iran centers around several critical issues, including their conflicting ideologies of Sunni and Shia Islam, the issue of pan-Arabism, Saudi Arabia's alignment with the West, the divergent energy policies of both countries and their ambitions for regional influence. Iran seeks to dominate the region and counteract U.S. influence in the Middle East, supporting Shia groups and emphasizing sectarianism as a focal point of its regional policies. These factors are the primary causes of the strained relations between the two nations.

**لنډيز**

ایران او سعودي عربستان د منځني ختیځ دوه ستر ځواکمن هېوادونه دي چې په خپلو کې سیالۍ کوي او دوه اړخیزې اړیکې یې ډېرې لوړې ژورې لري، یاد هېوادونه د سیمې په کچه یو لړ رقابتونه هم لري چې له امله یې منځنی ختیځ له یو شمیر ستونزو سره مخامخ کړی، کله چې په ایران کې د ۱۹۷۹ز. اسلامي انقلاب بریالی شو؛ له هغې وروسته د واک، امنیت او سیمه ییزې واکمنۍ لپاره سیالۍ رامنځته شوې چې دې چارو په بحرین، عراق، لبنان، سوریې او یمن کې نیابتي جګړو ته لاره هواره کړه.

د سعودي عربستان او ایران سیالۍ په ځینو مهمو مواردو راڅرخي لکه د سني او شیعه په اړه د دوی متضاده ایډیالوژي، د پان عربیزم مسئله، لوېدیځ ته د سعودي ډېر تمایل، د انرژۍ په اړه د سعودي او ایران متضاد سیاستونه او په ټوله سیمه د نفوذ لرلو هیلې هغه څه دي چې دغه دوه هېوادونه یې سیال کړي دي، ایران سیمه ییزه واکمني غواړي، په منځني ختیځ کې د امریکا د نفوذ مخه نیسي او په منځني ختیځ کې د شیعه ډلو ملاتړ کوي او له همدې امله فرقه پالنه د دوی د سیمه ییزو پالیسیو لپاره یو مهم تمرکز دی چې دا او ورته نور موضوعات د دوی د کړکېچنو اړیکو لاملونه بلل کېدای شي.

**سریزه**

د ایران اسلامي انقلاب یا له ۱۹۷۹ز. څخه مخکې دوره د ایران او سعودي عربستان په اړیکو کې یوه ښه دوره ګڼل کېږي؛ ځکه په دې دوره کې دغه هېوادونه یو له بل سره همکار وو او اړیکې یې هم دوستانه وې، په منځني ختیځ کې یو وخت د سعودي عربستان او ایران اړیکې دومره ښې وې چې له امله یې د ایران د وخت پاچا رضاشاه اتکل کړی و چې د سیمه ییزو ښکېلتیاو لپاره د سعودي له شرایطو سره په بشپړه توګه موافق دي؛ خو د لوېدیځ ګټو په ایران کې کورنۍ ناندرۍ رامنځته کړې چې له امله یې د

خمیني ډله د رضاشاه له اړیکو پاللو او ساتلو سره موافقه نه و؛ ځکه د خمیني ډلې نه غوښتل چې له غرب سره دې په لوړه کچه اړیکې وپالي.

ایران له سعودي عربستان سره د هغو شرایطو لاندې چې د لوېدیځ ګټو ته یې وده ورکوله؛ د رضاشاه په وړاندې خنډونه رامنځته کړل او دا خنډونه په ایران کې د لوېدیځ پلوه سیاستونو پر وړاندې د پاڅون لامل شول چې وروسته په دې هېواد کې په یوه تاریخي انقلاب بدل شول.

په هرصورت، د دواړو هېوادونو تر منځ په اړیکو کې دا بې ثباتي دومره ژر نه وه، په لومړي سر کې سعودي عربستان د ایران له انقلاب سره ډېر هوښیار چلند او د هوساینې احساس وکړ؛ ځکه چې اسلام نه یواځې په ایراني ټولنه؛ بلکې د ایران د اسلامي جمهوریت په حکومت کې هم د اصلي جریان په لور روان شو، د دې ټولو مواردو په نظر کې نیولو سره سعودي عربستان په سملاسې توګه د ایران نوی تأسیس شوی اسلامي حکومت په رسمیت وپېژاند او د سعودي عربستان پاچا ملک خالد د ایران د انقلاب بنسټګر ایت الله خمیني ته د یو لیک په لېږلو د نوي جمهوریت هرکلی وکړ او د همکارۍ د دوام لپاره یې لېوالتیا څرګنده کړه، وروسته له هغې د ایران او سعودي عربستان شرایط ډېر ژر بدل شول، د سعودي سلطنت پر وړاندې د ایران حاکم ایت الله خمیني څرګندونې وکړې او دغو څرګندونو د دواړو هېوادونو تر منځ بې باوري رامنځته کړه، د بېلګې په توګه خمیني د سعودي پاچاهي نااسلامي وګڼله او په ټول منځني ختیځ کې چې سعودي عربستان، بحرین، متحده عربي امارات، کوېټ، قطر، عراق، سوریه او ځینې نور کوچني هېوادونه پکې شامل وو؛ له نظامونو سره یې مخالفت وکړ، پر وړاندې یې د دغو هېوادونو ځینو مشرانو د ایران ارمانونه د خپلو هېوادونو لپاره یو ګواښ وباله او فکر یې کاوه چې ایران غواړي په سیمه ییزه کچه انقلاب رامنځته کړي، ایت الله خمیني یو ځارګر کمپاین هم پیل کړ چې موخه یې د منځني ختیځ په پاتې برخو کې د کوچنیو ډلو تر منځ د اخلاقي، سیاسي او مذهبي یووالي ټینګول وو.

د منځني ختيځ په ټولو هېوادونو کې، ايران د خپل انقلابي کمپاين د اصلي ټکي په توګه سعودي عربستان غوره کړ او د سعودي په دننه کې يې له هغو ډلو سره مرسته پيل کړه چې د سلطنت د حاکمانو په وړاندې يې کار کولای شو، د دې تر څنګ خميني نورې عامې څرګندونې هم وکړې چې د سعودي د شاهي کورنۍ مشروعيت يې زيانمنوه، په دې وختونو کې د تهران او رياض تر منځ د کړکېچنو اړيکو خلا نوره هم زياته شوه او د سعودي عربستان چارواکي د هغه څه له امله سخت په غوسه شول چې دوی يې د "پرچم" په نوم ياد کړي وو، همدا او نور سياستونه وو چې د خميني په دوره کې يې د ايران او سعودي عربستان اړيکې زيانمنې کړې او د يادو هېوادونو اړيکې يې له کړکېچ سره مخامخ کړې.

په دې څېړنه کې هڅه شوې چې د ايران او سعودي عربستان کړکېچنې اړيکې او لاملونه يې وڅېړو او دا به څرګنده شي چې ياد هېوادونه په کومو برخو کې سيالۍ کوي او د دوی د کړکېچنو اړيکو لاملونه څه دي.

**د څېړنې اهميت او مبرميت**

سعودي عربستان او ايران د منځني ختيځ دوه ستر ځواکمن هېوادونه دي چې د واک، امنيت او قدرت لپاره په خپلو کې سيالۍ او رقابتونه کوي او له دې سره غواړي چې په سيمه ييزو او نړيوالو سياستونو کې له يوه او بل مخکې شي.

دغه دواړه اسلامي هېوادونه دا هم غواړي چې په نړۍ کې اسلامي مشري ترلاسه کړي چې د همدې او نورو موخو د لاسته راوړو لپاره سعودي عربستان د لوېديځ او ايران بيا د ختيځ لمن نېولې، ايران چې اوس په منځني ختيځ کې يو ځواکمن هېواد دی؛ دا نه غواړي چې امريکا دې په منځني ختيځ کې قدرت ولري او د سعودي له ملاتړه دې برخمنه وي؛ خو سعودي بيا د ايران د سياستونو مخالف دی چې جنګي ډلې پالي او نيابتي جګړې يې رامنځته کړي دي، له همدې امله اړتيا پيدا شوه چې دغه موضوع وڅېړل شي چې معلومه شي پر سيمه او په ځانګړې توګه پر افغانستان کومې اغېزې لري.

په ورته مهال اټکل کېږي چې په منځني ختيځ کې د امريکا حضور د سعودي د ګټو لپاره دی چې په دې سره سعودي واکمنان غواړي ځان د امريکا په ملاتړ د ايران له نيابتي جګړو وساتي او هم په سيمه ييزو او نړيوالو سياستونو کې د سعودي نقش ښکاره او پر ځای وي، بل خوا د يادو هېوادونو رقابتونو همدې دوه سيالو زبر ځواکونو روس او امريکا ته د دې زمينه برابره کړې چې په دې سيمه کې خپلې ګټې خوندي کړي او د هغوی له دښمنيو څخه نورې ګټې هم په لاس راوړي، دا څېړنه د همدې لپاره ترسره کېږي چې افغانستان ته څه په کار دي؟ او موږ څه ډول کولای شو چې له دخالته يې ځان وساتو او اغېزو ته يې متوجه و اوسو.

**د څېړنې موخې**

د دغې څېړنې موخه د ايران او سعودي عربستان د اړيکو څېړل دي چې ولې کړکېچنې او لاملونه يې څه دي؟

**د څېړنې پوښتنه**

د ايران او سعودي عربستان د نيابتي جګړو او کړکېچنو اړيکو لاملونه او پايله څه ده؟

**د څېړنې مېتود**

په ياده څېړنه کې له تشريحي- تحليلي مېتود څخه ګټه اخيستل شوې ده.

**۱- د ايران او سعودي عربستان د کړکېچنو اړيکو لاملونه**

**الف- په سعودي عربستان کې د ۱۹۸۷ز. د حج خونړۍ پېښه**

د ۱۹۸۷ز. د حج د مراسمو پر مهال څو شيعه ډلو د سعودي سلطنت پر ضد مظاهرې وکړې؛ خو دغه لاريون د سعودي عربستان د حکومت له خوا له سخت غبرګون سره مخامخ شو چې په پايله کې يې تر څلورو سو زيات کسان ووژل شول چې اکثريت يې ايرانيان وو، د ايران په ملاتړ د دې ګډوډۍ په غچ کې د سعودي حکومت ايراني حاجيان له کلنيو حج مراسمو څخه منع کړل او ايرانيانو په تهران کې د سعودي عربستان سفارت ته اور ورته کړ چې په پايله کې

يې يو سعودي چارواکی ووژل شو او تر ۱۹۹۱ز. پورې د سعودي عربستان اړيکي له ايران سره پرې شوې.

خميني په ۱۹۸۸ز. په يوه وينا کې سعودي عربستان په شيعه ضد سياستونو تورن کړ او دوی يې د سني اجنټ په توګه ياد کړل او ويلي يې وو چې سعوديان غواړي شيعه ګان له منځه يوسي[1].

**ب- د ايران - عراق په جګړه کې د سعودي سلطنت نقش**

کله چې د ايران- عراق جګړه د (۱۹۸۰- ۱۹۸۸) ز. په لړ کې رامنځته شوه؛ د عراق له ولسمشر صدام حسين سره د سعودي عربستان مرستو هم د تهران او رياض اړيکې خرابې کړې، سعودي عربستان د عراق- ايران جګړې پر مهال له عراق سره ډيپلوماټيکي، اقتصادي او پوځي ملاتړ وکړ او د صدام حسين د پوځ د پياوړتيا لپاره يې ځلوېښت ميلیارده ډالره پور هم ورکړ او تر څنګ يې د امريکامتحده ايالاتو په پرله پسې ډول پر ايران اقتصادي او پوځي بنديزونه ولګول، سعوديانو له ۱۹۸۵ نه تر ۱۹۸٦ز. يوه بل ډول لاره هم خپله کړه چې په نړيوال بازار کې يې د تېلو عرضه زياته کړه چې په دې سره د تېلو بيه راټيټه شوه [2].

د سعودي عربستان دغو پاروونکو اقداماتو د ايران اقتصاد ته سخت زيان واړوه؛ ځکه د تېلو د بيو راټيټېدو له عراق سره د ايران د جګړې په نازکو کلونو کې د ايران عايدات کم کړل چې دا اقتصادي تحرکات د ايران او سعودي عربستان تر منځ په اړيکو کې د جدي درز لامل شول [3].

**ج- د خليج د همکارۍ شورا GCC له ايران سره مقابله**

په ۱۹۸۱ز. د ايران- عراق جګړې پر مهال سعودي عربستان د خليج له نورو شپږو هېوادونو عمان، قطر، کويټ، بحرين او متحده عربي اماراتو سره په ګډه د خليج د همکارۍ شورا Gulf Cooperation Council (GCC) د ايران ګواښ ته د امنيتي ځواب په توګه جوړه کړه چې د ايران - عراق جګړې د منفي پايلو د مخنيوي لپاره هم يوه کليدي موخه وه، د GCC په جوړولو

سره پر ایران باندې د سعودي فشار زيات شو او د GCC منشور په خپله اډانه کې د ایران پر وړاندې هر ډول دښمنپاله اراده رد کړه او په روښانه توگه يې يادونه وکړه چې د GCC جوړښت په اصل کې په ټولو برخو کې د غړو هېوادونو تر منځ همغږي، ادغام او يو بل سره نښلول دي، په ځانگړې توگه د اقتصادي بډاينې او د ټولنې د دفاع لپاره؛ خو د GCC سياسي ماهيت هغه وخت څرگند شو؛ کله چې د GCC عمومي منشي عبدالله بشارا په ۱۹۸۲ز. کې وويل چې د تسلط او واک لپاره د ايران هيله د سيمې د ثبات لپاره گواښ دی، له هغه وخت راهيسې د خليج هېوادونه د GCC له لارې د ايران د سياسي او ستراتيژيکو هيلو د مخنيوي لپاره په منځني ختيځ کې د بې ثباتۍ په برخه کې فعال نقش لوبوي.

**د- د لوېديځ پر لور د سعوديانو تمايل**

د ايران او سعودي عربستان تر منځ د اړيکو د ترينگلتيا يو لامل د رياض او واشنگټن نږدې اړيکې دي، سعودي عربستان په سيمه کې د ايران د مخ پر زياتېدونکي نفوذ او حضور په اړه ډېر محتاط و او دا يې درک کړې وه چې ايران کولای شي په خپلو پولو کې د سعودي عربستان لپاره ستونزې جوړې کړي، له همدې امله امريکا له تېرو شپاړسو کلونو راهيسې د سعودي عربستان تر ټولو قوي متحد دی او په منځني ختيځ کې يې نږدې اقتصادي او پوځي همکارۍ ساتلې دي، د دواړو هېوادونو تر منځ پوځي اړيکې دومره قوي دي چې ان د سعودي عربستان په وړانديز په خليج کې زرگونه امريکايي پوځيان ځای پر ځای دي، له بلې خوا ايران د منځني ختيځ په چارو کې د امريکا له هر ډول لاسوهنې سره سخت مخالف دی، په تېره بيا د ايران او سعودي په مسئلو کې؛ ځکه امريکا د نړۍ په مسلمانو هېوادونو کې په لاسوهنې تورنوي، د ايرانيانو په خبره د ايران لپاره امريکا هغه ځواک دی چې تل يې د مسلمانانو لپاره د بې ثباته کولو سياستونه لوبولي او د مسلمانو ملتونو تر منځ د نفاق اچولو مسؤل دی.

**هـ- د فلسطين په مسئله کې د سعودي نه همکاري**

ایران تل پر سعودي عرب نيوکې کوي چې د پان عربي مسئلې لکه د فلسطين په اړه يې سترګې پټې کړي، ايراني چارواکي په دې نظر دي چې د سعودي عربستان په مشرۍ عربي هېوادونه د فلسطين د مسئلې په حل کې چې له ډېرې مودې راهيسې د ايران د حکومت لپاره يوه جدي پاليسي وه؛ د حل لپاره لازم کار نه کوي، له بلې خوا سعودي عربستان د ايران حکومت او د ايران استخبارات په فلسطين او لبنان کې د جهادي ډلو لکه د حزب الله په ملاتړ تورنوي چې د ټولې سيمې سولې او امنيت ته يې ګواښ پېښ کړی؛ خو د ايرانيانو په خبره دوی کله نا کله دا کار د خپلو ملي ګټو د پوره کولو لپاره کوي [۴].

**و- په سياسي ايډيالوژۍ کې د ايران او سعودي اختلاف**

سره له دې چې اسلام د دواړو هېوادونو د کلتور او ديني چارو د بنسټيز اړخ په توګه مطرح دی؛ خو بيا هم د تهران او رياض د ايډيالوژۍ تر منځ ځينې لوی اختلافات شته، دغه اسلامي ايډيالوژي اوس پر سياسي ايډيالوژيو بدلې شوي، په حکومتولۍ او دولتي جوړښت يې اغېز کړی او د دوو بېلو اسلامي قدرتونو تر منځ يې ايډيالوژيکي اختلافات زيات کړي دي، ايران په دې اصولو ولاړ دی چې يوه اسلامي فقيه بايد د ټولې اسلامي نړۍ سرپرستي ولري، لکه د ايران حکومت چې په مشروع ډول د ايران د انقلاب د بنسټ ايښودونکي ايت الله خميني تر واک لاندې اداره کېده، په هر صورت دا د ايران خپل نظر دی؛ خو سعودي عربستان خورا محافظه کار او مذهبي سلطنت دی چې د ايران برعکس په ملي سيستم کې انقلابي بدلونونو ته غاړه نه ږدي او د آل سعود کورنۍ د سعودي حکومت يواځېني مشروع مالکان دي چې د ايرانيانو لپاره په بشپړ ډول د منلو وړ نه دي؛ ځکه چې دوی يې ناقانوني او نااسلامي بولي [۵].

**ی- د انرژۍ د پاليسيو نقش**

سعودي عربستان او ايران دوه هغه مهم هېوادونه دي چې په نړۍ کې د تيلو ستر توليد لري، دواړه هېوادونه د نفتو د صادرونکو هېوادونو د سازمان Organization of

Petroleum Exporting Countries OPEC بنسټ اېښودونکي غړي دي چې د نفتو ستري زېرمې او د تېلو د توليد تأسيسات لري؛ خو د ايران او سعودي عربستان د انرژۍ سياستونه تل متضاد وي، د سعودي عربستان د تېلو زېرمو د تېلو توليد په ۲۰۱٦ ز. کې د يوه راپور له مخې نږدې ۱۰،۴٦۰،۷۱۰ (بی بی ايل) په ورځ کې و چې د ايران د تېلو توليد يواځې ۱٦۴۸،۰۰۰(بی بی ايل) په ورځ کې و، په دې توګه سعودي عربستان چې د سترو زېرمو خاوند هېواد دی او تل يې هڅه کړې چې د تېلو نړيوال بازار ته اوږدمهاله نظر ورکړي او د نرخونو منځنۍ کچې ته هڅونه وکړي، برعکس ايران، سعودي عربستان ته د نسبتاً کوچنيو زېرمو په درلودو سره تل په لنډه موده کې په لوړو بيو تمرکز کوي چې د خپل ۸۰ ميليونه نفوسو د اړتياو د پوره کولو لپاره د تېلو له زياتو عايداتو سره مرسته وکړي [٦].

## ۲- په منځني ختيځ کې د ايران او سعودي عربستان د کړکېچنو اړيکو له لاملونو نيابتي جګړې

پر عراق د امريکا له يريد وروسته سعودي عربستان او ايران په فعاله توګه د اسلامي نړۍ او منځني ختيځ د سيمې د کابو کولو لپاره بوخت دي او دواړه قدرتونه په ځانګړې توګه د عراق، يمن او سوريې په سياستونو کې لاسوهنه کوي، د مستقيمې مقابلې پر ځای دواړو هېوادونو د منځني ختيځ په يو شمېر هېوادونو کې د بېلا بېلو ډلو د ملاتړ له لارې د عربي پسرلي د پېښو له لارې د يو بل د کمزوري کولو پر فرصت ډېره تکيه کوي چې دا کړنې د هر يوه په اړه د هر اړخيزې څېړنې له لارې روښانه کېدای شي.

له عربي پسرلي مخکې د ايران او سعودي عربستان سيمه ييزې سيالۍ په عمده توګه په عراق، لبنان، فلسطين او بحرين کې ښکېلې وې، عرب پسرلي دغه سيالۍ لا پسې پياوړې کړې او د منځني ختيځ حالات يې پېچلي کړل، له عراق او بحرين وروسته اوس سعودي عربستان او ايران په سوريه او يمن کې هم د قدرت او واک د مبارزې لپاره ښکېل دي.

**الف- په عراق کې د ایران او سعودي نیابتي جګړه**

ایران یو له هغو مهمو هېوادونو څخه و چې پر عراق د امریکا له یرغل او بیا تر ټولو مهم د صدام حسین د یوې لسیزې له اوږدې مودې سقوط څخه ډېره ګټه پورته کړه، د ایران له انقلاب وروسته او په ځانګړې توګه د صدام حسین په دوره کې د ایران لپاره دا تقریباً ناممکنه وه چې خپل انقلاب عراقي ټولنې ته ور دننه کړي، سره له دې چې د عراق په حکومت کې د شیعه ګانو نفوس په سلو کې پنځه ویشت فیصده و، د امریکا متحده ایالاتو یرغل د عراق دولت چې مشري یې صدام حسین کوله؛ له منځه یووړ او په ګاونډیو هېوادونو کې یې د ایران نقش ته وده ورکړه [۷].

د صدام حسین د حکومت نسکورېدو ایرانیانو ته دا فرصت برابر کړ چې په عراق کې په شیعه واکمنۍ کې خپلې ګټې نورې هم زیاتې کړي چې دوی د صدام حسین په دوره کې نه شول کولای، عراق له ستراتیژیک پلوه د یوه مهم هېواد په توګه هېڅکله د ریاض د پالیسۍ جوړوونکو له خوا له پامه نه دی غورځول شوی او په هغه هېواد کې د شیعه اکثریت په وده کې د ایران نفوذ ته متمرکز و.

ایران په منځني ختیځ کې د خپلو ملي ګټو او ستراتیژیکو موخو لپاره د صدام حسین له نسکورېدو وروسته په عراق کې دننه د شیعه یاغي ډلو ملاتړ پیل کړ چې په دې کړنه کې د متحده ایالاتو له خوا د ممکنه رژیم د نصبولو په وړاندې هڅې هم شاملې وې، د عراق قضیې د شیعه نفوس اکثریت ایران ته د بغداد د نفوذ لپاره ډېر فرصتونه برابر کړل، له بلې خوا سعودي عربستان په عراق کې داسې کومې هڅې و نه کړې لکه په کوم ډول چې ایران ورته راودانګل، اټکل کېږي چې سعودي به په دې وختونو کې د عراق په چارو کې ځکه لاسوهنه نه کوله چې نړدې متحده امریکا خپه نه شي او د دوی اوږدې اړیکې زیانمنې نه کړي.

د ۲۰۱۱ ز. په ډسمبر کې له عراقه د امريکا له وتلو وروسته دوو لويو پېښو د عراق جيوپولټيک ته د پام وړ بدلون ورکړ، کورنۍ جګړه او بيا د داعش او ځينو نورو سني ملاتړو ياغي ډلو راڅرګندېدل چې هلته د شيعه ملاتړو ډلو لپاره د ايران د پراخ ملاتړ لامل شو، شيعه جنګي ډلو ته د ايران ملاتړ د ايران لپاره ځينې لويې پايلې په لاس ورکړې چې له امله يې ايرانيان د عراق په کورني او بهرني سياست کې لويه ونډه لري.

## ب- په بحرين کې نيابتي جګړه

په بحرين کې د نفوذ او واک لپاره د ايران غوښتنه په خپل طبيعت کې خورا تاريخي ده؛ ځکه چې دا يو ډېر کوچنی هېواد دی چې د شيعه اکثريت نفوس يې له ۷۰ نه تر ۷۵ سلنې رسېږي او د سني الخليفه کورنۍ له خوا اداره کېږي، له ۱۹۷۰ز. مخکې ايران د بحرين پر ټوله جزيره د خپل بشپړ حاکميت غوښتنه کوله؛ خو دا ادعا د محمد رضا پهلوي او بريتانيا تر منځ د شوې معاملې له مخې لغوه شوه، د ۱۹۷۱ز. په وروستيو کې له خليجه د برتانيې له وتلو وروسته دغه کوچنی ټاپو تل د سعودي عربستان او ايران د رقابت لپاره مهم ټکی پاتې شوی، د بحرين د څېړنې موضوع د سعودي عربستان او ايران تر منځ د ستراتيژيکې سيالۍ د دوام په برخه کې خورا مهم دی، همدارنګه ياد دواړه هېوادونه په بحرين کې د خپلې سياسي اجنډا د نصبولو لپاره خورا پراخه سيالي کوي؛ ځکه چې دا ټاپو د سعودي عربستان د امنيت لپاره هم ډېر مهم دی، په ځانګړې توګه کوم ځای کې چې د ۲۵ کيلو مترو په اوږدوالي سعودي او بحرين د وصل نقطې لري [۸].

سربېره پر دې د سعودي عربستان امنيتي اندېښنې د دې حقيقت له مخې مشروع کېدای شي چې په هغه هېواد کې د ايران د تسلط په صورت کې دا به ډېر وخت و نه نيسي چې ايران په بېړني حالت کې سعوديانو ته سخت زيان ورسوي؛ ځکه چې له ايرانه الوتنه يوازې اته دقيقې وخت نيسي چې سعودي ته ورسېږي [۹].

نو د دغو امنیتي اندېښنو په لړلو سعودي عربستان هڅکله د بحرین په داخلي سیاست او همدارنګه د ایران په څېر د خپلو جیو- سیاسي او جیو ستراتیژیکو موخو په اړه جوړجاړی نه کوي، که جوړ جاړی وکړي؛ امکان لري ګټور ثابت شي، ولې کله چې د نیابتي جګړو تر چتر لاندې د واک د سیاست خبره راځي؛ نو دلته د سعودي عربستان او ایران داخلي نظرونه بیا توپیر سره لري، ایران د سلطنت په لګښت په ټوله سیمه کې خپل ایډیالوژیکي نفوذ پراخول غواړي چې دا چارې د سعودي پاچاهۍ په وضعیت پورې اړه لري؛ نو له همدې امله په بحرین کې د خلیفه کورنۍ نسکورېدل به د سعودي ګټو، امنیت او د ټولې سیمې د مشرۍ لپاره یو ګواښ وي (۱۰).

همدارنګه د ایران د حکومت له خوا د پټ ملاتړ له لارې څو هڅې وشوې چې یو یې په ۱۹۸۱ز. کې یوه ناکامه کودتا وه چې ایران د بحرین د ازادۍ لپاره د اسلامي جبهې ملاتړ وکړ او هڅه یې وکړه چې د هادي المدارسي په مشرۍ شیعه رژیم نصب کړي؛ خو کار یې ور نه کړ، سربېره پر دې د خلیفه د مشرتابه د نسکورولو په ورته هڅه کې په ۲۰۱۱ز. کې د عرب پسرلي په جریان کې د بحرین رژیم په وړاندې لوی لاریونونه پیل شول چې د GCC هېوادونه یې د ال خلیفه په ملاتړ کې مداخلې ته وهڅول، د بحرین په سیاست کې د داخلي تسلط لپاره د ایران له اوږدې مبارزې سره سره چې حتیٰ د شیعه نفوس اکثریت لري؛ اوس هم د سعودي حکومت د بحرین د سیاست په پرېکړو کې له ښه او ژور نفوذه برخمن دی او دا خبره د ډیپلوماټیکو پرېکړو له لارې څرګنده شوې ده، په ۲۰۱٦ ز. په تهران کې د سعودي پر سفارت د برید په اعتراض کې د سعودي عربستان د ګامونو په تعقیب د بحرین له خوا له ایران سره اړیکې پرې شوې چې دا د سعودي او بحرین د ملګرتیا یوه ښه بېلګه ده.

### ج-په یمن کې نیابتي جګړه

یمن د ۲۰۱۴ز. له پاڅونه مخکې تل د سعودي تر نفوذ لاندې ژوند کاوه، په یمن کې د ایران او سعودي عربستان تر منځ نیابتي جګړه په ۲۰۱۱ز. کې وروسته

له هغې زياته شوه؛ کله چې يمن سياسي کړکېچ ته لاره هواره کړه او د ولسمشر صالح په وړاندې لاريونونه پيل شول، تر دې چې خپله حکومت يې د گوښه کېدو لامل شو او په دې توگه حکومت عبد ربه منصور هادي ته وسپارل شو، د علي عبدالله صالح په مقابل کې منصور هادي عرب پلوه او د حوثيانو ضد شخصيت و چې ايران ته يې يو بل فرصت برابر کړ چې د هادي د حکومت پر ضد له حوثيانو سره خپل ملاتړ ته دوام ورکړي، د سعودي عربستان لپاره د حوثي ياغيانو ډلې واک تل د سلطنت امنيت ته يو احتمالي گواښ و؛ ځکه چې حوثي شيعه ډله ده چې د ايران له خوا يې ډاډمنېږي او د يمن په خلکو کې شهرت هم لري او له بلې خوا د سعوديانو برعکس ايرانيان تل د حوثي ډلو لوی خواخوږي دي (۱۱).

دلته د ايران او سعودي عربستان اړيکې هغه مهال سختې ترينگلې شوې؛ کله چې حوثي ياغيانو د ۲۰۱۴ ز. په سپټمبر کې د يمن په پلازمېنه بريد وکړ او د کودتا له ترسره کېدو وروسته يې د ټول هېواد د نيولو اعلان وکړ، دا په پراخه کچه استدلال کېږي چې لرې شوي ولسمشر علي عبدالله صالح د ايران په ملاتړ حوثيانو ته د پام وړ ملاتړ چمتو کړی و، سعودي عربستان د صنعا د محاصرې په ترڅ کې له حوثي ياغيانو سره د دوی د اشتعال او ناقانوني ملاتړ له امله په غوسه شو؛ خو په يمن کې د حوثي ياغيانو له خوا رامنځته شوی گواښ د سعوديانو لپاره د اندېښنې وړ او جدي لامل و؛ ځکه چې سعودي له يمن سره اوږده پوله لري او د سعودي امنيت ته د هر ډول احتمالي زيان اټکل ترې کېده؛ خو تر دې وړاندې د ۲۰۱۵ز. په مارچ کې د سعودي عربستان تر نظارت لاندې يو ايتلاف رامنځته شو چې د حوثيانو له خوا د پولې اخوا له کوم مهم گواښ سره مقابله وکړي؛ ځکه چې دوی په دې سيمه کې د ايران له مخ په ودې نفوذه وېره درلوده، په دغه ايتلاف کې شاوخوا ۳۹ غړي هېوادونه دي چې ځينې يې سرتېري ورکوي او نورو يې د الوتکو او کښتيو په گډون د لوژستيکي او مالي مرستو ژمنه کړې، اسلامي ايتلاف په يمن کې د حوثي ياغيانو تر ولکې لاندې سيمو کې په خاصه توگه د صعده په ولايت کې د حوثي ياغيانو پر موخو بريدونه

کوي او حوثي یاغیان د سعودي عربستان پر پوستو بریدونه کوي، دې نیابتي جګړې ځایي ښوزلو خلکو ته ډېر زیان رسولی او د یمن لپاره د ځواک مبارزه لا هم روانه ده [۱۲].

**د- په سوریه کې نیابتي جګړه**

په سوریه کې کورنۍ جګړه د سوریې د رژیم پر ضد د سوریې د سیمه ییزو خلکو له پاڅون سره پیل شوې ده؛ خو اوس د سیمې او نړۍ د قدرتونو لپاره د لوبې په ډګر بدله شوې، د سوریې جګړه یواځې د ایران او سعودي عربستان تر منځ نیابتي شخړو ته نه ده منصوبه؛ بلکې په سوریه کې د جګړې ځینې داخلي اړخونه هم شته [۱۳].

اوس ایران او سعودي عربستان د یو بل د ستراتیژیکو شتمنیو د مخنیوي لپاره د داخلي نیابتي جنګیالیو په ځپلو سره خپلو اجنډاو ته وده ورکړې، هغه ډلې چې د سوریې د جګړې د پرمخ بیولو مسؤلیت پر غاړه لري، ویل کېږي چې د دغو سیالو قدرتونو له خوا یې ملاتړ کېږي، په منځني ختیځ او نورو ځایونو کې د ډېرو نورو شخړو په څېر د سوریې جګړه یواځې د دوو اړخونو تر منځ په جګړې پورې محدوده نه ده، لکه په یمن، عراق او بحرین کې د ایران او سعودي عربستان سیالۍ؛ بلکې د سوریې په شخړه کې ښکېلې مهمې خواوې اوس د نړۍ قدرتونو ته پراخې شوې دي، د امریکا، روسیې او ترکیې په ګډون د یو مهم لوبغاړي په توګه د سوریې په پوله کې د مطلوبو عناصرو د ملاتړ او مخالفت لپاره خپل ماموریتونه ترسره کوي، ډېری وختونه ویل کېږي چې "زما د دښمن دښمن زما ملګری دی"؛ مګر په حقیقت کې دا خبره د سوریې په جګړه کې نه پلې کېږي [۱۴].

په سوریه کې شخړه یواځې د کردانو له امله ده چې د سوریې او ترکیې پر پوله ترکیې ته جدي ګواښ پېښوي او کردان وایي چې دوی نه د حکومت او نه هم د مخالفینو ملاتړ کوي؛ بلکې د ترکیې او اسلامي دولت پر ضد جنګېږي، په ورته وخت کې د ترکیې پوځ هم له سوریې سره پر پوله له اسلامي دولت سره

جګړه کوي، دا په دې معنا ده چې اسلامي دولت د ترکیې دښمن دی، ترکان هم په سوریه کې د کردانو د مشهور محافظت واحد (YPG) ملیشې د منع شوي کردستان کارګر ګوند (PKK) توسیع ګڼي چې له لسیزو راهیسې د ترکیې له پوځ سره جګړه کوي، په ورته ډول اسلامي دولت د بشارالاسد له رژیم سره جګړه کوي او غواړي چې د سوریې حکومت نسکور کړي؛ خو په ورته وخت کې دا له هغو یاغیانو ډلو هم په تاوتریخوالی سره مخالفت کوي چې هلته د سوریې له پوځ سره جنګیږي؛ خو بیا هم هغه دوه لوی ګوندونه چې د نیابتي جګړې تر چتر لاندې او د اسلامي دولت پر ضد د جګړې په بڼه د یو بل پر وړاندې په پټه جګړه کوي، امریکا او روسیه دي چې هر یو یې په ترتیب د سوریې په خاوره کې د ایران او سعودي عربستان ملاتړ کوي [۱۵].

همدارنګه د بشارالاسد رژیم د ایرانیانو پراخ ملاتړ کوونکی او په سیمه کې د ایران نږدې متحد دی، په سوریه کې د ایرانیانو ښکېلتیا هم د ستراتیژیکو ګټو د لینز له لارې لیدل کېدای شي؛ ځکه چې سوریه د لبنان حزب الله ته د ایراني وسلو د لېږد مرکزي ټرانزیټ ځای هم دی، له بلې خوا سعودي عربستان په سوریه کې ایراني موخو ته په منځني ختیځ کې د خپلو ګټو لپاره د ښکاره ګواښ په سترګه ګوري او همدا لامل دی چې سعودي عربستان په سوریه کې د ایران مداخله نه شي منلی چې اکثریت یې سني دي [۱۶].

سعودي عربستان د بشارالاسد د رژیم پر ضد د هغو یاغیانو ملاتړ کوي چې نه یواځې دا چې د سوریې او ایران اتحاد له منځه یوسي؛ بلکې د منځني ختیځ په دغه ستراتیژیک مهم هېواد کې د ایران د مخ په زیاتېدونکي نفوذ په وړاندې د هغوی ملاتړ لا زیات کړي، ایران د سوریې په شخړه کې خپل نقش مشروع ګڼي او پر ریاض یې غبرګ کړی چې د سوریې له جګړې نه دې لرې پاتې شي لکه څنګه چې په ۲۰۱٦ ز.کال کې د لوی درستیز مرستیال برید جنرال مسعود جزایري د سعودي عربستان د دې اقدام په غبرګون کې چې دغه هېواد ته یې د نورو الوتکو د استولو غوښتنه کړې وه.

ترکيې په سوريه کې د اسلامي دولت پر ضد خپلو عملياتو ته شدت ورکړی و او ويلي يې وو چې موږ به په يقين اجازه ور نه کړو چې په سوريه کې وضعيت هغه ډول پرمخ ولاړ شي چې ياغيان يې غواړي او موږ به په ټاکلي وخت کې اړين اقدامات ترسره کړو[۱۷].

د سوريې جګړه وروسته له هغې په نړيواله شخړه بدله شوه چې د ايران او سعودي عربستان په ګډون د نړۍ د نورو قدرتونو ګڼ ګوندونه پکې ښکېل شول، په سوريه کې پرله پسې جګړه ييز وضعيت زيربناوې تقريباً ويجاړې کړي او دولت په يوه جګړه ځپلي ښار بدل شوی او په ميليونونو زيانمن شوی ولس له خپلو هېوادونو بهر د مهاجرينو په توګه پنا اخيستې ده، د سوريې له کورنۍ جګړې وروسته او په سوريه کې د رواني جګړې له امله رامنځته شوې ويجاړتيا د سوريې ټولنې ته نه جبران کېدونکی زيان رسولی چې عادي حالت ته په راستنېدو به په لسيزو لسيزو وخت ونيسي، د دې ټولو شخړو له هر اړخيزې مطالعې وروسته له بده مرغه دا معلومه شوه چې د ترهګرۍ ضد جګړه د داعش او نورو ترهګرو سازمانونو د احتمالي ګواښ پر وړاندې له جدي اقداماتو پرته د سيالو قدرتونو تر منځ په جګړه بدل شوی دی.

**پايله**

ايران او سعودي عربستان هڅې کوي چې اسلامي مشري ترلاسه کړي او په منځني ختيځ کې ځان واک ته ورسوي، د دې واک د ترلاسه کولو لپاره سعودي عربستان امريکا ته زمينه برابره کړې چې په منځني ختيځ کې نظامي اډې ولري او د يوه فشار په توګه يې وکاروي، دا چې ايران له امريکا سره د مخامخ جګړې توان نه لري؛ نو د منځني ختيځ په هېوادونو کې يې نيابتي جنګي ډلې رامنځته کړي چې په دې سره يې سعودي عربستان د منځني ختيځ نورو هېوادونو او امريکا ته سرخوږی پيدا کړی؛ خو د دې اخوا چې امريکا په منځني ختيځ کې نظامي حضور لري او د سعودي عربستان له ملاتړ برخمن دی، د سعودي له ګټو پرته خپلې ګټې لټوي او له دې سيمې نه نهايي ګټه اخلي چې ټولو اسيايي هېوادونو په ځانګړې توګه عربي

هېوادونو او بیا چین، روسیې او ایران ته په اقتصادي، سیاسي او نورو برخو کې خطرونه متوجه کړي دي، امریکا غواړي له دې سیمې او اړو څخه اسیایي هېوادونه تر خپلې ولکې لاندې ونیسي او هغه څه وکړي چې د امریکا ګټې تضمینوي.

دا څېړنه په ګوته کوي چې که د ایران او سعودي عربستان سیالۍ او دوښمنۍ جریان پیدا کړي، نه یواځې په دې دوه هېوادونو؛ بلکې د سیمې پر نورو هېوادونو به یې هم اغېزې پرېوځي او د نړۍ نورو هېوادونو ته به زمینې برابرې شي چې لومړی په دې دوه هېوادونو کې اختلافات لا ژور شي او د سیمې په نورو هېوادونو کې به د جګړو اورونه بل شي چې ګټې به یې بل چا ته ورسېږي، د بېلګې په توګه یادونه کوو: کله چې د ایران او سعودي عربستان ستونزې را ولاړې شوې دي؛ ورځ تر بلې یې زیاتوالی پیدا کړی چې همدا زیاتوالی د بل چا په اشارو شوی، په داسې حال کې چې دواړه هېوادونه اسلامي دي او مسلمان وګړي لري، باید دواړو خواو خپلې ستونزې په اسلامي چوکاټ کې حل کړې وای.

له څېړنې دا هم معلومېږي چې ځینې هېوادونه دا غواړي چې جګړه د مسلمانانو منځ ته یوسي او د مسلمانانو تر منځ جګړه روانه وساتي چې ښه بېلګه یې د سني او شیعه جګړې دي؛ نو په همدې اساس دواړو خواو ته پکار دي چې دا او ورته نور موضوعات درک کړي او جګړې نور د مسلمانانو له منځه بهر کړي او اجازه ور نه کړي چې نور مسلمانان د جګړو قربانیان شي.

که ایران او یا هم سعودي عربستان غواړي چې د اسلامي نړۍ مشري او یا په منځني ختیځ کې د امنیت واک ترلاسه کړي، له هغو لارو چارو دې کار واخلي چې نورو هېوادونو ته د سر درد جوړ نه کړي او نه هم اسلام او اسلامي ارزښتونه زیانمن کړي، د دې دوه هېوادونو د ناسمو اړیکو له امله امریکا په منځني ختیځ کې خپل ځان ځای کړی چې د اسیا هرې سیمې ته په کمو امکاناتو ځان رسولی شي، افغانستان هم د دې دوه هېوادونو د ناسمو اړیکو تر اغېزو لاندې راغلی چې په ۲۰۰۱ز. کې امریکا له همدې اړو نه پر

افغانستان یرغل وکړ او د اسلامي امارت لومړنی حکومت یې وپرځاوه چې په پایله کې یې زرګونه افغانان شهیدان او افغانستان ته نور ډېر درانه زیانونه واوښتل.

**وړاندیزونه**

۱- د افغانستان اسلامي امارت ته وړاندیز کېږي چې لومړی د دغو دوو هېوادونو له رقابتونو ځان لرې وساتي او که د دوی د سولې لپاره کومه طرح وړاندې کولای شي؛ اغېز به یې د سیمې او مسلمانانو لپاره ګټور وي.

۲- منځنی ختیځ یواځې په سعودي عربستان او ایران پورې اړه نه لري، باید چې دا دوه هېوادونه د جګړو اغېزو ته پام وکړي او نور هغه عربي هېوادونه چې په منځني ختیځ کې موقیعیت لري؛ د جګړو له اوره خوندي وساتي.

۳- د دغو دوو هېوادونو د ناسالمې سیالۍ له امله د سیمې نورو هېوادونو ته په سیاسي، تجارتي او فرهنګي برخو کې زیان اوښتی، باید چې سعودي عربستان او ایران اغېزمنو ته د دې تاوان بیه ورکړي.

۴- سعودي عربستان او ایران د دوه مختلفو قطبونو غړي دي چې د هغوی سیاستونه یې اسلامي نړۍ ته راوړي، غوښتنه کېږي چې نور دې پردي سیاستونه سیمې ته نه راوړي او دا وګړي دې نه اغېزمنوي.

۵- د ایران او سعودي عربستان سیالي د نفوذ د زیاتوالي پر سر دی چې مذهبي بڼه لري، د دې دواړو لورو له مذهب نه ناوړه ګټه اخیستنه هم ډېرې بدې اغېزې لري، که دوی دې ته پام و نه کړي؛ د راتلونکې مسؤلیت یې په غاړه دی.

**مأخذونه**


1. Menashri, David , Iran: Doctrine and Reality in the Iran-Iraq War page 42-57, Palgrave Macmillan, London 1989. Access link: https://link.springer.com/chapter/10.1007/978-1-349-20050-44
2. Okruhlik, Gwenn, Saudi Arabian-Iranian Relations: External Rapprochement and Internal Consolidation. Middle East Policy, 10(2), page 113-125, 2003. Access link: https://onlinelibrary.wiley.com/doi/10.1111/1475-4967.00110

3. Furtig, Henner, Conflict and cooperation in the Persian Gulf: The interregional order and US policy. The Middle East Journal, 61(4), page 627-640, 2007. Access link: https://www.researchgate.net/publication/263759053_Conflict_and_Cooperation_in_the_Persian_Gulf_The_Interregional_Order_and_US_Policy
4. Wehrey F, Karasik, T.W. Nader, A. Ghez, J.J & Hansell, L. Saudi-Iranian relations since the fall of Saddam: Rivalry, cooperation, and implications for US Policy. Rand Corporation, 2009.
۵. سید محمد حسيني، احسانه محمد، هویت، قدرت، امنیت (جمهوری اسلامی ایران و عربستان سعودی)، سال دوازدهم، شماره ۴۲ ، بهار ۱۳۹۷، لینک دسترسي: https://www.sid.ir/paper/507986/fa
6. دوست محمدی، احمد و رجبی، محمد (عربستان سعودی و تهدید امنیتی جمهوری اسلامی ایران)، فصلنامه ۱۹۸۳، دوره ۱۹ ، شماره ۱، لینک دسترسی: https://www.sid.ir/paper/955297/fa
7. Shahram Chubin, Iran's power in context. Survival, 51(1), page 165-190, 2009. Access link: https://www.tandfonline.com/doi/abs/10.1080/00396330902749772
8. Mabon, S, after years of proxy war, Saudi Arabia and Iran are finally squaring up in the open. The Independent , January 5, 2016.
9. Cordesman, A. H. Bahrain, Oman, Qatar, and the Uae: Challenges of Security, Csis Middle East Dynamic Net Assessment 1997.
10. Downs, K, A theoretical analysis of the Saudi-Iranian rivalry in Bahrain. Journal of Politics & International Studies, 08. 13. 2012. Access link: https://www.semanticscholar.org/paper/A-Theoretical-Analysis-of-the-Saudi-Iranian-Rivalry-Downs/150ae5d18ebbdb76b06a16c541f0e7d79dbb6500
۱۱. نجات، سیدعلی، موسوی، سید راضیه و صارمی، محمدرضا (راهبرد عربستان سعودی و جمهوری اسلامی ایران در قبال بحران یمن)) ، فصلنامه مطالعات روابط بینالملل، سال نهم ، ۱۳۹۵ ، شماره ۳۳ ، لینک دسترسی: https://www.sid.ir/FileServer/JF/6014213953304

12. دوست محمدی، احمد و رجبی، محمد (عربستان سعودی و تهدید امنیتی جمهوری اسلامی ایران)، فصلنامه سیاست، دوره ۴۸ ، شماره ۴، ۱۳۹۷، ص ۱۹-۲۱ ، لینک دسترسی:

13. https://www.sid.ir/paper/955297/fa#downloadbottom

14. Christopher Phillips, The battle for Syria: international rivalry in the new Middle East, Yale University Press 2016. Access link: https://www.jstor.org/stable/j.ctv1k03s4j

۱۵. اخوان كاظمي، بهرام، (( واگرایی ها و همگرایی ها در روابط ایران و عربستان سعودي)) ، فصلنامه مطالعات خاور میانه، سال هفتم، شماره ۲

16. یزدانی، عنایت الله، حسین زاده و سید سعید، (( رویکرد سیاست خارجی عربستان سعودي و امریکا در قبال بحران یمن ۲۰۱۱ – ۲۰۱۵))، فصلنامه سیاست دوره ۴۸، شماره ۴، ص ۷۵ – ۹۲، لینک دسترسی: https://www.sid.ir/paper/950302/fa

۱۷. محسن رستمی ، عبدالرضا فرجیراد، لیلا مدبر، ایرج شاهوردی، (سناریوهای سیاسی متأثر از روابط خارجی ایران و عربستان پس از تحولات منطقه عربی)، فصلنامه مطالعات دفاعی استراتژيك، سال هفدهم، شماره ٧٦ تابستان ۱۳۹۸، ص ۱۸۴-۱٦۳ لینک دسترسی:

18. https://www.magiran.com/paper/2038642/

19. Barrans, T, Turkey-Iran relations: pragmatic economics & the ideological ceiling to strategic relations 2016. Access link: https://papers.ssrn.com/sol3/papers.cfm?abstract_id=2719980

محقق زهره محمدزی

# بررسی الگوی های اقتصادی چین

# China’s Economic Models Review

Asst. Prof. Zohra Mohammadzai


## Abstract

Before economic reforms and trade liberalization began, China maintained policies that kept the economy very weak, stagnant, centrally controlled, highly inefficient, and relatively isolated from the world economy.

Chinese leaders launched economic reform programs to access development. The government established four special economic zones along the coast to attract foreign investment, boost exports and imports of high-tech products to China.

Economic reforms made China the world's largest economic producer, commodity trader and holder of foreign exchange reserves.

China has been one of the fastest growing economies in the world since the opening of foreign trade and investment and the implementation of free market reforms. This, in turn, has made the country a major trading partner in the region and the world. Considering these cases, in this discussion we will examine the economic models used by Chinese leaders.

## چکیده

چین قبل از انجام اصلاحات اقتصادی و آزاد سازی تجارت، یک کشور فقیربا اقتصاد ضعیف، تحت کنترول و منزوی در بازار های تجارت جهانی بود. رهبران آن کشور برای دسترسی به توسعه و پیشرفت در عرصه اقتصاد برنامه های اصلاحی را روی دست گرفتند. آن ها سیاست درهای باز را اعلام نمودند و مناطق ساحلی را به هدف تقویت صادرات و واردات، جذب سرمایه گذاری های خارجی و دسترسی به محصولات با تکنالوژی پیشرفته؛ به عنوان مناطق ویژه تجاری ایجاد کردند.

برنامه های اقتصادی چین باعث شد که آن کشور مبدل به بزرگترین تولیدکننده، فروشنده کالا های مصرفی و دارنده بیشترین ذخایر ارزی در جهان گردد. به این ترتیب چین از زمان باز نمودن درهای این کشور به روی تجارت، سرمایه گذاری خارجی و بازار آزاد، به یکی از بزرگ ترین اقتصادها مبدل شده است و این به نوبه خود آن کشور را به شریک تجاری بزرگ منطقه و جهان معرفی نموده است. با توجه به این موارد در بحث حاضر، مدل‌های اقتصادی که رهبران چین از آن برای ارتقای جایگاه کشور شان استفاده کرده اند را بررسی خواهیم کرد.

**مقدمه**

چین در عصر حاضر به مثابه یکی از بزرگ‌ترین قدرت های اقتصادی جهان شناخته می‌شود. سیاسیون آن کشور، سال‌ها قبل با آغاز فرایند اصلاحات و ارائه الگوهای مشخص اقتصادی توانستند، جایگاه کشور شان را از یک سرزمین فقیر و پرجمعیت به یکی از توان‌مند ترین اقتصاد ها در سطح جهان مبدل نمایند. اصلاحات اقتصادی که توسط رهبران سیاسی چین اتخاذ گردیده بود، تحولات مثبت و قابل توجه را در عرصه‌های مختلف نصیب آن کشور نموده است. بعد از اجرای راهکارهای اصلاحی، چینایی‌ها شاهد ثبات، توسعه و اتکاء به خود در عرصهٔ بین المللی شدند. آن‌ها در قالب فعالیت‌های اقتصادی و تجاری توانستند وارد تعاملات معنی دار با قدرت های بزرگ جهان گردند. اصلاحات اقتصادی چین به مثابهٔ محرک فعالیت‌های آن کشور در آسیا و فراتر از آن قرار گرفت و در حال حاضر باعث ارتقای جایگاه آن کشور شده است. امروزه محصولات تجارتی چین بازار های آسیا، اروپا، افریقا و غیره کشورهای جهان را تسخیر نموده و چین شاهد جذب بیشترین سرمایه گذاران خارجی گردیده است.

الگو های اقتصادی را که چین در چارچوب اصلاحات پی‌گیری می‌نماید، وضعیت مالی و تجاری را در آن کشور متحول نموده است. سیاست و مارکیت تجاری چین تحت برنامه های مذکور در حال گذار از اقتصاد برنامه ریزی شده از

مرکز به سوی اقتصاد بازار آزاد می‌باشد و با گذر زمان چین به یکی از بازیگران مهم در بازار های مالی جهان مبدل می‌شود. بناءً در مبحث حاضر سوال اصلی را برای بررسی و درک دقیق از الگو های اقتصادی چین که در چارچوب برنامه های اصلاحی از جانب رهبران آن کشور ارایه شده است، چنین مطرح می نمایم که: چین در مسیر توسعه و تقویت ظرفیت های اقتصادی چگونه مراحل و مشخصاً چه برنامه های را اتخاد و اجرا نموده است؟

به فرض می توان گفت که رهبران چین برای تقویت و توسعه ظرفیت های اقتصادی برنامه های مشخصی را چون اتخاذ سیاست درهای باز، سوسیالیسم به سبک چینایی، ایجاد مناطق ویژه تجاری و غیره را با توجه به گذار از اقتصاد بسته سوسیالیستی به طرف اقتصاد بازار آزاد پی گیری نمودند. که اثر بخشی قابل ملاحظه را در کاهش فقر و ارتقای جایگاه آن کشور در عرصه بین المللی گذاشته است.

**هدف**

از نگارش مقاله حاضر شناخت الگو ها، عملکرد و برنامه های اصلاحی چین است، که تطبیق آن منجر به ارتقای جایگاه یک کشور فقیر به اقتصاد دوم جهان گردیده است. بررسی الگوی های رفتاری مدیران سیاسی چین که منجر به برتری جایگاه اقتصادی آن کشور در سطح جهان شده.

**اهمیت و مبرمیت موضوع**

برای استفاده جهت توسعه تجارت و اقتصاد افغانستان از اهمیت و مبرمیت موضوع می باشد. بحث حاضر در چارچوب مواردی چون آغاز روند اصلاحات اقتصادی، اتخاذ سیاست درهای باز، سوسیالیسم به سبک چینایی، مناطق ویژه تجاری و جذب سرمایه گذاری‌های خارجی سازماندهی است.

**روش موضوع**

روش موضوع کتاب خانه‌یی و انترنتی نگاشته شده است.

**آغاز روند اصلاحات اقتصادی**

چین قبل از آغاز اصلاحات اقتصادی، یک کشور فقیر و پرجمعیت با اقتصاد متکی به زراعت محلی بود. اکثریت نفوذ آن کشور فقیر بودند و با برداشت محصولات زراعتی امرار حیات می‌نمودند. چینایی ها قبل از اتخاذ برنامه های اصلاحی، تلاش هایی را به هدف سوسیالیستی نمودن اقتصاد آن کشور انجام داده بودند. اهداف آن‌ها در قالب مواردی چون استقلال، خودمختاری اقتصادی، تقویت بنیادهای دفاعی، رسیدن به فراوانی در ثروت ملی و هم‌سطح شدن با قدرت های بزرگ شکل گرفته بود (۱).

ولی تلاش برای رسیدن به اهداف یاد شده نتیجه نداد و برعکس منجر به بدتر شدن اوضاع اقتصادی- اجتماعی آن کشور گردید. طوری که اقتصاد چین بعد از انقلاب سوسیالیستی طی سال های ۱۹۹۴ تا ۱۹۹۷ دستخوش تحولات عظیمی شد و چینایی‌ها در این مقطع زمانی اصلاحات ارضی، الگو برداری از فعالیت‌های اقتصادی شوروی سابق، توجه به تولیدات صنعتی و برنامه جهش به جلو را تجربه نمودند. راهکارهای مذکور به جای این‌که باعث ترقی و تقویت سیستم های اقتصادی شود، منجر به تحمیل رنج و فقر طاقت فرسایی بر آن‌ها گردید. در اثر تطبیق برنامه‌های یاد شده بعد از انقلاب سوسیالیستی حدوداً ۳۰ تا ۴۰ میلیون نفر در مناطق روستایی چین بر اثر گرسنگی هلاک شدند(۲).

ولی بعد از مرگ مائو و به قدرت رسیدن رهبران اصلاح طلب، برنامه‌های اقتصادی که قبلاً راه اندازی شده بود، جای‌شان را به برنامه‌های اصلاحی جدید داده و روح تازه به کالبد اقتصاد چین دمیده شد. رهبران دریافتند که روش های سنتی مدیریت اقتصاد فاقد کارآیی بوده، بناءً آن ها اجرای سیاست های نوین اقتصادی را دنبال نمودند. اصلاح طلبان چین ضمن حفظ حاکمیت عمومی، اجرای راهکارهای چون افزایش قیمت محصولات زراعتی از سوی دولت جهت تشویق و ایجاد تنوع در محصولات مذکور، شغل زایی و سیاست اقتصادی

درهای باز را اتخاذ کردند، که منجر به بهبود شرایط زندگی مردم و ارتقای جایگاه آن کشور گردید(۳).

به این ترتیب چینایی‌های که بعد از انقلاب به هدف دستیابی به توسعه اقتصادی، کمر به سوسیالیستی نمودن سیستم اقتصاد بسته بودند، با کاربرد اقتصاد درهای باز به آن هدف رسیدند و شاهد پیشرفت‌های شگفت انگیز در عرصه اقتصادی شدند، که در نهایت منجر به ارتقای جایگاه سیاسی- نظامی، اجتماعی و اقتصادی آن کشور نیز گردیده است.

اصلاحات اقتصادی و برنامه‌های توسعه‌یی که ما به عنوان الگوهای رفتار اقتصادی چین در این مبحث مطالعه می‌نمایم، با روی کار آمدن اصلاح طلبان چون دنگ شیائوپنگ و تیم همراه او آغاز شد، آن‌ها، ارزیابی جدی از وضعیت کشور شان داشتند و با توجه به تحولات اقتصادی جهان بسیاری از سیاست‌ها را تغییر دادند. دنگ با اتخاذ راهبرد جدید، از ظرفیت‌های چین برای توسعه اقتصادی استفاده کرد و نتایج چشمگیری را بدست آورد. ادامه سیاست‌های اقتصادی او توانست بر اندیشه سوسیالیسم نیز تغییر وارد کند. تحول سیستم مدیریتی و اقتصادی تحت رهبری وی چین را به یکی از قدرت‌های اقتصادی و تجاری در سطح بین الملل مبدل نمود. از دیگر اقدامات دنگ در راستای تقویت اقتصاد راهکاری تحت عنوان چهار برنامه بود، که حوزه های زیر بنایی چون زراعت، صنعت، تکنالوژی و نیروهای نظامی را در بر میگرفت.(٤) برای اجرایی شدن اصلاحات در بخش‌های یاد آوری شده تلاش ها به هدف جذب سرمایه‌گذاری خارجی، اجازه دادن به فعالیت‌های گسترده در بخش خصوصی، استفاده از تکنالوژی‌های مدرن و انعطاف پذیری مدیران داخلی صورت گرفت.

سیاست‌های اقتصادی که بواسطه دنگ آغاز گردیده بود توسط رهبران بعدی نیز تعقیب شد و هریک از مدیران سیاسی آن کشور به نوبه خود با ارایه راهکار جدید توانستند در اعمار اقتصادی نقش ایفا نمایند. به این ترتیب بعد از دنگ نیز رهبران سیاسی با پیروی راهکارهای مشخص به توسعه اقتصادی کشور

شان متعهد گردیدند. طوری‌که جیانگ زمین سیاست‌های اقتصادی ذیل را اجرایی نمود:

ایجاد مناطق ویژه جغرافیایی به هدف تقویت صادرات؛

بهره برداری از سرمایه خارجی؛

تمرکز بالای تقویت تولیدات داخلی و صادرات آن؛

ارایه حق صادرات مستقیم به کمپنی‌ها؛

برقراری قرارداد های نظامند؛

ایجاد شرکت های بزرگ به هدف و تقویت رقابت در بازار های جهانی(۵).

از سوی دیگر چینایی‌ها به هدف کسب منافع و ایجاد سهولت در داد و ستد تجاری، در کنار فعالیت بانک‌های دولتی به بانک‌های خارجی نیز فرصت دادند که وارد نظام اقتصادی آن کشور گردند. با ایجاد بانک‌های خارجی مبادلات پولی سرمایه‌گذاران و غیره فعالان اقتصادی به راحتی انجام می‌پذیرد.

در ادامه اصلاحات اقتصادی، هوجین تاهو با پی‌گیری برنامه‌های رهبران قبلی سیاست درهای باز را عاملی برای جذب سرمایه گذاران خارجی دانسته با الحاق مجدد هنگ گنگ و ماکائو به چین اقدامی را به هدف استقرار نظام یک کشور دو سیستم، انجام داد. بر علاوهٔ این که سرمایه‌گذاری‌های خارجی را وارد سرزمین اصلی نمود، اشتراکات فرهنگی چین را با کشور های جهان نیز تقویت نمود. در کنار اجرای راهکارهای مذکور پیشرفت قابل ملاحظه در بخش‌های علمی و تکنالوژیکی چون ارتباطات و اطلاعات همچنان افزایش یافت. چین در چارچوب برنامه های اصلاحی تا پایان سال ۲۰۰۷ به بزرگترین تولید کننده تکنالوژی مبدل شده بود و دست بالایی در خرید و فروش وسایل تکنالوژیکی پیدا نمود. قسمی که در سال ۲۰۰۴ شرکت چینایی LENOVO که در عرصه تکنالوژی فعالیت می کرد، شرکت امریکایی IBM را خریداری کرد(٦).

که نشانگر ارتقای ظرفیت اقتصادی چین در عرصه فعالیت های تکنالوژیکی بود علاوه بر آن رهبران چین در راستای اجرای اصلاحات و به این

هدف که تجارت خارجی را توسعه بخشند، با جذب سرمایه گذارای‌های خارجی توانستند اقتصاد خود را با اقتصاد جهان پیوند داده و منافع متقابل را در روابط خود با قدرت های کلان شکل دهند.

مدیران اصلاح طلب چین در کنار توجه بر توسعه اقتصادی، تلاش‌های را به هدف تامین عدالت اجتماعی، توزیع عادلانه در آمدها، کم کردن فاصله طبقاتی میان مناطق مختلف کشور و برنامه ریزی های عمرانی و توسعه ای مانند Toword West یا به طرف غرب را روی دست گرفتند. آنان در چارچوب برنامه های یاد شده تلاش‌های را به هدف مدرنیزه کردن مناطق غربی انجام می‌دهند و کوشش می‌نمایند تا در کنار تقویت اقتصاد خارجی؛ نابرابری های داخلی را کمرنگ نموده و رفاه اجتماعی ایجاد کنند. در ادامه فرایند اصلاحات و برنامه ریزی رهبران چین به هدف توسعه و دسترسی به پیشرفت اقتصادی، شی جین پینگ با طرح و تطبیق برنامه‌هایی چون رویای چینی و پروژه کمربند و راه؛ وعده رنسانس بزرگی را در عرصه اقتصادی برای چینایی‌ها داد و فعالیت‌های او توانست عملاً برنامه های اقتصادی چین را در منطقه و فراتر از منطقه اجرایی نماید.

بدین ملحوظ دولت چین در چارچوب برنامه های اصلاحی رهبران آن کشور از دنگ تا شی؛ دو بُعد را در نظر گرفته است. بُعد خارجی که بر برقراری روابط اقتصادی با دولت‌های خارجی به خصوص کشورهای اروپایی، امریکا و جاپان تاکید دارد و بُعد داخلی که در بر گیرنده تغییر نظام اقتصادی دولتی به نظام اقتصادی بازار به هدف جذب سرمایه‌گذارهای خارجی و توسعه رفاه ملی می‌باشد و همچنان آن‌ها تلاش‌هایی را به هدف تامین عدالت اجتماعی و رفع نابرابری انجام می‌دهند.

**برنامه های توسعه ای اقتصاد چین**

دولت چین تحت رهبری مدیران اصلاح طلب برای رسیدن به توسعه اقتصادی راهکارهای متفاوت را در چارچوب پالیسی های اقتصادی- سیاسی پی‌گیری نمودند. تلاش های که رهبران چین برای رسیدن به توسعه انجام

دادند، جواب مثبت داد و این کشور را مبدل به یکی از بزرگترین اقتصاد های جهان نموده است. از برجسته ترین ویژگی های اصلاحات چین این است که در کنار توسعه و پیشرفت اقتصادی؛ منجر به تامین ثبات سیاسی و تقویت نظام آن کشور گردیده است.

در این بخش بحث برنامه‌های را که سیاسیون چین در چارچوب اصلاحات پی‌گیری نموده اند، را به مثابه الگو های اقتصادی آن کشور مورد مطالعه قرار میدهیم:

سیاست درهای باز؛

سوسیالیسم چینایی؛

مناطق ویژه تجاری؛

جذب سرمایه گذاری‌های خارجی ؛

رویای چینایی.

**۱- سیاست درهای باز**

دنگ شیایوپنگ با اندیشه جدید برای متحول نمودن جایگاه اقتصادی چین، آغاز به راه اندازی روند اصلاحات نمود. وی در اقدامی جسورانه در های چین را به روی بازار آزاد و سرمایه گذاران خارجی و فرایند بازار آزاد باز نمود، سیاست یاد شده منجر به پذیرش صاحبان سرمایه و تکنالوژی شد و نهایتاً برنامه‌های توسعه‌ای دنگ و دیگر رهبران با گذشت زمان توانست چین را به یکی از غول‌های اقتصادی جهان مبدل نماید. سیاسیون چین به هدف تقویت و توسعه اقتصاد در گام نخست سیاست درهای باز را اعلام نمودند، که مطابق آن بازار آزاد نقش عمده در تحولات اقتصادی آن کشور یافت و روابط خارجی آن‌ها با دول دیگر در چارچوب اهدافی چون تقویت تجارت و جذب سرمایه گذاران انجام می‌پذیرفت. در راستا اجرای تحولات، بخش صنعتی نیز اصلاحات را تجربه نمود و سهم دولت در تولیدات صنعتی کاهش یافت. در کنار سیاست درهای باز اقداماتی چون اجرای تخفیف در وضع مالیات بر شرکت‌ها، اصلاح

نظام دستمزد و انحلال سیستم تک بانکی همچنان روی دست گرفته شد، که نهایتاً منجر به توسعه تجارت و تاسیس بانک‌های متعدد گردید. به این ترتیب رهبران چین با اجرای سیاست درهای باز اقتصاد سوسیالیستی مبتنی بر بازار آزاد را به عنوان هدف ملی پذیرفتند(۷).

با اجرای برنامه‌های اصلاحی شرایط اقتصادی چین متحول شد و با وجود جمعیت زیاد و محدودیت‌های فراوان، چین توانست به توسعه برسد. هدف از گشایش درهای چین به روی سرمایه گذاران خارجی، بهره برداری و استفاده از امکانات کشورهای دیگر بود. رهبران چین توانستند با آزاد سازی سرمایه گذاری‌های خارجی در کشور شان بخش خصوصی را فعال نمایند؛ با فعال شدن بخش خصوصی آن‌ها از علوم و تکنالوژی کشورهای توسعه یافته بهره برداری نمودند. از سوی دیگر منافع که در نتیجه اجرای راهکار های اصلاحی نصیب چینایی‌ها شده است؛ منجر به انعطاف پذیری مدیران سیاسی آن کشور گردید و در نهایت چین توانست با استفاده از سرمایه گذاری‌های خارجی، جذب تکنالوژی مدرن و پیوند با اقتصاد جهان از منابع کشورهای دیگر به نفع خود استفاده نماید.

اعلام و اجرای سیاست درهای باز از جانب دولت چین به معنای کنار گذاشتن دیدگاه سوسیالیستی در ارتباطات اقتصادی آن کشور با نظام بین المللی بود. در این چارچوب سیاست خارجی دولت چین دیدگاه سوسیالیستی را در عرصه تعاملات اقتصادی با کشورهای دیگر کنار گذاشت تا بتواند در عرصه معاملات مالی و تجاری با بهره برداری بهتر از منابع موجود در جهان، ظرفیت‌های زیر بنایی کشور خود را رشد دهد. چون دنگ علل عقب مانی اقتصاد را بسته بودن در های آن کشور به روی جهان خارج می‌دانست او متعقد بود که: بعد از تاسیس جمهوری خلق چین کشور های جهان چین را طرد نمودند بنابر آن در های آن کشور به روی ظرفیت های خارجی بسته مانده و

تجربه چندین ساله از چنان وضعیت نشان داد، که در های بسته مانع پیشرفت آن کشور گردیده است(۸).

به این ترتیب وی درهای اقتصاد چین را برای تأمین معاملات تجاری با تمام کشورهای جهان باز نمود. دنگ شیائوپنگ با ارائه سیاست در های باز بر ضرورت انکشاف و ترقی تاکید می‌کرد. وی باورمند بود که دوام مشروعیت سیاسی رهبران چین به توسعه اقتصادی بستگی دارد. از این رو می باید با حفظ وحدت و امنیت داخلی، با استفاده از رویکرد نظام اقتصادی بازار آزاد، در مسیر تحولات گام برداشته شود(۹).

به این ترتیب هدف اولیه دولت چین ایجاد نظام توانمند بود که رشد اقتصادی را به صورت مداوم و متعادل تضمین نماید بناءً آن ها با اتخاذ سیاست درهای باز به هدف یاد شده نزدیک گردید. همگام با کنار گذاشتن سیستم اقتصاد متمرکز و تاکید بر سیستم اقتصادی بازار؛ توسعه و تقویت نیروی کار، افزایش تکنالوژی، سرمایه و کالا یکی بعد دیگری در آن کشور ظاهر گردید. طوری‌که در حال حاضر سیستم اقتصاد متمرکز جای خود را به سیستم اقتصاد بازار آزاد سوسیالیستی داده است. اکنون اقتصاد متمرکز آن کشور به سیستمی مبدل شده است که بیشتر تابع تحولات بازار می‌باشد و بخش خصوصی آن رشد قابل توجه نموده است. بدین ملحوظ چین تحت شرایط یاد شده و پی گیری اقتصاد بازار توسعه را در بخش های مختلف خصوصاً در عرصه اقتصادی شاهد می‌باشد. طوری که براساس تازه‌ترین آمارها، تولید ناخالص داخلی چین در سه ماه اول سال ۲۰۲۴ حدوداً ۵,۳ درصد نسبت به سال ۲۰۲۳م. رشد کرده است و در بحبوحه تلاش‌های بیجنگ برای رسیدن به جایگاه دومین اقتصاد بزرگ جهان با محوریت تولید، از انتظارات فراتر رفته است. بنابر این رشد اقتصادی آن کشور در سه ماهه اول سال، رشد ٤,٦ درصدی را پشت‌سر گذاشتانده است(۱۰).

بنا بر این مدیران سیاسی چین با تطبیق سیاست درهای باز توانستند به شیوه مسالمت آمیز دوران گذار از جامعه سنتی به جامعه مدرن را سپری کنند و کشور خود را وارد دوران و عصر جهانی شدن نمایند. راهکار مذکور در کنار ادغام اقتصاد چین به جهان؛ در بُعد سیاسی توانست چین را که دنبال مخالفت با غرب بود، شاهد ارتباطات گسترده با کشورهای غربی نماید. چین با تعقیب چنین راهکار ها در سال ۱۹۹۱ به عضویت گروه همکاری اقتصادی آسیا اقیانوسیه در آمد، در سال ۱۹۹۴ به عنوان یکی از کشور های انجمن تولید کنندگان در جهان پذیرفته شد، در جنوری ۱۹۹۵ برای حضور در سازمان تجارت جهانی تلاش های زیادی نمود و نهایتاً در سال ۲۰۰۱م به عضویت سازمان تجارت جهانی پذیرفته شد.

اهدافی را که چین در قالب سیاست درهای باز پی‌گیری می نماید مواردی چون جذب سرمایه، توسعه صادرات و واردات، افزایش تولیدات صنعتی، تنوع بخشیدن در مصرف انرژی، افزایش امنیت انرژی، افزایش کارآیی و انرژی، بهبود فعالیت در زمینه وضع قوانین و مقرارت لازم در حمایت از محیط زیست می‌باشد. نهایتاً سیاست در های باز تا حدی منجر به لغو تحریم اقتصادی چین، ورود فزاینده تکنالوژی پیشرفته به آن کشور، انعقاد قرار داد های تجارتی برای جلب سرمایه گذاران خارجی، پذیرفتن قواعد بین المللی توسط دولت چین و تغییر ساختار اقتصادی آن کشور گردید.

**(۲) سوسیالیسم چینایی**

دولت و رهبران چین در راستای تطبیق اصلاحات و مدرن نمودن سیستم اقتصادی آن کشور، راهکاری را تحت عنوان سوسیالیسم با خصوصیات چینایی اتخاذ نمود و مدیران سیاسی به هدف تطبیق اصلاحات سوسیالیسم را به سبک جدید ارایه نمودند. ایده سوسیالیسم توسط افکار و دیدگاه رهبران اصلاح طلب باز تعریف گردیده است. سوسیالیسم بومی چین تحت عنوان سوسیالیسم با خصوصیات چینایی معرفی گردید.

در کنگره پانزدهم حزب کمونست چین عقاید دنگ در مورد سوسیالیسم با ویژگی های چینایی شکل تیوریک را به خود گرفت و به عنوان یک اصطلاح ایدیولوژیک درج اساسنامه حزب گردید. دنگ در آغاز روند اصلاحات اقتصادی به این نکته تاکید کرد که، او نمی تواند تحمل کند که کشور پر جمعیت مانند چین به خدمت نظام سرمایه داری قرار گیرد. پس می بایست سوسیالیسم را طوری به روز کرد و آن را قادر ساخت تا از تنگنای که در آن قرار گرفته است، خارج شود(۱۱).

هدف آن ها از اتخاذ سوسیالیسم چینایی و باز تعریف ایدیولوژی مذکور رهایی از مدل سوسیالیسم شوروی بود. رهبران چین تلاش می‌نمودند تا مسیر جدیدی را برای توسعه اتخاذ نمایند. به این ترتیب آن ها سوسیالیسمی را که دارای ویژگی های چینایی باشد، اعلام کردند. در چارچوب سوسیالیسم با چنان ویژگی بهبود نظام اقتصادی با محوریت مالکیت عمومی سوسیالیستی و توسعه مشترک مالکیت های چندگانه اقتصادی، توسعه سیاست بازار های آزاد و.... اجرا می‌گردد(۱۲).

دنگ به این باور بود که سوسیالیسم باید قبل از همه موارد دیگر رشد دهنده نیرو های مولد باشد؛ بنابر آن او اقتصاد بازار سوسیالیستی را معرفی نمود(۱۳).

در ادامه تطبیق راهکار مذکور شرکت ها و موسسات تولیدی فعالیت های خود را تابع قوانین بازار تنظیم کردند. در قالب راهکار سوسیالیسم با ویژگی های چینی اهدافی چون ازدیاد تولید ناخالص داخلی (GNP) دنبال می‌گردد. با تطبیق و استفاده از راهکار مذکور آن‌ها توانستند که کمبود مواد غذایی و پوشاک را در کشور شان پایان دهند و تا سال ۲۰۰۰م. تولید ناخالص داخلی چین چهار برابر شد(۱۴).

در این چارچوب شرکت های مشترک با سرمایه چینایی و خارجی ایجاد گردید و در دهه ۱۹۸۰ شرکت های مشترک خارجی و چینایی حدوداً به تعداد

۲۳٦۰۰۰ واحد رسیده بودند. چین توانست در گام های نخست از شرکت های مختلط به اندازه ۳۰۳ میلیارد یوان سرمایه خارجی جذب نماید(۱۵).

کارآیی شرکت های مذکور در راستای بهبود زندگی روزمره مردم، افزایش سرمایه، افزایش در تولید و استفاده تکنالوژی تاثیرات قابل ملاحظه گذاشته است. پس باید گفت که اتخاذ راهکار سوسیالیسم با خصوصیات چینایی در توسعه اقتصاد و ارتقای جایگاه چین اثرات مثبت و قابل ملاحظه گذاشته است.

### ۳- مناطق ویژه اقتصادی

احداث مناطق ویژه اقتصادی در کنار اجرای راهکارهای دیگر چون سیاست درهای باز و سوسیالیسم چینایی در قالب برنامه های توسعه یی برای تقویت تجارت، به هدف ترویج صادرات و افزایش ثروت ملی ایجاد شده است. اختصاص دادن برخی مناطق به عنوان مناطق ویژه اقتصادی نشاندهنده آزادسازی اقتصاد برای جذب سرمایه به منظور ارتقای جایگاه جهانی چین می‌باشد. در این راستا دولت چین مناطق «گواندونگ Guangdong، فوجیان Fujian، شن ژن Shenzhen، ژوهای Zhuhae، شانتو Shantoa» را بعد از سال ۱۹۸۰م به عنوان مناطق ویژه اقتصادی معرفی کرد(۱٦).

مناطق مذکور به دلیل موقعیت آن‌ها در تقویت و ترویج تجارت و دسترسی به مناطق مرزی و بندری به عنوان مناطق ویژه جهت انجام فعالیت‌های اقتصادی و تجاری معرفی شدند. ایالت‌های یاد شده ظرفیت گسترش تجارت را داشته و نقش بارزی را در زمینه موفقیت برنامه‌های اصلاحی آن کشور ایفا نموده است.

هدف از ایجاد مناطق ویژه توسعه همکاری‌های اقتصادی در مناطق مرزی برای مبادلات، ایجاد فرصت‌های شغلی، استفاده و بهره برداری از تجارب اقتصادی کشورهای دیگر، توسعه همکاری‌های تکنالوژیکی و گسترش تجارت خارجی می‌باشد(۱۷).

طوری‌که با ایجاد مناطق ویژه اقتصادی صنایع سبک ایالت گواندوگ که شامل وسایل برقی، پوشاک و اسباب بازی می‌شد، در ظرف یازده سال بیست و

شش برابر گردید، یعنی از ۸۰۰ میلیون دالر در سال ۱۹۸۲م به بیش از ۲۰ میلیارد دالر در سال ۱۹۹۳ رسید(۱۸).

